۱۴۰۱

# جالبه معلومات

په پښتو ژبه

ليکوال محمد مبارک

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مهم معلومات

| د کتاب نوم | ستر حقیقنونه |
|---|---|
| لیکوال | محمود (بارک) |
| د چاپ کال | ۱۴۰۱ |
| د چاپ شمیره | ۱۰ |
| د چاپ ټوک | ۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



فهرست:


| شماره | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | افغان جگړه اغیزه | ۶ |
| ۲ | د امریکا هډې | ۴۱ |
| ۳ | احرام مصر | ۴۴ |
| ۴ | ده افغانستان لیتیم | ۵۲ |
| ۵ | برمودا مثلث | ۵۹ |
| ۶ | فلسطین | ۶۹ |
| ۷ | ده افغانستان لویه لار | ۷۳ |
| ۸ | په انټرنیټ کي ده پیسو ګټل | ۷۹ |
| ۹ | اوبه | ۸۷ |
| ۱۰ | که انسان له دنیا ورک سي | ۹۱ |
| ۱۱ | ده روباټ لیږل مریخ ته | ۹۳ |
| ۱۲ | مصنوعي سپوږمی | ۹۷ |
| ۱۳ | تابوت سکینه | ۱۰۰ |
| ۱۴ | ایلومیناتي تنظیم | ۱۰۷ |
| ۱۵ | سپینه مانۍ او جنایتونه یې | ۱۱۶ |
| ۱۶ | آی پټ ګوټ ۲ کارټون | ۱۲۳ |
| ۱۷ | آی پټ ګوټ ۳ کارټون | ۱۳۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۱۸ | څارسترگه | ۱۴۹ |
| ۱۹ | ټانگ | ۱۵۵ |
| ۲۰ | پاني پت | ۱۶۱ |
| ۲۱ | هغه ځايونه چي په ساينسي لحاظ ناممکن دي خو په دې نړۍ کي موجود دي | ۱۶۷ |
| ۲۲ | ۲۰ عجيب معلومات | ۱۷۴ |
| ۲۳ | امازون ځنگل | ۱۷۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




## سریزه

زه محمود ده عبدالله زوی یم. دا کتاب ما ده ځینو معلوماتي ویډیو څخه راخیستی دی. زه په دې باندی پوهېږم چي ده کندهار خلگ په ډیرو څه باندي نه دي خبر. ما دا معلومات ده مای ایمان یوټیوب چینل، میرویس غورزنگ او نورو چینلونو څخه راخیستي دي. امید لرم چي ستاسو ده خوښي وړ به وگرځيږي. کله چی ۱۴ کلن سوم نو ده وینډوز ۷ په اړه مي یو نوټ غوندي څه ولیکل او پوه سوم چي اوس زه کولای سم چي کتاب ولیکم. وروسته مي ده اډوبي فوټوشاپ ۲۰۲۰ یو کتاب ولیکی بیله ده کوم چینل او نورو خلگو له معلوماتو څخه. دا مي ۲ کتاب دی چي زه یې لیکم. ده کندهار خلگ د عجایبو څخه خبرېدل خوښوي او علایده معلومات نه پسي کوي نو ما په همدې خاطر دا معلومات ولیکل چي ستاسو ده خوښي وړ وگرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱: افغان جگړه اغېزه

کال ۱۹۷۸ کابل، شرق او غرب يو له بل سره پر واک ډغري وهي. نن سوړ جنگ نوې بڼه خپله کړه. داسي جنگ چي غرب او مسلمانان دواړه ننگوي، او دا هغه وطن دی چي جگړې پکښي خپل نوعيت بدل کړ. دا ده ۱۱ کلن خونړي جنگ کيسه ده. هغه جنگ چي د نړی ابر ځواک روس چي ده افغانانو د مقاومت پر وړاندي پر ځنگون کړ. داسي جنگ چي د نړی نقشه يې بدله کړه. جنگ چي وروسته يې هم اثراتو سرټکي جوړول.

### افغان جگړې څه ډول پر نړی اغيزه وکړه؟

يووخت وو چي روس او افغانستان دوستانه اړيکي درلودې. روس په کال ۱۹۱۹ کي تر ټولو وړاندي افغانستان په رسميت وپېژاند. او افغانستان هم تر تولو وړاندي په کال ۱۹۲۱ کي د شوروي اتحاد جمهوريتونه په رسميت وپيژندل. د شليمي پېړی په اوږدو کي دواړو هيوادونو ترمنځ اړيکي لا نوري پراخي سوې. افغانستان خورا ستراتيژک موقعيت درلود. د افغانستان شمال ته شوروی پروت وو. ايران غرب کي او چين او پاکستان په شرق کي پراته وه. دا ستراتيژک موقعيت هغه څه وو چي شرق او غرب يې په اهميت تر بل هر چا پوهېدل، او ورباندي جنجال يې وو. په ۱۹۷۰ کلونو کي افغانستان د داؤد خان په مشرۍ يو لبرال جمهوريت وو. داؤد خان له

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسانو سره خوندوري اړیکي درلودلې. ده نومړوي په دور کي روس ده کابل مهم اقتصادي شریک وو. شوروي اتحاد د هیواد په روغنیزو چارو کي ونډه وال وو. سلګونه شوروي مشاورین کابل ته لیږل شوي وو. ده دواړو هیوادونو دغه موده اړیکي په ناڅاپي توګه هغه وخت بدلون وموند چي کمونستانو په کابل کي پر داؤد خان باندي کودتا وکړه. او واک ته ورسېدل. ده ۱۹۷۸ کال ده اپریل میاشتي پر ۲۷ ده نور محمد ترکي په مشرۍ ده افغانستان د ډیموکراتیک خلګو ګوند ده یوې خونړۍ کودتا په ترڅ کي وه توانېدل تر څو د افغانستان واک په لاس کي واخلي. ده ترکي دغه کودتا روس سخت غصه کړ. یو څو میاشتي وروسته کرملن وتوانید دا بې وخته انقلاب قبول کړي. خو بلاخره ده شوروي کمونستي ګوند سرمونشي لیون بریژینوف وتوانېد چي په خپل هیواد کي د افغانستان ده بدلون په اړه نظریه په مثبت لور بدله کړي، او نړۍ هم ددغه انقلاب هضمولو ته سازه کړي. په ۱۹۷۸ کي ده ډسمبر په میاشتي کي ده انقلاب له کودتا 8 میاشتي وروسته ترکی وه مسکو ته ددواړو هیوادو تر منځ د دوستی په نامه د نظامي او اقتصادي تړون لاسلیک کولو ته لاړ او لاسلیک یې ورسره وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اولیویر روی: د افغانستان د چارو متخصص وایي**

زه فکر نه کوم چي روسان به په دې باندي پوهېدل چي کمونستان څه ډول انقلابیان وه، دوی ده بدلون لپاره یو ریښتنی اډیولوجیک لوری درلود. له فنامف ډلي څخه سوسیالیستی.

له فیوډالی څخه سوسیالیستی ډلي ته دغه بدلون په کرهنیزه برخه کي اصلاح پیل سوه. دا ده افغاني کمونستانو لومړی ناکامي وه. دا یوه بې وخته او بې ځایه اصلاح وه چي پلرني دودونو له ناکامۍ سره مخ کړه. ده بزگرو او اولس له لوری ښه استقبال نه سو. دویم ټکر د تعلیم او تعلم په برخه کي ده اصطلاحاتو پر وخت رامنځ ته سو. د کابل حکومت ده جنکو لپاره مکتبونو کي فحشاء اجباري کړه. مذهبي حلقاتو د کمونستانو دغه عمل مواجه کړ. خو علماء او ملایان یې پر وړاندي ودرېدل. کمونستان هغه ملایان چي د عیاشیو پر وړاندي ولاړ وو سخت وزېل. په داسي حال کي چي په افغاني ټولنه کي پر ملایانو تعرض خورا خطرناک دی، او روسان په دې حقیقت ډېر ښه پوهېدل. خصوصا په داسي وخت کي چي په ۱۹۰۹ کي په گاونډي هیواد ایران کي حیات الله خومیني واک ته رسېدلی وو. همدا راز ده افغانستان پر درشل عمودي ډیموکراسي واکمنه سوې وه، چي ملایانو یې حکومت ولي کوله. روسانو په مسلسل ډول هڅه کول چي د افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمونستانو له خوا د افغاني ملایانو قتل عام ارام کړي. خو نه! دوی ونه توانېدل.

ده ۱۹۷۹ کال په مارچ میاشت کي ده هیواد په غربي ولایت هرات د حکمتي پوځ یوې بشپړې ټولۍ ته تورن اسماعیل په مشری بغاوت وکړ. نوموړی چي په اسماعیل خان هم پیژندل کیږي یو وخت نوم وتی جنګ سالار وو. ده هرات په دغه پاڅون کي چي ۳۰۰۰۰ تنه ووژل سول ده ترکي لپاره یوه عجیبه اندیښنه وه. هغه د شوروي اتحاد لومړني وزیر ایلیکسی کوسیګین ته ټلیفون وکړ. دا محاوره چي د کرملن په مخفي ارشیف کي ساتل سوې وه له یوه ډېر شرموونکي حقیقت څخه پرده پورته کوي.

نور محمد ترکی له شورویانو نظامي همکاري غوښتل او پر افغان خاوره یې د سرو پوځونو د سرتاسري مداخلې غوښتنه کول. کوسیګین له ژوري حیرانتیا او اوږده سقوط وروسته ځواب ورکوي (زه نه غواړم تا خفه کړم، لاکن دا ډیره ستونزمنه ده چي محتاته مداخله ترسره شي. ټوله نړی به د سترګو په رپ کي خبره شي، ټول خلګ به نارې وهي چي شورویانو افغانستان اشغال کړ).

خو ترکی په افغانستان کي د شورویانو ده مداخلې او نظامي مداخلې لپاره داسي طریقه پیشنهادوي چي هیڅوک ورڅخه انکار نسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای. ترکی په جواب کې ورته وایي، چې (له مرکزي امریکا خپل عسکر راولېږی، دلته تاجک، ازبک، ترکمن، قومونه بیخي ډېر دي. که ستاسو عسکر د افغان فوځي یونیفورم واغوندي هیڅوک یې هم نسي معلومولای) ده ترکي دا نظر چون کې معقول وو نو منل کیږي او پلی کیږي. بلاخره کې جي بې خپل فوځیان وه افغانستان ته داخلوي. دا ډله چې ده مثبت په نوم مشهوره ول دوی به د افغانانو په څېر یونیفورم اغوستی وو، له افغانانو سره به یې هیڅ فرق نه وو. خو په حقیقت کې دوی د شوروي اتحاد فوځونه وو.

## ډګروال رستم تورسونکولوف: د مثبت ډلګی یو تن افسر وایي

(کله چې زه خپل ځای ته ورسېدم زه ددې په لیدو ډېر حیران سوم، چې ټول خلګ اصلا منځنی آسیا وه، دوی اکثر تاجک، ازبک او یو څو تن ترکمن وه. دوی موږ ته افغانی یونیفورم راکړ، بغیر له کوم خاص توپیر او له نښانه، دا کالي یې ده اوښ له وړیو څخه جوړ کړي وه. ځکه خو ډېر خارښتي وو. دا چې موږ ولي سره راتول سوي وو دا راته ډیره مشکله وه چې پرې پوه سم. دا اوس هم ۱۹۷۰ کلونه ول. استخباراتي اورګانونو خپلو استخباراتي او سرتاسري دودونو ته سخت ژمن وه) ده ۱۹۷۹ کال په می میاشت کې د مسلمانانو ددغي ډلي په اړه خفیه معلومات ښیي چې کې جي بي بلاخره تیاري نیول. تیاري ده څه لپاره؟ په هغه وخت کې چې خلګ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ نه ول خبر لاکن ده یوه شي په اړه باوروي ول. دا چې د افغانستان په ولایتونو کې حالات له بد څخه بدتر ته روان وو. خصوصا پاکستان سره سرحدونو لرونکي ولایتونه، چیرته چې بې شمېره کمونیزم زپلي افغانانو هجرت کړی وو. او دا هغه وخت وو چې ده نه اعلان سوي جنګ اصلي اړخونه امریکا او پاکستان ده جګړې ډګر ته راکش کړي وو.

**چارلیس کوګان: د سی ای اې شناند وایي**

(د ای اېس ای افسر جنرال اختر له موږ څخه مرسته وغوښتل دا ده ۷۹ کال نیمايي وه. ته پوهېږې تا باید په بهر کې د پټو اقداماتو ترسره کولو وړاندې ده اولس مشر اجازه درلودای. هغه څه چې اولس مشر باید ورباندي پوه سي، او بیا یې لاسلیک کوي. هغه دا معلومات لاسلیک کړل. جیمیکاریټل لاسلیک کړل. په ۷۹ کال په اوړي کې دا فیصله وسول چې د افغان مجاهدینو سره به غیر محربوي همکاري کوو. هغه مجاهدین چې ده ای اېس ای سره په ارتباط کې وو چا چې په ۷۸ کال کې د واک ته د رسېدونکي کمونستې ګوند پر خلاف فعالیت درلود)

اسلام پالو له پیښوره بیرته راتګ پیل کړ، حالات سم نه وو دوی خاصي وصلې نه درلودې او دوی نه په اختصاصي ډول روزل سوي وه. دوی خپل سفونه جوړ کړل لکه مسعود په پنجشیر کې. ده ۱۹۷۹ کال په اوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي وختي لا افغانستان د بشپړي کورنی جګړې ښکار وو. په کندهار، هرات، پنجشیر، او په ټولو ولایتونو کي مقاومت اماده وو. لاکن دا په کابل کي چي د کمونستي واک زړه وو، یوه بله پېښه د وقوع په حالت کي وه. تاسو دغه دوه خلګو ته ښه ځیر شی (ولس مشر ترکی، حفیظ الله آمین) دوه ګران او محبوب ملګري. دوه مارکیسیستي رهبران، چي باور لري چي دوی یو سوسیالیستي هیواد جوړولای سي. ده کال ۱۹۷۹ ده ډیسمبر میاشت په ۱۱ ترکی مسکو ته له یوه سفره راستنیږي. هغه له خپل لومړني وزیر حفیظ الله امین له لوري چي خورا خوښ شاداب ښکاري استقبالیږي. خو ۳ ورځي وروسته همدا ښاغلی امین ده ترکي پر خوله بالښت ږدي او په خپله کولو یې وژني. امین مسکو ته د خبرداری پرته واک په لاس کي واخیست. امین دداسي حکومت رآس کي وو چي کورنی جګړو پر سر اخیستی وو. امین ترکي ته وفادار فوځي افسران ووژل یا یې زندان ته واچول. دا هغه نقطه ول چي روسان وه بېربېدل چي دا حفیظ الله امین اخیر ځوک دی.

## سویټ لانا سورانسکایا: د ملي امنیت د ارشیف مخکښه څېړونکې وایي

اصلا داسي هیڅ ثبوت نسته چي د امین او سي آی اې تړاو تثبیت کړي. البته یو ثبوت سته چي امین غوښتل چي دواړو لورو ته لوبه وکړي ځکه هغه احساس کړي وه چي حالات یې خطرناک دي سم نه دي. حفیظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله امین د امریکایانو غلام وو او که ده چینایانو؟ دا هوایي تکان دي. ده کې جي بي په دفتر مسکو کي هر څه تر نظر لاندي ول او مرکزي دفتر ته به یې داسي راپوروونه لېږل چي د کابل حالات هر ګړی منفي لور ته روان دي. یوري اندراپیو ده کې جي بي مشر لیونت بریژینوف ته په کابل کي د بد ترینو حالاتو څخه خبرداری ورکړ. یوري بریژینوف ته وویل چي که داسي لاس تر زني ناست وو امریکایان به مو پر سټ راوه خیږي. موږ باید سمدستي لاس په کار سو.

**نتالیا ګیوورکیان: ژورنالیسته وایي**

ده بریژینوف صحیح حالت ده سیاسي فیصلو مانع سو. هغه له 15 دقیقو څخه د زیاتو خبرو صحت نه لاره. البته ده به بعضي فیصلې لاسلیک کولاې، ده لا ده قلم نیولو توان درلود. دا لیونت بریژینوف دی ده کمونستي ګوند سرمنشي او ده واک سرچینه. ټولي مهمي فیصلې تر ده یوري تړاو لري. خصوصا د خارجه فالیصی په اړوند فیصلې. ده ډیسمبر پر 12 ده منتخبو سیاسینو یو مجلس جوړ سو. په دې مجلس کي ده افغانستان ده برحال حکومت د مسؤل حفیظ الله امین ده له منځه وړلو فیصله وسوه. چي دوی بې کابو باله. په دې وخت کي ځوان میخایلکورباچوف ده پارلمان یو عادي عضوه وو. او ده عادي مقام ده فیصلو په اړه یې هیڅ نه سوای ویلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ميخايلکورباچوف: د شوروي اتحاد اولسمشر ۱۹۸۵– ۱۹۹۱ دی وايي**

دا ده پارلمان فيصله وه. خو هلته ده يوه گروپ فيصله ده پخوانيو ساتونکو. ته نه سې کولای چي تاريخ بيا وليکې.

دا نو پخواني ساتونکي دي (يږستينوف د دفاعي چارو وزير، اندږ پف د کې جي بي مسؤل او بروميکو ده خارجه چارو وزير). دا ده دوی فيصله وه. او يوازي ددوی فيصله وه چي دغي ستري فاجعې ته يې سور فوځ اماده کړ. ده افغانستان او شوروي تر منخ اړيکي بريژينوف ته ډيري مهمي وې. او ده پارلمان ډيری ښه پوهېدل چي يوه وړه غوندي نظامي مداخله کولای سي دا توازن له منځه يوسي. خو دغه ۳ سړيو وه کولای سول چي ده پارلمان ټول غړي خپلو مقاصدو ته چي پر ترکي باندي کودتا کوونکی حفيظ الله امين واک خامتولو او ده بوډاگي حکومت دامنځ ته کولو مشروطي نظامي مداخلې ته رضا کړي. دا کاغذات په افغانستان کي د شوروي اتحاد ده مداخلې اسناد دي. يو ډېر انتيکه ټوټه کاغذ دی. دا په لاس ليکل سوې يوه پاڼه ورقه ده. ده ورقه ډېره مبهمه ليکل سوې ده. چي هدف يې ده حفيظ الله امين واک ختمول او پر افغانانو د بوډاگي حکومت زپل دي. په دې کاغذ باندي ده افغانستان نوم نسته. فقط ده الف حرف په يادولو رالنډ سوی دی. دا خط ده پارلمان د ټولو غړو له لوري په لنډ وخت تائيد او لاسليک سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جنرال والري واستېروتين: د سرو لښکرو یو تن قومندان وایي

ده ۱۹۷۹ کال په ډیسمبر میاشت کي زه ده مسلمانانو ده ډلگی په منځ کي ده حفیظ الله امین ده قصر سره نژدې گومارل سوی وم. موږ ټولو افغانی یونیفارم اغوستی وو. موږ ده ملي گارډ یوه ډلگی وو. زموږ مامؤریت ده امین د قصر ساتنه وه. زموږ فرضي مامؤریت ده امین له قصره د اسلامي انقلابیانو مخنیول وو. ځکه موږ له کودتا ویره لرل. خو وروسته دا څرگنده سول چي زموږ مامؤریت اصلا د حکومت ختمول وو.نو په دې ډول موږ ده امین قصر ته اشپز راوست. چي امین ته په ډوډی کي ظهر ورکړي. دا ډېر اسانه وه، ځکه افغانانو پر موږ شورویانو ډېر باور درلود. ولوکه هغوی دیپلوماټان، ډاکټران یا اشپزان یا نوري بلاوي وای. خو په هغه وخت کي کوکاکولا په افغانستان کي خورا مشهوره وه. موږ ورسره ډېر اشنا نه وو. کوکاکولا ډیره تیزابي ده. پر هرڅه حمله کوي د ظهرو په شمول. کله چي دوی ظهریله ډوډی خوړل نو کوکاکولا به یې هر ورسره چیښل. همدا لامل وو چي کوکاکولا زموږ ظهر له مرگوني اثره څخه منعه کړل. او امین ژوندی پاته سو.

کله چي حفیظ الله امین له مرگه وژغورل سو نو کې جي بي فیصله وکړل نظامي عملیات په کار اچوي. ده طوفان په نوم عملیات د شپې پر ۷ بجې پیل سول. هدف یې دا وو چي مامؤرین اجراء کړي او امین ختم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډګروال یاکوسیمینوف: په کابل کې د کې جي بي د خاصو عملیاتو قومندان وایي**

دا ډیره سخته ده چي هغه ۳ پاوه وخته تشریح سي. دا یو اورغورځونکی یرغل وو. ده شکو په وسیله پر قصر باندي فایرونه کښدل، ده ګرنیټونو باران وو، توپکونه ډزېدل. موږ په دریم منزل کي امین چي مړ پروت وو وموند. زما سره ده افغان حکومت یو غړی وو. هغه وتوانېدی چي امین وپېژني، نو ما بیا ده کومندې قومندان ته پیغام واستوی چي امین ووژل سو. موږ کوښښ وکړ چي داسي یو لیکی ثبوت پیداکړو چي پرې ثابت سي چي امین ده سي آی اې جاسوس دی. زما سره متخصیصین هم وه. موږ هڅه کول چي ده سي آی اې او امین ده سازشونو کوم اصناد لاسته راوړو. موږ ټول قصر قدم په قدم وپلټی خو هیڅ مو پیدا نه کړل.

ده ۲۷ او ۲۸ ډیسمبر په ماښام ۱۰۰ زره سرو لښکرو عکسر افغانستان ته ورتوی سول. په دې بهانه چي دا محدوده، مشروطه مداخله ده کمونستي رژیم د ژغورني لپاره لیږل کیږي. بیا ببرک کارمل ده مسکو له خوا ده واک ګدی په لاس کي ورکول سوه. هغه منتظر کړل سوی وو. هغه خپل وخت ته انتظار کوی. روسان ده اسلامي قیام ده زپلو ده هغوی سره د جګړې لپاره نه وه راغلي. ددوی هدف دا وو چي یو بې کابو کمونستي رژیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرضي منترقي او د شوروي اتحاد په طرفدار رژيم باندي تبديل کړي، او افغانانو ته سوله او امن راولي.

خو ده تعجب ځای دا دی چي دوی څه ډول باور درلود چي ده فوځيانو او نظامي مداخلو په ترسره کولو سره به امنيت تأمين سي. حقيقت خو دادی چي نتائج به دقيقا عکس وي او اثرات به يې پرتهوله نړی ولويږي.

دا نو دقيقا هغه وخت دی چي خارجي قواوي افغانستان ته داخلي سوې. حالات يې نور هم ترينګلي کړل، په دې توګه ده افغانانو کورني جنګونه په جهاد بادي تبديل سول، او پر تهوله نړی باندي يې اغيزه وکړه. ده شوروي اتحاد ولس په هيڅ باندي نه ول خبر. ده پراوډ آر نومي ورخپاڼې ساده سرټکي خپاره کړل. چي ليکلي يې وو ( ده افغان حکومت په غوښتنه ده شوروي اتحاد فوځونه ياد هيواد ته داخل سوي دي تر څو خارجي بريدونه بهر کړي) دا خبرتيا په لاندي ټکو باندي پای ته رسېدلې وه. چي امين افغانانو پخپله محکمه کړی وو او هغه يې په مرګ محکوم کړ. ده ډيسمبر ۲۸ تر سهاره په مسکو کي هيڅوک هم نه وه خبر، چي شورويانو په افغانسان کي نظامي عمليات ترسره کړي دي.

**يو تن وايي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما له شیواټ ناټزي سره ملاقات وکړ، زه په ځنډو کې ده تور سمندر په رخصتیو کې وم، زه ددوی په هیواد جورجیا کې وم، دی زما ملاقات ته راغلی موږ خپلو کې ډېر اوږد باندار درلود. راتلونکی سهار موږ ډېر وختي راکښېنستو او موږ یې خبر کړو په افغانستان کې د مشروطي مداخلې اړوند. اند تر دغه وخته موږ په هیڅ شي باندې نه وو خبر، موږ دواړو فقط ده پارلمان مرستیال غړي وو. موږ بلکل په هیڅ شي نه وو خبر، چې څه روان دي. دا ډېر وحشیانه کار وو.

ده ۱۹۸۰ کال ده جنوري په څلورمه افغانستان ته ده شوروي فوځیانو داخلېدو فقط 5 ورځې وروسته امریکا ولسمشر جیمیکارټر په عامه توګه ده یوې تلویزیوني وینا په ترڅ کې خپل عکس العمل وښود.

**جیمیکارټر: د امریکا ولسمشر وایي**

دا ده بین المللي قوانینو یو بې شرم او بې حیا نقس دی. موږ ده ملل متحد په نیز دا ده یوه قوي او عادي حکومت هڅه ده چې آزاد اسلامي ملت تسلیم کړي.

جیمیکاردر دا کار ده ځان لپاره شخصي ده بریژینوف ګوستاخي احساس کړل. او ځان ته یې بې احترامي ګڼل.

**میلیون ګوډمین: د سی ای اې او خارجه امورو تحلیلګر وایي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې شورویانو په ۱۹۷۹ کې افغانستان اشغال کړ کارټر یو حالت ډکه بیانیه ورکړل. ما ده شوروي اتحاد په اړه په تیرو 24 ساعتونو کې تر هغه څه دیر څه زده کړل چې ما یې په اړه په خپل ټول ژوند کې وه زده کړي.

**ریچارډپرل: د اولسمشر ریګلان سلاکار وایي**

کاردر ده شوروي اتحاد په اړه نسبت ارام وو. هغه ډیر سطحي باور درلود. هغه فکر کاوه چې ده مناظرې میز ته به ولاړ سي هر څه به سم کړي. داسي ډول که سره جګړه ختمه نه کړي نو حد یا کل پراخه یې کړي، خو پر امن به یې کړي.

په نړی کې عکس العملونه ټول یو ډول وه. ده ۱۹۸۰ کال په جنوري میاشت کې په افغانستان کې ده شوروي اتحاد ناجایزه مداخله ده ملل متحد اکثره غړو له لوري وغندل سوه. بل خوا کارټر خپل ټول تړونونه او تعهودات وځنډول. ددې دواړو بلاکونو ترمنځ اړیکي تر بل هر وخت خپرینګلي وې.

ډېر ژر کارټر دا فیصله وکړه چې ښه نو موږ مسکو ته ده اولمپیک لپاره نه ځو. موږ به ده کونسل ګرى بعضی مواعهدات او ده غذایي موادو سوداګري لغوه کړو. او دا یو راز مخ اړول وو. او هغه وویل چې سي آی اې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه دا نو اوس ستاسي وخت دی، چي هلته اوس خپل کار وکړی او برابر یې کړی. بس نور یې بدل کړی. محاربوي مرستي ده افغان مقاومت سره پیل کړی. دا مرستي په داسي حال کي پیل سوې چي موږ فقط 5 کاله وړاندي ده ویتنام وېرونکي خوب لیدلی وو.

افغانستان ده ویتنام ده وېرونکي خوب قیاص جیمیکارټر دفاعي صلاح کار زبیجینیوف بریزینز کي کړی وو چي ده کمونیزم سره سخت مخالف وو.

**زبیجنیف بریژینسکي: د جیمي کارټر د ملي امنیت سلاکار وایي**

زما هغه ورځ په یاد ده چي ده شورویان کابل ته ولاړل او افغانستان یې اشغال کړ. ما اولسمشر ته یو نظر ورکړ چي یوه جمله یې په دې ډول وه. چي موږ اوس یوه موقعه لرو، چي شورویانو ته ده هغوی ویتنام ورکړو. په دې ډول زما په دا نظرسوږ جنګ په تاریخ کي په لومړي ځل متفاوت ډول پیل سو.

ویژنز کي بشپړ مشویش وړاندي کړی وو. ده هغه پالوسي ډېره زیاته شوروي ضد وه.سره له دې چي زه ده مشرقي اروپا مخینه لرل.

ویژنز کي خارج ته لاړل په پاکستان کي محمد ضیاء الحق سره خبره وکړل. ویژنز کي افغانستان ته نژدې ولاړی چي افغانستان ترې لیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدی. خیبر پاس ته څیرمه هغه کلاشین کوف راپورته کړ افغانستان ته یې ونیوی په دغه وخت کي ده امریکا ددې جریان پالني ته ژمنتوب په کلکه څرګند سو.

**ويژنز ویل:**

هغه مځکه ستاسو ده. تاسو به یوه ورځ بیرته ځی دا ځکه چي تاسو به پرې غالب سی. او تاسو به بیرته خپل کورونه ولری. مسجدونه به بیرته ولری. دا ځکه چي ستاسو مقصد صحیح دی. خدای له تاسو سره دی.

هغه غوښتل چي ددې هرڅه ده مسؤل په توګه سره وپیژندل سي. باید یاده کړو چي هغه داسي ښکاره کول چي ګوا دی ددې روان جریان مسؤل دی. خو په حقیقت کي دا هرڅه سي آی اې ترسره کول.

**وینس سننیسترارو: سي آی اې قومندان وایي**

موږ په افغانستان کي حضور نه درلودی. چا چي هلته حضور درلود او افغاني مخکښانو سره رابطه لرل هغوی پاکستانیان ول.

او موږ پاکستانیان په جریان کي واچول. موږ ورته وویل چي موږ په دې موضوع کي له تاسو سره یو. موږ په ګډه یو ټیم ایجاد کړو. صعودي، چینایانو، مصریانو، امریکایانو، پاکستانیانو سره په ګډه په لومړي ځل موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېر ستر تعداد باندي ۳۰۳ ماډل ضربيي توپکونه وپېرل. له برتانيا څخه د اشغال په سر کي دا توپکونه پاکستان ته ورکړل. او په هغه وخت کي دا پشنهاد سوي وصلې وې افغانانو ته. نو په دې توگه شورع پرې وسول. په داسي شورع چي میلیونونه ډالر پرې تصويب سول. بيا وروسته کانگريس زون جريان سو او نور ۲۰ میلیونه ډالره تصويب سول او په دې جريان کي هر څه دير پرمختگ وکړ.

ده افغان مجاهدينو ده مصلح کولو لپاره ده سي آی اې عمليات ده سی کلون په نامه ونومېدل. ده شوروي اتحاد قسم خوړلي دښمن او پاکستاني ولسمشر جنر الضياء الحق ومنل چي ده امريکايي استخباراتو او افغان مجاهدينو تر منځ واسطه سي. هغه پوره ساتني نه نهايد ډېر ټينگار درلود. چي په افغانستان كي امريكا هيڅ نظامي حظور او مداخله نه لري.

ده مجاهدينو د تربيه كولو او ورزيشي چاري ده پاكستان له لاري ترسره سوي وای. سي آی اې به يوائې عمليات څارل. يوائې ده افغانستان او پاكستان پر سرحد باندي ده مسافرينو سيلاب مخ كړل. چي مقاومت ترتيب سو.

ښه يا بد، دوی هغه خلگ ول چي سره راتول سول او 7 تنظيمونه ورڅخه جوړ سول. چي له جملې څخه يې (گلبدين حکمت يار او نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



گروپونه ول). لکن دا ده پاکستان له نظره هغه څوک وه چي په نظامي برخه کي مأثر تابت کېدلای سوای. او دا ریښتیا هم وه.

ده افغانستان مقاومت ۷ سیاسي ډلو ته تقسیم سوی وو. چي قوماندانانو یې نماینده‌گي کوله. هغه افراطي حکمتیار، سیاف، او رباني وو. دوی ټول ده اخوان المسلمین غړي وو. او سعودي عربستان هم تمليلول. او هم دوی ده امریکایي حکمتونو مرکزي ګیډه اخیستونکي وو. ځکه دوی ده پاکستانیانو له خوا ډیر خوښېدل. او سي آی اې هم بله چاره نه لرل. پرته له دې چي ده اسلام آباد خوښي ومني.

دا نوري ډلي لکه مسعود دا زموږ ډیر خوښ وو. او ده برتانویانو هم ډیر خوښ وو. هغوی له مسعود سره مستقیم ارتباط درلود. ده سیاف ډله دا زما په فکر دریمه ډله ده هغه په اختصاصي ډول ده سعودیانو له خوا تمليلېدل. موږ غوښتل چي ازادانه نظارت وکړو چي دغو ډلو ته څه روان دي. لاکن دا مشکله وه.

**رستم شاه مهمند: د پاکستان لخوا د افغان مهاجرینو لپاره کمیشنر وایي**

ده جګړې حجم او عظمت خپله ده افغانانو پر اوږو وو. دا دوی ول چي جګړه یې کول. نو په دې توګه دا یو عصري او حقیقي مقاومت وو، چي ده بحرنیو کړیو مقاومت درلود. ده ټکنالوجۍ په برخه کي، ده وسایلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په برخه کې، ده وصلو او ده تربیت په برخه کې. لاکن له دې څخه هم بغیر مقاومت روان وای. دا یوه داسې نقطه ده چې بعضې خلګ ښکاري هېروي یې. دوی فکر کوي چې افغان مقاومت ده همکاریو ورکولو له امله پر مخ روان وو. ده ټکنالوجی، وسایلو ، ده تربیت، ده پیسو او دغو شیانو کار وکړ، نه!. زیاتېدونکو مصلحو تربیه سویو مجاهدینو، سره پوځ ته ده مشکلاتو په ایجادولو پیل وکړ. ده شوروی اتحاد ځواکونه ده مقاومت اثریت ده په ولایتونو کې حیران پاته وو.

**یو تن وایي:**

هیڅ داسې جنګ نه غوښتی دا زموږ ماموریت نه وو. موږ خو همکاري کول غوښتل. چې ستراتیژک موقعیتونه خوندي کړو. خو دې هرڅه 10 کاله جنګ په بر کې واخیست.

**جنرال روسلن اوشیف: د سرو لښکرو یو تن قومندان وایي**

افغانان موږ ته له لسیزو وفادار وو، دا هرڅه فقط په 6 میاشتو کې بدل سول. هیڅوک خارجي عسکر په خپل هیواد کې نه غواړي. ولوکه یا یې ارادې نیکې هم وي. ده افغان مقاومت دا وو چې افغان اوردو ده شورویانو له کبله پر ځای پاته ده. کنه اوس به مقاومت ختمه کړې وای.

**یو تن وایي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده افغانستان حکومت د شوروي اتحاد ده ځواکونو حضور ددې لپاره استعمال کړ چي خپل مشکلات پرې حل کړي ولې؟ ځکه ددوی خپل اوردو تربیت او تجهیز ته ضرورت درلود. په داسي حال کي چي زموږ فوخیان تیار وو. دا یو هغه لامل وو چي روسان یې جګړې ته کش کړل. په دې توګه عوامو ده مواقومت سره ده درېدلو لاره ښه سپینه سول. خو په دې ډول ده مقاومت جګړه توده سول.

په کال ۱۹۸۰ په مسکو کي ده اولمپیک لوبو ته چي ده شوروي اتحاد ده اوسېدونکو لپاره ده فخر او خوښۍ لوبي وې تیاری نیول کېدی. شورویان په دې ښه خبر وه چي متحده ایالات او 69 نور هیوادونه په لوبو کي ده شریکېدو ډډه کوي. خو په دې نه پوهېدل چي ولې؟. ده له دې امله چي رسما په افغانستان کي هیڅ جګړه نه وه. خلګ په افغانستان کي ده شوروي اتحاد په جګړې نه ول خبر. تر دې دمه دا راز لا راز وو.

**یوه تنه وایي**

راپورونه به تشخیصېدل او مطبوعاتو کي نشرېدونکي مواد به ترلاس تېرېدل. موږ به منلې وای چي هیڅ نظامي عملیات نه دي روان. باید بالعکس مو ویلي وای چي عکسر فقد ده انساني خدمتونو لپاره لیږل سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوشیو وایي

په ۱۹۸۲ کي ماته یې ده شوروي اتحاد نومي میړاني میډال راکړی. ده سره ستوري په نوم یوې خبر پاڼې داسي تحریف سوی اعلان وکړ چي کفتان یوشیف ده کنډک جنګي تخنیکونو په برخه کي لومړی مقام ګټلی دی. دا هغه څه وو چي ورځپاڼې راپسي لیکلي وو. دا هیڅ ځای نه وو لیکل سوي چي زه په افغانستان کي جنګېدم او ده کنډک مشري مي کول. دا ده شوروي جمهوریتونو طریقه وه. دا یوه ستره تېروتنه وه.

خو په مسکو کي یو انفرادي ږغ جرأت وکړ چي چپتیا ماته کړي. داږغ ده اندري ساکروف وو. نوموړی په فزیکس کي ده نوبل انعام اخیستونکی وو. ساکروف ده افغانستان ده جنګ څخه وړاندي ده ډېر سختو پیژندل سویو مخالف وو. هغه په دې ډېر ښه پوهېدی چي دا جګړه غیر منسفانه ده. دا چي شوروي اتحاد ده یوه هیواد په داخلي چارو کي مداخله کوي هغه چي ده یوه هیواد په داخلي جنګونو کي ځان ده یوه طرف خوا مطرح کوي. دا چي شوروي عسکر بې ضرورته مري او دا چي دغه عسکر ولس قتلوي.

هغه په ۱۹۸۰ کال کي بریژینوف ته په یوه لیک کي خپلي انګېرني تشریح کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده سکروف په دې لیک باندي کرملن ډېر سخت غصه سو. له همدې امله یې هغه په داخل کي د کورګ نومي ښار ته جلا وطن کړ. یو څو کاله وروسته چي سکروف ده خلګو ده نماینده په توګه انتخاب سو سکروف یو ځلي بیا په خپل پخوانی دریځ تر پخوا تر زور او جګ ږغ ټینګار وکړ.

**سکروف وایي**

ما په جود او په سنګند ډول ده شوروي عسکرو افغانستان ته ده حجم په اړه احتجاج وکړ. ځکه زه خو کورګي ته جلا وطنه کړم. دا زما ده جلا وطنی اصلي لامل وو. او زه په دې فخر کوم. زما په میز دا ده یوه تشخیص او تمییز نقطه ده.

**یو تن وایي**

ده خلګو لپاره یوه ستره غمیزه وه. دوی ځوانان ول. لا سم نه وو تیار چي ده مرګ کندي ته لیږل سوي وو. تابوتونه چي بیرته له افغانستانه راستانه سول ده ټول هیواد لپاره یوه ستره صدمه وه. لکه اسمان چي زموږ پر سر راغورځېدلی وي. خو دا صدمه چي روسانو یې اوس درک پیل کړی وو. ده افغانانو وه حالت ته په کتو هیڅ هم نه وه. فقط ده څو میاشتو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



جریان کې ده سرو لښکرو مداخله په یوې ستړې جګړې بدله سوه. چې په سلهاوو او زرهاوو ولسي وګړي یې قربانیان وو.

**یو ولسي وګړی وایي**

دوی لومړی توپونه راوغورځول خو لکه چې کار یې ور نه کړ. خو وروسته یې دلته هر ځای ماینونه کېښېښول او ټول امارت (کور) یې چپه کړ. دا فقط یو مثال دی چې دوی یې زموږ پر کورونو باندې راغورځوي او زموږ کورونه ویجاړوي.

ده افغانستان جګړه له سرحداتو څخه ښه واضحه سوې وه. ده جهاد بړغ ده کافرانو پر ضد په ټوله نړی کې ازانګې کولې. داسې بړغ چې دا یو فلسطیني ملا عبدالله عظام درلود. ده جهاد ملاتړی. نوموړی ده جهاد ته دوګړو دراوستلو لپاره په ډېرو هیوادونو کې ده جلب او جذب راایستلې وو. هغه له خپل مرکز چې پاکستان کې وو. په یو غیر منظم ډول مجاهدین له ټولې نړی روغوښتل.

**عبدالله عظام وایي**

څه خلګ له بهر څخه راغلل چې ده مجاهدینو په طرف کې جګړه وکړي. خلګ له فلفاین، مرأ، او بعضې خلګ له منځنې شرق څخه، خینې خلګ له هندوستان څخه او خلګ خپله له امریکا څخه هم راغل. ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا مسلمانانو له اروپا څخه او له ختیځ څخه. او دوی فقط یوځو کسه وه.

هر هغه عربان چې راغلي وو اکثره يې سلفيان وو. دوی فقط ده شوروي عسکرو پرخلاف ده جهاد او کتاب لپاره راغلي وو. دوی به دغه کار ته دعوتېدل. ده افغان جګړې نظامي مشرانو ده عبدالله عظام په مشهوره وکړل چې مهاجرين به له انصارو سره هيڅ راز رابطه او راسه درسه به نه لري. په دې توګه مهاجرين، مجاهدين په خپلو اطاقونو کي پاته کېدل.یواځی به جګړې ته غوښتل کېدل.

په دې توګه افغانستان ده نړيوال جهاد ده پرورش مځکه وګرځېدل. دا همدا ده افغانستان غرونه ول چې ده شتمني سعودي کورنی غړي اساما بالادين پکښي د جنګ غاښونه وکښل. په داسي وخت کي واشينګټڼ ده افغانستان ده جهاد په اړه ډير متوجه وو. خو ده مازي څخه په توپير امريکايي ولسمشر ژونال ډريګن فيصله وکړل چې متحده ايالات له افغان مجاهدينو سره له مخفي تړاوه پرده پورته کړي.

## ژونال ډريګن: د امريکا ولسمشر وايي

ده افغانستان ده ازادی جنګيالي له تيرو ۴ مياشتو راهيسي له سخت عذاب لاندي وو. دوی وه شوروي اتحاد له لوري يرغمل سوي وو. دغه کس

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته چي ده چا میرمن چي ده خپلو 2 بچیانو پرمخامخ قتل سول. دوی دلته ځکه راغلي دي چي بهر نړی ته ووایي. ازاده نړی په افغانستان کي په ریشتیا سره ده.

**یو تن وایي**

خو په هغه وخت کي ډریګن رازونه ټول اپشا کړل. هغه له هرڅه پرده پورته کړل. چي مجاهدینو ته هرڅه چي دوی یې غواړي ورکوي یې. اوس نو دا نور راز نه وو پاته چي متحده ایالات دا کوي.

**یو تن وایي**

قوانینو بدلون وموند. موږ یوازي ددې لپاره چي شورویان منعه کړو موږ غوښتل چي دوی ته ددوی ویتنام ورکړو. موږ فیصله وکړل چي اولسمشر ریګن وروسته له هغه چي هغه یې اداره په لاس کي واخیستل او بیلکیسي چي ده سي آی اې لارښود وو وه یې ویل (راځی چي اوس یې نو وګټو) نو بیا کیسي ما ته ټلیفون راوکړ او راته ویل یې چي ته به افغانستان یا پاکستان ته ولاړ سې. موږ غواړو ده ګټلو هڅه وکړو.

دا دواړه بلاکونه ده سړې جګړې ده شروع کولو په حالت کي وو. ده نفوس او اتصالاتو جګړه. امریکایانو باغیان مصلح کول په داسي حال

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې چې روسانو افغان مشرانو ته امر ورکړ چې ده امریکا پرخلاف په کابل کې مظاریې وکړي.

**یو تن وایي**

ایمبیډ په یوه خبره پوه سو چې بریژینف ده افغانستان ده اژغال وروسته سمدلاسه مړ سو. دده وروسته کس هم مړ سو. برینکو هم مړ سو. او وروسته کورباچو. کورباچو خو ګرسره ده هغو لاسلیکوونکو څخه نه وو چې محدوده او مشروطه مداخله یې لاسلیک کړې وای.

ده ۱۹۸۲ بیا تر ۱۹۸۵ یعنې ده ۳ کالو په جریان کې ده کرملن مشرتابه ۳ ځله تبدیله سول. او هغه ده پارلمان جنګره مشران ټول له مخې ورک سول. په ۱۹۸۵ کال کې کورباچو ده شوروي اتحاد واک په لاس کې واخیست. کورباچو په دې خبره ښه پوهېدی چې نظام یې عاجلو اصطلاحاتو ته ضرورت لري. هغه باید ده خپل هیواد په اقتصادي او نظامي برخو کې ارزوني کړي وای. لاکن تر ټولو مهمه یې ده افغانستان ده قضیې ارزونه وه چې باید یې په عاجل ډول ترسره سوې وای.

**یو تن وایي**

ما یوه کتابچه لرل. په هغه کې بعضې مهم اقدامات وختې لا لیکلي وو، چې باید حتما ترسره سي. خپل ځان ته مې یادوني کړي دي. هغه بیخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډ نوټونه وو. هغه لومړی یې ده افغانستان په اړه ده یوې ریښتني پولیسی درلودل وو. او له افغانستان څخه ده فوځونو راویستل وو. دا ما خپل ځان ته نوټونه لیکلي وو. په لومړیو کي مي هیڅ ته نه وو ویلي.

په دې ډول کورباچو خپل ځان تر ټولو سخت او بد حالت کي وموند. هغه پیسې بایللې، هغه خلګ بایلل، هغه ده جګړې لپاره کورنی ملاتړ بایلی، ځکه خلګ له پخوا ژر خبرېدل. هغوی خبرېدل چي په افغانستان کي ده هغوی فوځونه څه ډول دي او څه کوي.

**یوه ژورنالیسته وایي**

دا ځکه چي په ۱۹۸۵ کال کي ژورنالیستانو ته اجازه ورکول سوه چي په افغانستان کي ده خاصو نظامي کنډکونو او نظامي عملیاتو څخه خبر ورکړي. موږ کولای سول چي ده تلفاتو په اړه خبر ورکړو. د شجاعت مندانه فعالیتونو اړوند خبر ورکړو. موږ کولای سول چي ده نازول سویو عسکرو نومونه واخلو.

اوس ولسي وګړو کولای سوای چي نظرونه ورکړي. پخوا دا حق ورڅخه اخیستل سوی وو. ده شوروي اتحاد وګړو کولای سوای ترڅو په سیاسي او نظامي موضوعاتو کي خپل نظر ورکړي. او واضحه توګه اوس دا جوته سوې وه چي دا جګړه نور یو ناورین وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورباچو په دې خبره ښه پوهېدی چې عقلمندي ده جګړې په ختمولو کې ده. او په دې هم ښه پوهېدی چې هغه باید لومړی له چا سره خبره وکړي.

**یو تن وایي**

په کال ۱۹۸۵ کې ده جینووا په کمفرانس کې زموږ ده ملاقات په جریان کې موږ په رسمي توګه ریګن ته واضح وویل. موږ ورته وویل چې ته ولس مشر یې ته ښه پوهېږې چې باید له افغانستان څخه ووځو.او موږ خامخا وځو نه پاته کیږو. متحده ایالات زموږ مرکزي ملګري وه. او مرکزي مخالف هم. ماغوښتل چې دوی په دې باندي پوه کړم. ما هغه ته وویل چې ټولې هغه وعدې چې موږ کړي دي موږ ورته ژمن یو.

**یو تنه وایي**

خو متحده ایالاتو هیڅ همکاري نه کول. ځکه په متحده ایالاتو کې خصوصا کله چې ریګن واک ته ورسېدی هغه خلګ چې شورویان په افغانستان کې وشرموي هغه غالب سول. ځکه ده ریګن ده مدیریت خوښه نه وه چې روسان دي ووځي. دوی ویل هغه څه چې موږ یې باید ترلاسه کړو هغه ماته ده. شرموونکې ماته ده. په افغانستان کې ده شورویانو ماته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يو تن وايي**

په دغه وخت کي دوی څه راوه غوښتم چي ولاړسم او دا پروګرام پر مخ بوځم. په کال ۱۹۸۶ کي په يوه لنډ فرمان کي زه بيلګيسي دفتر ته وغوښتل سوم. هغه راته وويل چي زه غواړم ته هلته ولاړ سې. زه غواړم چي ته يې وګټې، زه به تاته يو بيليون ډالر درکړم. بس دي دي. او زه داسي دغه سوم چي يو بيليون ډلر؟ هغه راته وويل چي دا ستينګر هم درواخله. هغه وخت ستينګر هم منظور سوي وو. او ته پوهيږې زه غواړم چي موږ يې وګټو.

مشهور ستينګر ميزايل ده جګړې روخ يې بدل کړ. دا ستينګر پر ځمکه له اوږې هوا ته په ډير سرعت فاير کيږي. حتی يو کس کولای سي چي د دښمن الوتکه په يوه ټک ځمکي ته راوه غورځوي. په داسي حال کي چي شوروويانو له افغانستان څخه د خپلو فوځيانو ده ويستلو فيصله کړې وه. امريکايانو بيا هم له ۵۰۰ څخه نيولې تر ۲۰۰۰ ستينګر ميزايل مجاهدينو ته ورکړي وو.

**يو تن وايي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی ستینګر په جلال آباد کې په کال ۱۹۸۶ ده سپتمبر په میاشت کې استعمال سو. ۳ روسي هلیکوپټري یې په ځمکې راواچولې. همداسې ډیري هلیکوپټري روسانو بایللې. دا تقریبا شمیر یې زرهاوو ته ورسېدی.

**یو تن وایي**

هره ورځ به موږ خبرېدلو. چې امریکا ده مجاهدینو وصلې څه رېږول مترقي کوي. په ۱۹۸۶ کې دوی له ځمکې فضا ته تلونکي مزایل هم ورکړل. دوی په ستینګرو او په نورو مزایلو باندې یې مصلح کړل.

په ۱۹۸۶ کې مسکو داسې فیصله وکړل چې کرمل په نسبت ده حالاتو له تقاضاوو سره سم بریښېدونکي کس باندي تبدیل کړي. په نجیب باندي. کورباچو فیکر کاوه چې هغه ده خپلې طریقې سیستم وتمې. هغه ده ملي مصالحې او اصلاح سیاست تپل غوښتل.

**یو تن وایي**

موږ ده ملي اصلاح طرحه اجراء کړل. موږ لویه جرګه راوه غوښتل او قبایلي مشرانو ته مو وویل: دا ستاسو هیواد دی. دا ستاسو حق دی چې خپلې قضې اصلاح کړی. موږ وه دوی ته دا واضحه کړل چې بس دی موږ ددوی ده مصلح کولو او تربیه کولو چاره پیل کړل. دې جریان ۳ کاله وخت ونیوی. موږ باید له مشرانو او خلګو سره هم اړیکې لرلې وای. او ده انخلال

(c) ketabton.com: The Digital Library



له نظره مو استفاده کړې وای. ما نجیب خبرو ته را وه غوښتی. موږ په تاشکند کې ملاقات سره وکړی. ما هغه او ده هغه ملګرو ته وویل چې زه غواړم چې ته په دې ښه سر خلاص کړې، چې موږ راوځو، زه تاته له سره اوس وایم چې وخت درکړم، ترڅو خپل ځانونه اماده کړی. تاسو باید ده هرڅه مسؤلیت واخلی. دا دا معنا نه ورکوي چې موږ نور له تاسو سره همکاري نه کوو، زموږ عسکر به راوځي او موږ به نور ددې جګړې نوره برخه نه یو. نور حالات ستاسو پر اوږو در سپارم. ته اړ یې چې مهمې فالیسی کې بدلون راولې. ته مجبوره یې چې ده مذهبي رهبرانو سره روابط ټینګ کړې. ده امامانو سره سر خلاص کړې. دا ډیره مهمه ده. دا یو ډیر زیات سخت بحث وو. زه فکر نه کوم چې نجیب دې ټولې هڅې کړې وي چې کولای یې سول. ترڅو ده مخالفو قوتونو سره سم تعلقات جوړ کړې. زموږ ډیپلوماتانو ډیره مرسته ورسره وکړل. موږ له هندوستان سره کښېنستلو او پاکستان، متحده ایالتونو سره هم. ده جینوا کمفرانس په جریان کې. موږ مهم کاغذات سره لاسلیک کړل. موږ بېله ځنډه په ټول جدیت کار کاوه. موږ نه غوښتل چې وارخطا او ناجده ښکاره سو. ده کال 1988 ده جینوا په کنفرانس کې مذاکرات شامل وو. سره له دې چې امریکا ځان کښې. خو ابر قوتونه وتوانېدل چې ده افغانستان ده روان حال په اړه ځني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټرونونه لاسلیک کړي. دا نو اوس ښه جوته سول چي روسي ځواکونه به افغانستان پرېږدي.

**یو تن وایي**

موږ غوښتل چي روس او موږ پوهېدلو چي دا یې آخري ورځي وې له ډېر فشار لاندي راوړو. ده روس یوه شرموونکې ماته زموږ ده نیت یوه برخه وه. ځکه دا لا اروایي او سیاسي پلوه له پام وړ وه.

بل خوا روسي جنرالان ځمکني حقایقو په درک په دې خبره قانع وه چي دا جګړه نسي ګټل کېدای. او پوهېدل چي مشران په مخفي او سرري ډول له مقاومت له مشرانو سره په مذاکراتو بوخت دي. خصوصا ده قوماندان مسعود سره چي ده پوره شمال باچا وو. هغه ځمکه چي ده شوروي وتونکي قواوي به یې پر لاره باندي وځي.

سربیره پر دې چي افغاني قواوو زګونه غورځول. خو نجیب سخت پریشانه وو. هغه پوهېدی چي یوه پلا روسان ووتل دی به ده مقاومت ده مشرانو مخه کوي. هغه خلګ چي ډاروونکي سیاسي مخالفین یې هم وه. بل خوا روسي برکچیان وتوانېدل ترځو ده وتلو پر وخت ده قوماندان مسعود سره ده غوربت پر موضوع نتیجې ته ورسیږي. سره له دې چي دوی نتیجې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته رسیدلي وه. بیا هم روسانو خپلو فوځیانو باندي امر وکړ چي ده مسعود کار وروکړي. دا امر ده سیاسینو له خوا وو.

**یو تن وایي**

له کومه پوري چي زه پوهېږم دا امر ده نجیب الله له طرفه راغلی وو. دا خارجه چارو وزیر شیوار ناټزي په توسط په دې هدف چي ده مسعود قواوي کمزوري سي. نجیب په دې ښه پوهېدی چي زموږ له وتلو وروسته مسعود ته یوازي پاته کیږي. مسعود یو تکړه، سیاسي مخالف وو، هغه خورا ډیر واک درلود. موږ هیڅا دا نه غوښتل. ده اوردو ده قیطې ده مشرانو عسکرو هیڅا نه غوښتل چي دا بریدونه وکړي. موږ څه ډول برید کولای سوای، چي زموږ ضمیر ملامتولو. هغه هم ده وتلو په حال کي. درحال چي موږ ده مقاومت له عسکرو سره یوځای گرځېدلو. موږ حتی یوځای چای چیښلې. خیر موږ یو له بل سره خدای په امانی کولې، او یوبل ته به مو ده ښه بخت هیله کول. بلعکس سهار وختي موږ دوی ټول ووژل. خیر موږ خو باید ده امر اطاعت کولای. فیصله سوې وه. موږ مجبور وو ترڅو دا کار وکړو. دا ده ټولو نظامي اسولو ضد چاره وه. خو سیاسیانو ټینگار کاوه. دا امر ده نجیب له خوا څخه راغلی وو. زه ددې هرڅه شاید یم. حتی ما په دې جگړه کي برخه هم واخیستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ۱۹۸۹ کال په جنوري مياشت کي سرو لښکرو ده ټايسن په نوم ده قوموندان مسعود پر ښنگرونو باندي ستر ستر عمليات په داسي وخت کي اجرا کړل چي اژغالگرو قوتونو اوربند هم درلود. ده ټايفن نومي دغو روسي عملياتو کي ۶۰۰ تنه مجاهدين شهيدان سول. خو مسعود دا قتل عام وزغمی. او ده سرو لښکرو ده آخري حملې ته يې هيڅ عکس العمل ونه ښود.

**يو تن وايي**

دا يوه ستره تېروتنه وه. هيڅ انساني، نظامي او سياسي توجيه يې نه درلودل. دا نهايته ناسمه فيصله وه. شمرموونکې موږ بايد هيڅ وخت داسي نه وای کړي. خصوصا په داسي وخت کي چي مسعود هيڅ مقاومت نه کوی. هغه فقد غوښتل چي موږ ووځو.

دا شرموونکی عمل ده يوې ستري فاجعې اخيرنی شرموونکې هڅه وه. او دا پروژه چي ټوله نړی ده روس له خوا افغانستان اژغال باله خو روس او ده هغوی غلامانو ترپايه ده افغانستان ده بقاء او ترقۍ لپاره صاحه مداخله بلل.

**يو تن وايي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلي شی دا وو چي باید دا جنگ ختم سوی وای. افغانستان ته ده فوځیانو ده لیږلو فیصله یو غمجنه فیصله وه. او له افغانستان څخه ده ځواکونو ده وتلو فیصله منسفانه او نهایته مهمه وه.

ده سرو لښکرو سره په یاده جګړه کي ده تلفاتو شمېر حیرانګن دی. یواځي ۱۲ لکه افغانان ده روسانو سره په جهاد کي شهیدان سول. او۶ میلیونه خلګ مهاجر سول. هیواد مکمل ویجاړ سو او تراوسه هم دا نه ختمېدونکې جګړه روانه ده. دا هیواد چي خلګ یې ده امپراطورو هدیره هم بولي دا هغه جګړه وه چي ده نړی نقشه یې وربدله کړه. دا جګړه چي یوه بله جګړه یې پیل کړه او یوه بله جګړه یې وزېږول. چي به نتایجو یې تر دې دمه هیڅوک هم نه دی خبر.

په کال ۱۹۸۹ ده فیبریوري په میاشت کي پر ۱۵ تاریخ باندي شوروي اتحاد خپل فوځیان له افغانستان څخه وایستل. په کال ۱۹۹۱ د ډسمبر په ۸ تاریخ شوروي اتحاد مات سو. په کال ۱۹۹۶ د سپټمبر په ۲۷ تاریخ طالبانو کابل فتح کړ. د ۲۰۰۱ کال د نویمبر په ۲۴ تاریخ صلیبي اشغالګرو افغانستان اشغال کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲: ده امریکا هډې**

په جریان کي انسان په دې پوه سوی دی چی ده بریا لنډه لار هوایي زربات، اصلحې انتقال، او دفاعي امن دی.امریکا ده تاریخ ستر ابر قدرت دی چي تر اوسه بدیل نه لري. له بل هر هیواد ټیري پیشې په فوځي برخه کي مصرفوي.

دا خورا ښرگنده ده. په حقیقت کي وگړي پرې ډیر نه دي خبر امریکا په نړی او ځمکه کي ۸۰۰ فوځي هډې لري. په نقشه ټولي هډې تاسو نسی ښرگندولای. دا نظامي هډې خورا ډیري ستري او بعضی ډیري وړې هم سته چي ده سمندر په منځ کي دي.

بل فرض ده نړی ده نورو هیوادو په نسبت بحرنی فوځي هډې سره راجمعه کړو نو جمله یې ۳۰ ته رسیږي. له امریکا پرته بل هیواد دومره فوځي هډې نه لري. او لویه پوښتنه دا ده چي ښه نو امریکا دې ته څه پام سو او څومره امریکایي محصولات یې اخراجات کوي.

امریکا په نړی کي ده دویمي نړیوالي جگړې وروسته خواره سول. کله چي امریکا ده نړیوال سخت جنگ وروسته په جرمني او جاپان هیوادونو کي میشته سول ترڅو ده امن راولي. جاپان او جرمنی اوس ډیر محکم او قوي دیموکراسي لري او متحدین دي. امریکا اوس هم په جاپان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي ۵۰۰۰۰ سرتیري لري. او په جرمني کي ۵۴۰۰۰ سرتیري لري. او په کوریا کی ۲۸۵۰۰ فوځیان میشت دي.

سړې جګړې امریکا ده نړی هر کونج ته وغځول. دلته په شوروي کي فوځي تسنیعاتو په میلیونونو ډالرو ده مصرف په لامل بهتر پوهېږی همدا لامل دی چي اسو ده تاریخ ترټولو محصول تحلیلوی.

آن چي دا چي اوس سړه جګړه لا هم ختمه ده پر ځمکه اوس هم اسي ځای نه دی پاته چي ده امریکا له حضوره تش وي. بحري هډې چي په ګونتنامو بې کي دي واړه ده بې هوا بازه الوتکو میدانونه چي ده افریقا په هورن سیمو کي دي او آن وړې وړې پوستې چي ده هند په بحر او ډیاګو ګرسیا کي دي.

او په بحر کي ده امریکایي هډو ساتنه هیڅ ارزانه نه ده. ده کاله له ۷۰ او ۱۰۰ بیلیونو ډالرو ترمنځ مصارف کوي. دا ده بل هر هیواد له بوجیدې څخه لویه ده. په بحر هیوادونو کي چي میشت دي له ۱۰۰۰۰ څخه بیا ۴۰۰۰۰ ډالرو په کور کي ده ساتل کېدلو فوځیانو په نسبت اضافه مصرف راځي. خو ده بعضو قانون جوړوونکو به اند دا مصارف معقول دي.ځکه دا هرڅه په ځمکه کي ده فصاد ده مخنیوي په هدف ترسره کیږي. او ده خارجه فالیسي تقاضا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تیرو ۷ کلونو کي امریکا ده نړی په مختلفو سیمو کي ده خطر په بهانو نظامي هډې نسب کړي دي. او بیا یې هیڅکله هم نه دي پریښي. ولوکه خطرات کم دي. په نړی کي ده امریکا دا ستر نظامي حظور چي په اړه یې ډیر کم بحث کیږي ده امریکا څېرځواکي ښيي. او دا موږ یو چیرته چي ده محصول په ورکولو په نړی کي ده امریکا نظامي حضور تبدیلوو.

موږ ټولو دا هرڅه معقوله ګڼلي دي چي له خپل اقتصاده میلیونونه ډلره بهر هیوادونو کي ده خپلو فوځي هډو دروازو خلاصولو ته پام کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳: احرام مصر

### چا، ولې، او څه ډول تعمیر کړه؟

احرام مصر ده نړی ده ۷ عجایبو موقعیتونو څخه شمیرل کیږي. دا یو داسي عظیم انساني تعمیر دی چي ده نن وخت ساینس هم ورته حیران دی. له زرگونو پیړیو وروسته لا هم ولاړ دی. ده زرگونو محققیقینو تحقیقات یې لا ده تخنیک درک ته لا نه دي رسېدلي. محققیقینو په خورا دقت ددې سترو تعمیراتو له شا ده جادویي رازونو و اثرارو ده اپشا کولو او لاسته راوړلو لپاره تحقیقات کړي دي. تر څو دا معلومه سي چي ده احرام مصر له تعمیرولو هدف څه دی. خو په هر حال او له سختو خواریو وروسته یې بیا هم تل ته نه دي رسېدلي.

نو پر همدې بناء بعضو ده علم او تخنیک خزانه نومولې، بعضي یې شیطاني تعمیرات بولي، بعضی یې بیا وایي چي دډې عمارتونو تعمیر ته له اسمانه خدایان ورکښته سوي او بعضي یې ده خلایي وگړو کارنامه بولي. دا تعمیرات څه دي ده څه لپاره دي ده چا دي او ده څه لپاره تعمیر سوي دي؟

احرام مصر ده څه لپاره تعمیر سوی دی. ده لرغونو اثارو پلټوونکي ده تاریخ او فلسفې محققیقین، ساینس پوهان ده احرام مصر په اړوند په یوه خوله نه دي. یوه ډله وایي چي دا تر عمارتونه ده فرعونیانو هدیرې دي ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوا مصریانو دا عقیده درلودل چي که یو کس مړ سي او جسد یې وژغورل سي وروسته بیا راژوندی کیږي. پر همدې اثاث به دوی ده فرعوني شاهانو جسمونه له مم کولو وروسته په دغه تعمیراتو کي ساتل ترڅو په خورا محفوظ حالت کي اوږد خوب وکړي.

دغو مصریانو به دغه معتبر غړي له جسم سره ده هغه مینزي، سره زر او سپین زر او نور مهم اصناد هم ښخول. ترڅو که کوم فرعونی له یاد قسم خوب څخه رابیدار سي نو به یې ټول ملکیت هم ورسره وي. بعضې یې بیا ردوي هغې وایي چي هیڅوک پر قبرونو باندي دومره خواري نه کاږي. هغوی باور لري چي دا ستر ستر احرامونه او عمارتونه اصلا ده بې لینه برق بریښناکوټونه دي. چي ده نړی مختلفو ځایونو ته ده لینونو او تار پرته بریښنا انتقالولای سي.

دوی خپله ده ځینو دلایلو پر اساس وړاندي کوي. دوی وایي چي دا عمارتونه له دننه څخه له داسي ډول مادو څخه جوړ سوي دي چي نن وخت ترې له بټریو او بریښنا ده انتقال په برخه کي ورڅخه استفاده کوو.

**مېټیس ډی ستیفینو وایي**

دی وایي چي زما خپل تېر ژوند پیاد دی. او ادعا لري چي هغه ده فرعون پر وخت ژوندی وو. دی زیاتوي چي ښه یې بیاد دي چي څه ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرعونيانو دا ستر عمارتونه جوړ کړل. دی وايي چي دا احرامونه يواځي ددې کړې دخلګو ټکنالوجي نه ول. بلکي دا ټکنالوجي دوی له ګڼو نورو سيارو م راانتقال کړې وه. همدا راز يې هلته په هغو سيارو کي هم دا ډول عمارتونه تعمير کړی وه. ځکه دده په باور دا عمارتونه زموږ او هغوی ترمنځ ده ارتباط خادې وې. په دې ډول به سره وصل کېدو. دی زياتوي چي دا ستر عمارتونه په موسيقی جوړ کړي دي. ده موسيقی په څپو او اوازونو دا بشپړ عمارتونه په وينا په يو دول ريږد او فريکونسی باندي داسي دنګ درولي دي. او زياتوي چي له نورو ځمکو او سيارو څخه هم مخلوقات ددغه عمارتونو ده تعمير په برخه کي همکاری ته راغلي وه. مېتس زياتوي چي دا درنې خښتي ده الوتکو په مټ نه دي پورته کړي.بلکي دا هرڅه يې ده بريښنايي توکو په مټ وړپورته کړي دي. چي ده اهن ربا او مقناطيس جمعه اوبو څخه ترکيب وه. دی زياتوي چي احرامونه په نړی کي ده کمپيوټرو ده ارتباط ستر جال يا نيټورک په څير وه. په دې توګه له ګڼو نورو مخلوقاتو سره چي له ځمکي پرته ده کائناتو په نورو برخو کي پراته ول په رابطه کي ول.

بلخوا چيرس اوف ده ګوډز په نوم ده کتاب ليکوال ايرک رين ډونيکن وايي چي ددې ډول پرمختللي عمارت ساختماني چاري ده هغه وخت ده انسانانو له علم څخه لوړي وې. دا له ستورو راغلي مېلمنو جوړ کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیزاین، تخنیک وغیره وغیره ده هغوی وو موږ انسانان یې فقط مزدوران وو. نومړی زیاتوي چې دا ستر عمارتونه یې خوایانو ته ورجوړ کړي دي. او زیاتوي چې خدایان بېشکه ده کائناتو له نورو برخو راتلل او دلته به راکښته کېدل. دی زیاتوي چې ریاضي او تعمیراتي چارو کي ده انسانانو علم ده خدایانو دی.

یوه ډله وایي چې دا تعمیرات ده هورس په نوم ددوی یوه معبود جوړ کړی دی. هورس په مصریانو کي ده لوړي مرتبې او معزز خدای ګنل کېده. چي هورس او نورو خدایانو سره په رابطه کي دی. په دې کي باید یادونه وکړو چي فرعون ملعون له مرګ وروسته هم عبادت کېده. او دا خبره به کېدل چي هغه په اوسیریس خدای باندي بدل سوی دی. اوسیریس معبود یې بیا ده هورس او نورو معبودانو پلار ګنل کېده. پاته دي نه وي چي ده هورس نومي معبود اوس هم عبادت کیږي. فریمینسن او ایلومیناتیان یې خپل خدای ګڼي او خورا معزز یې ګڼي. دوی عقیده لري چي کله دوی ده نړی ده ټولو وګړو په نظر کي ده ساتلو قابل وګرځي نو ددې هورس معبود سترګه به له دې احرام څخه ورته راښکاره سي. او په تعقید به یې نړیوال حاکمیت اعده سي. یعني ده نړیوال کلیوالتوب له حاکمیت څخه وروسته به یې معبود له احرامونو څخه خروج راکوي او په قیادت کي به یې پوره نړی نیسي. مسلمانان دغه یو سترګي کس ته دجال وایي. ده احرام مصر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړوند داسي یو دې ته ورته په زرگونه خندوونکي دروغجني او ساینسي نظریې موجودي دي. خو هیڅچا لا تر اوسه په خپل علم او عقل ددې عمارتونو وجوهات نه دي کشف کړي. کوم نظریات چې موجود دي نا معقل او انتهایي خندوونکي دي.

په مصر او په ټوله نړی کي ده بعضو په اند ۱۱۸ احرامونه چې تر اوسه کشف سوي دي سته. خو بعضي یې بیا وایي چې کابو ۸۰۰۰ عدده دا ډول تعمیرات موجود دي. چې ده سټلایټ او نورو تخنیکي وسایلو په وسیله بعضي په ځنگلونو، دریابونو کي، بعضي ده ځمکي په تل کي، بعضي یې په ریگو کي او اور لاندي کشف سوي دي. دوی په انترا کتیکا، صربیا، دهوندوراس، گواتمالا، السلوادور، بیلز او مکسیکو په ځنگلونو کي په سلگونه احرامونه موندلي دي. ویل کیږي یواځې په چین کي کابو ۲۵۰ دا ډول احرامونه موندل سوی دي. او په خورا ډیرو هیوادونو کي موجود دي. ده مصر احرامونه چې تقریبا له نن کابو ۶۵۰۰ کاله وړاندي تعمیر سوي دي. تعمیر یې ۲۰ کاله وخت ونیوی. ۲۴ ساعته ۲۰۰۰۰ زره کارکوونکو او ده بعضو په حواله ۱۰۰۰۰۰ کارکوونکو پر دې ستري پروژې کار کوی. یواځې گزي ته ځیرمه احرام یې پر ۳۱ ایکړه ځمکه پروت دی. ۴۸۰ فوټه جگ ۶ میلیونه ټنه دروند دی. ده ۱ او۲ میلیونه په منځ کي خښتي سره اینښوول سوي دي. هر خښته له ۱ ټنه څخه بیا تر ۲۰ ټنو پوري وزن لري. تاریخ پوهان تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسه ددې احرامونو په څرنګوالي باندي نه دي پوه سوي. خو دوی دا وايي چي لومړی دا احرامونه په خورا برېښېدونکو څلور کونجه خښتو پوښل سوي وو. چي په خورا کمال سره تراشل سوي او سره ایښودل شوي وو. دا ډېرو به ده لمر په وړانګو ده هنداري په څېر پړکا کوله. او خورا ښکلي ښکارېدل. دوی وايي چي دا احرامونه چي اوس 4 کنجونه لري اصلا 8 کونجونه یې درلودل. خو بیا وروسته ده وخت او موسم په بدلون او زلزلو له امله بعضي حصې راښوی سوې. اصلي بڼي یې توپیر وموند او هغه پاته برېښېدونکي خښتي یا مادې یې خلګو غلا یا ضایع کړلې.

**حقیقت څه دی؟**

اسلام ده هر سخت او عجیب سوال جواب دی. ده نورو سختو سوالونو په راض ددې سوال تحقیق هم په اسلامي علمي ذخیره کي مومو. په دې اړوند ده علماوو ۱ رایه داده چی دا عمارتونه ده هامان ده فرعون په غوښتنه له پخو خښتو څخه جوړ کړي دي. ده قرآن کریم په صورة القصص کي الله(ج) ده داغه عمارتونو ده تعمیر راض، څرنګوالی او لامل ته په اشاره فرمايي ( او بیا فرعون وویل چي اې ملکانو، زه له ځان پرته تاسو ته بل خدای نه پېژنم ښه نو اې هامانه ته زما لپاره خاوره په اور کي پخه کړه او زما لپاره خورا جګه ودانی بناء کړه ترڅو ورووه غېږم او ده موسی ده رب معلومات وکړم). خو بل رایه هم سته. بعضي علماء وايي چي په دې آیت کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه عمارتونه دا نه دي. دوی ده صورة الاعراف ده ۱۳۶، ۱۳۷ او ګڼو نورو آیتونو څخه استدلال کوي. او وایي چي ده فرعونیانو دنګ عمارتونه او ښارونه ده هغوی ده سرکښی او تکبر له امله له الهی قهر سره مخ سوه. په ځمکه باندي رانسکور کړل سوه او غرق سول. نو ځکه دا عمارتونه ده فرعونیانو نه دي. بلکي دا عمارتونه ده قومي عهد اړوند دي. او په دلیل کي ده قرآن عظیم الشان ګڼ شمیر آیتونه چي ده قومي عهد په ساختماني چارو کي ده مهارت په ډبرینو محلونو ده فخر او ده غټو محلونو ته تعمیرولو یادوني سوي دي استدلالوي يې. قومي عهد جسما خورا لوی لوی ول. دوی په ساختماني چارو کي خورا ماهر ول. دوی به ځانونو ته له ډبرو کورونه جوړول آن غرونه به يې تراشل او نقاشی به يې پکښي کولې. احرام مصر هم خورا له لویو خشتو څخه جوړ سوی دی. عجیب دی او به خورا مهارت جوړ سوی دی. زموږ په قد کوچنیو خلګو ته يې تعمیر ناممکن دی. نو ده قومي عهد صفاتو، مهارتونو او عادتونو، د هغوی حجم او لوی والي ته په کتو دا خبره هم ده رد نه ده چي شاید دا عمارتونه ده فرعونیانو نه وي بلکي ده قومي عهد په لاسو باندي جوړ سوي وي والله اعلم.

په دې توګه ده نورو ټولو غلطو نظریو او شیطاني وسوسو او د سیسو دروازه بنده سوه. نور نو سوال بې جوابه نه دی. ده ټولو څېړنو او هر راز ساینسي او تاریخي تحقیقاتو نتیجه هم یوازي هم دا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره دا ده چي یا خو دا عمارتونه فرعون ده موسی(ع) ده رب سره ده خبرو ده سپینولو لپاره بناء کړي. ددې تعمیراتو انجینر هامان دی. په اور له پخو خښتو څخه جوړ سوی دی. چون کي ساینسي تحقیقات هم دا ثابت کړې ده. یا خو قومي عهد جوړ کړي دي. چي وروسته ده الله رب العزت له لوري په قهر اخته سول. دا احرامونه نه خلایي مخلوق جوړ کړي دي. نه دجالي مخلوق جوړ کړي دي او نه بله خندوونکې تپسیره ده تطبیق وړ ده. ددې احرامونو تعمیر له ۵۰۰۰ کلونو څخه بیا تر ۶۰۰۰ کلونو پوري اټکل سوی دی. په هغه وختونو کي انسانیت تاریخ خاص نه ثبتوی. همدا لامل دی چي پرې زرگونه قصې جوړي سوي دي، ناولونه پرې جوړ سوي دي او زرگونه فیلمونه وربادني جوړ سوي دي. خو لا یې بیا هم حقیقي رازونه پټ دي لا پرې جوړیږي. خو حقیقت قرآن په خورا روانو ټکو څرگند کړی دی. که هرڅومره څیړني او تحقیقات ترسره شي فقد به ده قرآن کریم ادعاء ثابته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴: ده افغانستان لیتیم**

لیتیم ده لومړي ځل لپاره په ۱۸۰۰ زیږدیز کال کي ده برازیلي کیمیادان او سیاست وال خزه بنوفاسیو دواندرای سلوا له خوا ده سویډن په یوه کان کي کشف سو. لیتیم یوه کیمیاوي ماده ده. کیمیاوي سمبول یې Li او اټومي نمبر یې ۳ دی. په ۱۸۰ درجې سانتیگراټه تودوخه کي ویلي کیږي. سره له دې چي کیمیا پوهانو او فزیک پوهانو ده ۱۹ پېړی تر پایه ده لیتیم په اړه څېړني وکړې خو ده ۲۰ پېړی تر لومړیو پوري له لیتیم څخه په پراخه پیمانه استفاده نه وه سوې.

لیتیم تر نورو فلزونو زیاته القلي لري. انرژي یې لږه ده او په اسانه له اوبو سره تعامل کوي. همدا راز ده نورو القلي لرونکو فلزونو په شان ده بریښنا ده جریان عادي دی. او فوق الاده عکس العمل لري. له همدې کبله په ۱۹۳۹ میلادي کال په هیلیم ده لیتیم په اړولو سره ده انسان لومړنی اټومي عکس العمل وموند. او له اتومي فزیک سره ده لیتیم ارتباط حتمي سو. لیتیم یو نادر فلز او عنصر دی چي ده ډیجیټلي دستگاو، موبایلونو، ډرون الوتکو، ښیښو، ده عینکو ده عادسیو، سرامیکي موادو، هوایي توغوندیو، لپټاپونو، بریښنایي موټرونو او نورو برقي او الکترونیکیو محصولاتو، روباټو او په ځانگړي ډول ده بټریو جوړولو کي ترې کار اخیستل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لیتیم څخه تر ټولو مهمه استفاده په فضایي او فوځي برخو کې کیږي. له لیتیم څخه ده راکیټونو او توغوندیو ده جامد سوم موادو، همداراز په هایدروجوني او اټومي بمونو کي کار اخیستل کیږي. له هایدرو اکسایډ لیتیمه ده تودوخي له لوړي درجې په وړاندي په مقاومت لرونکو وړیو ده ویلي کولو په صنعتونو، ده فلزونو په ویلډنګ کاری او نورو کیمیاوي صنایعو کي کار اخیستل کیږي. او له دې کبله چي لیتیم ده اور اخیستو په وخت ده لیتیم شغلې خپریږي په اور لوبو او فشنګونو کي هم کارول کیږي.

ده هایدرو اکسایډ لیتیم کاربن ډای اکسایډ جذبوي نو له هایدرواکسایډ لیتیم او همداراز پارا اکسایډ لیتیم څخه ده هوا ده جریان ده پاکولو تولیدي صنعتونو، ده ګازونو په افرازونو کي استفاده کیږي. خو ترټولو په زړه پوري شی دادی چي په طبابت کي هم له لیتیم څخه استفاده کیږي. ده ختکان او رواني ناروغیو او عصبي ناروغیو په درملنه کي له دې عنصره ګټه اخیستل کیږي. همدا علت دی چي لیتیم ده صنعت لپاره ده یوې مهمي مادې باندي بدل سوی دی. اروپایي ټولني په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کي لیتیم ده ۳۰ لومړنیو مادو په لیست کي داخل کړ. چي نن وخت انسانان په خپل ژوند کي ډیره او سخته اړتیا ورته لري. ده انرژی نړیوال اژانس یا IAE چي په نړیواله کچه لیتیم ته اړتیا ورځ په ورځ زیاتیږي. دغه اړتیا به تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۴۰ زیږدیز پورې ۴۰ چنده ډېره سي. دا اوس ده نړۍ ډېره برخه لیتیم په ارجنټاین، استرالیا، برازیل، کاناډا او چیلي هیوادونو کي ترلاسه کیږي.

ده امریکا ده ځمکي پیژندي اداري په خبره په افغانستان کي لیتیم په غزني، هرات، نو نیمروز کي واقع دي. خو ده دقیقو سروې کانو له مخي په افغانستان کي ده لیتیم ده کانونو اوږدواله له ۷۵۰ څخه بیا تر ۹۰۰ کیلومتره ښودل سوی. چي له هلمند څخه ننګرهار پوري او له لغمان څخه تر ارزګان پوري او ده اشکش ولسوالی پوري دوام کوي. ددغو کانونو سور یا عرض شاوخوا ۱۵۰ څخه بیا تر ۲۰۰ کیلومتره پوري ښودل سوی دی. جامنګ، مسکوشده، او ده نورستان ولایت په مربوطاطو کي یې مشهور ځایونه دي.

**د افغانستان ده لیتیمو د کانونو ارزښت**

په افغانستان کي ډول ډول کانونه او طبیعي شتمنی سته چي تر اوسه پوري لا ندي سپړل سوي. ده افغانستان کانونه ددغه هیواد په طبیعي شتمنیو کي شمیرل کیږي. په دې قیمتي کانونو کي ده اوسپني، مسو، سروزرو، ډبو سکرو، لیتیم او ځانګړو قیمتي ډبرو لوی معدني رګونه شامل دي او دومره دي چي کولای سي چي دا غریب هیواد ده نړۍ له مخکښو معدني مرکزونو څخه ۱ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ده افغانستان ده لیتیمو ارزښت

ده افغانستان ده لیتیم کانونو ارزښت شاوخوا ۳ ټریلیونه دی. داسې چې افغانستان له عربستان سره پرتله کېدای سي. عربستان په نړی کي ده تیلو لوی تولیدوونکی دی. او افغانستان به په نړی کي ده لیتیمو ستر تولیدوونکی وي. ده امریکا نیویارک ټایم ورځپاني په ۲۰۱۰ زیږدیز کال کي یو مطلب خپور کړ چي سرلیک یې وو افغانستان ده لیتیمو عربستان. یعني ده لیتیمو اندازه په افغانستان کي دومره زیاته ده لکه نفت چي په عربستان کي زیات دي. ده یادوني وړ ده چي ده افغانستان ده کانونو ارزښت په ۲۰۱۳ زیږدیز کال کي شاوخوا ۱ ټریلیون ډالر آتکل سوی وو. خو وروسته ده لیتیم ده نادره کانونو تثبیت دغه رقم ۳ ټریلیونه ډلره ته پورته کړ. ډیوم پیټرون په خپل کتاب  ده نادرو فلزاتو په جګړه کي لیکي چي افغانستان کي ده لیتیوم داسي ذخایر او معدن سته چي تر ننه پوري یې لاس ندی خوړلی. او استفاده نده ترې سوې. ده شمېرو له مخي افغانستان دولت ده کانونو له لاري په کال کي ۱ میلیارډ ډالر عاید ترلاسه کولای سي. خو دا چي هیواد اشغال وو او ده واک واګي ده غلامانو په لاسونو کي وې او شدید جنګ روان وو نو ده کانونو وه استخراج ته زمینه مساعده نه وه. اوس چي الحمدلله په هیواد کي سرتاسري امن تأمین دی. او ده مسلکي او اصولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



استخراج پروړاندي موانع ختم دی تمه ده ترڅو په دې برخه کي ژر ترژره کار پیل سي.

**تبصیره**

ده الله(ج) په ځانګړي کرامتونو ده مسلمانانو مځکی هم له پطرولو او هم له لیتیمو له ذیرمو ډکي دي. په بې ساري ډول ده اقلیم بدلون له امله اوس ډېری هیواد په تدریجي ډول پر تیلو چلېدونکو موترونه بندوي. بدیل یې بریښنایي موټرونه په ګوته کوي. کار پوهان وایي چي ده لیتیم تر ټولو لویه ذریمه په افغانستان کي ده. که نوی افغان امارت وړتیا ثابته کړي نو افغانستان به ډېر ژر ده جنګونو ده خاورو ده شتمنیو په مرکز بدل شي.

ده امریکا ده ټیولیستانو په وینا ده افغانستان په خاورو کي ۳ ټریلیونه یعني ۳۰۰۰ میلیارډه ډالر ښخ دي. امریکایانو یواځې په سکېنونو او سروې ګانو ۱۷ میلیونه ډالر لګولي. ده الله(ج) ده طبیعت له لاري دغه هیواد ته په کافي اندازه نیوډیمیم، سیریم، لانتانوم، کوبالټ او مس هم ورکړي دي. مګر لیتیم یې ده اوس مهال لپاره تر ټولو مهم شی دی. په نړیوال بازار کي ۴۰ سلنه غوښتنه زیاته سوې ده. ډېری هیوادونه ددې خزانې موندلو لپاره هلي ځلي کوي. آن ده تیلو بډایه هیوادونه لکه صعودي عربستان هم ځکه چي دا ده چاپیریال دوستانه انرژي ده. له همدې امله دې ته شین

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتصاد ویل کیږي. او ده پرمختګ راتلونکی پړاو تر هغه پوري اړه لري. ده امریکا ده جیولوجیکي سروې اداري په یوه تازه راپور کي ویلي دي چي ده افغانستان په خاوره کي ښخ سوي نادرو او ارزښتناکو فلزاتو ته لاسرسی ورا ارسانه دی. دا ډیري هڅي یا پانګوني ته اړتیا نه لري. که داسي وسي افغانستان به ډیر ژر ده کانونو پر نړیوال مرکز باندي بدل سي.

**خبر دار:**

موږ ده استقلال، کلتور ده هیواد ده دښمنانو ترڅنګ ده هیواد ده کانونو دښمنان هم لرو اوخرګند ګواښونه ورته متوجه دي. تل ده سیمه ییزو او نړیوالو فتنه ګرو او هیوادني جاسوسانو، غلامانو په منګلو کي راښکېل سوي دي. ده لیتیم کانونو ته ده مفت لاسرسي په موخه ده بلېک واټر شرکت هم هڅه وکړل. ټرمپ هم په خپله یوه وینا کي ویلي وه چي پر افغانستان ده امریکا له خوا ده تېل سوي جګړې قیمت به بیرته له افغانانو ده هغوی ده هیواد ده کانونو په کیندني اصول کړي. په دې آخیر کي ده امریکا آجري اداري په خپل ټول توان هڅه وکړه ترڅو ده اشغال بقاء او تداوم ته افغانستان ده کانونو په بدل کي وپیري. اشرف غني ده ټرمپ هغي خبري ته چي ویل یې له افغانستان څخه به خپل فوځونه وباسي ځکه دا جګړه دوی ته په اقتصادي برخه کي شدید نقصان رسولی، په غبرګون کي یې وویل چي ده افغانستان له کانونو اشغال، اکمال او تمویل کړی. خو تر ټولو ډیر چي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کانونو په برخه کې خیانت ترسره کړی ده احمد شاه مسعود ډله وه. چې ده هیواد له شمال څخه په مصل صل ډول کانونه استخراجول او په بحر هیوادونو کې یې پرې خپلې عیاشی کولې.

فرانس او نور یلغلګر هیوادونه به یې تشویق کول ترڅو ده هیواد له ملي شتمنیو په لوټ کې ورسره مرسته وکړي.

**زموږ دنده**

دا ده افغانانو دنده ده چې ده خپل هیواد له ملي شتمنیو څخه هر اړخیز دفاع وکړي. او ده راتلونکو نسلونو لپاره دا ملي شتمنی وساتي. له ضیاع څخه یې ډډه وسي. او ده احسني استفادې لپاره یې لاس په کار سي. له حکومت سره مرسته وکړي. په دې برخه کې پوهان، څېړني او تحقیقات وکړي او ده امارت مشران هم په صداقت او دې مهمي دندي ته متوجه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵: برمودا او ټراینګل مثلثونه / برمودا مثلث او شیطاني دریاب**

ستري ستري بحري کوښتی، نظامي او ملکي تیارې، لښکری او صفونه فوځیان څنګه ژوندي ژړانده ورکسي؟

چا چیرته او ده څه لپاره؟. څه ډول ده نړی ابرځواکونه زبردسته ټکنالوجي او ده لټون کلک عظمونه خپل لادرکه موقعیتونه نسي موندلای.

ده اوبو پر شا دا ساحې تر ځولو خطرناکي، اسراري او له رازونو ډځخه ډکي دي.

**برمودا مثلث**

ده بحر اقیانوس په مغرب ده امریکا ده فلوریډا ده ایالت په جنوبي مشرق کي داسي یوه سیمه موجوده ده چي په برمودا مثلث باندي پیژندل کیږي.دا حصه ده یوه مثلث شکل لري. او ویل ګیږي چي دا شیطاني سمندري برخه ده.دا له دې امله چي په دې سیمه کي داسي عجیب او غریب واقعات پیښ سوي دي چي تر نن ورځي پوري یې لاملونه لاندي معلوم. ده معاصري ټګنالوجی باوجود ده ټولي نړی ساینس پوهان او څېړونکي په دې موضوع کي مختلفي رایي لري. خو هیچا یې کوم واضح تشریح یا خپلي رایي ته جود دلیلونه ندي راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅو دا ثابته سي چي آخر ددې سمندر په تل کي داسي کوم راض دی چي له امله یې په لاره تلونکي هوایي او سمندري جازونه او کښتی غرقي سي پسي ورکي سي ده حکمتونو په سطحه له لټون وروسته یې بیا هم هیڅ څرک ندی لګېدلی.

له دې کبله له عصري ټکنالوجی باوجود ټولي بحري کښتی پردې سیمي نه ورځي او ده هوایي تیارو عمله هم سپرلي نه پرې کوي چي پر برمودا مثلث باندي دپاسه تیریږي. دا علاقې ډیر کم نفوس لري. اکثره جذیرې یې غیر ابادي دي. برمودا مثلث ته ورته په سمندر کي بله سیمه هم سته چي کټمټ همداسي له رازونو څخه ډکي پیښي پکښي سوي دي. هغه بیا شیطاني سمندر یا ډیول سي نومیږي.

بلاآخره ددې برمودا مثلث او ډیول سي حقیقت څه دی. پرې ده پوهېدني لپاره یې دیني او ساینسي دواړه اړخونه ده څېړني لاندي نیسو.

ده برمودا مثلث په اړه تر هر چا وړاندي کرستوفر کولمبس په کال ۱۹۹۲ کي نقل کړي وو. ده نوموړي په استناد ده دیوه سفر په جریان کي ده سمندر پر یوې حصې لوړه او کښته کي رڼا ولیدله او په سمندر کي یې ده اور لمبې ولیدلې. او علاوه پر دې یې قطب نما یا کمپاس صحیح طرف نه ښودی. مطلب دا چي په سیمه کي مقناطیسي څپې موجودي وې. او نهایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



خریق العده غیر معمولي حرکات یې ده سمندر په دې حصه کې ولیدل. په داسي حال کي چي ده برمودا مثلث په تړاو لومړی واقعه په ۱۸ پیړی کي رامنځته سوې وه.

کله چي په ۱۸۱۳ کي ده امریکا ده ۳ جمهورئیس معاوین لور اډوسي پر دې لاره ده خپل پلار وه لیدلو ته په پټرویټ کښتی کي وه نیویارک ښار ته تلل ژوندی ژړانده ورکه سوه. ده پټرویټ کښتی کپتان ده نړی بهترین کپتان بلل کېدی. دغه لوړپوړي چارواکي ده ټوله هیواد په کچه زور وکړ چي خپله ورکه لور پیداکړي لاکن هیڅ معلومات یې ونه وسو. له یادې واقعې ۱ کال وروسته په کال ۱۸۱۴ کي ده امریکا یوه ستره کښتی واس بې هم په برمودا مثلث کي ورکه سوه. ددې کښتی چلوونکی هم ده خپل وخت نامتو کپتان بلل کېدی.

او له دې وروسته په مسل سل ډول ده بحري کښتیانو ده ورکېدلو یوه نه ختمېدونکې سلسله شروع سوه. تر ټولو وېروونکې پېښه هغه وخت رامنځ ته سوه کله چي ده برمودا مثلث پر اوبو یوه کښتی داسي وموندل سوه چي ټوله سپرلی او عمله یې غائبه وه. ده خوراک پر مېز خوراکونه داسي موجود وو. لکه ټولو چي خوراک کړی وي او بیا تللي وي. ده هیڅ پیښي هیڅ نښه نه وه. همدې ته ورته یوه بله پېښه هغه وخت رامنځ ته سوه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ایس ایس ټیل نومي یوه کښتی ده برمودا مثلث ته څېرمه بغیر له مسافرو او چلوونکو ومو‌ندل سوه او دا ډول پیښي پخوا هم رامنځ ته سوي وې.

لاکن ترټولو عجیبه جودا وه چي تر یووخته پوري دا په کاغذاتو کي غرقه سوې ثبت سوې وه. لاکن له کلونو څخه وروسته بیا هم دا کښتی صحیح او سلامته ومو‌ندل سوه. هغه هم ده کومي سپرلی او عملې پرته. خو سوال اوس دادی چي دا غرقي سوي کښتی اوس څنګه ده اوبو پر سر راته ګرځي؟

له ۱۸۵۰ څخه بیا تر اوسه لسګونه بحري کښتی غرقي سوي ثبت سوي دي. خو له ۱۹۴۵ څخه په راپدې خوا هوایي تیارې ورکېدل هم پیل سوه. کله چي له فلوریډا ایالت څخه ۱۰ تربیه تي تیارې پرواز راوکړ ده بیرته ګرځېدو پروخت ۲ تیارې ورڅخه ورکي سوې. څو ورځي وروسته دانوري تیارې هم ورسره ورکي سوې. کله چي ده یادو تیارو او شاګردانو ده پیداکولو لپاره یوه بله نظامي تیاره ولیږدول سوه هغه هم پسي ورکه سوه. بیا یې هیڅ معلومات ونه سو. ولوکه تر دې وخته پوري برمودا مثلث په سمندر کي په لسهاوو او سلهاوو بحري کښتی او هوایي جهازونه ورک سوي دي خو ده امریکا په بحري نقشو کي ددې اړوند هیڅ یادونه نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساینس پوهان وايي چي دا پیښي ده سمندر په نورو برخو کي ده پیښو څخه توپیر نه لري. بعضي يې بیاوايي چي دا پیښي ده مقناطیسي څپو په پایله کي رامنځ ته کیږي. کمپاس یا قطب نما کار پريږدي ځکه نو دا پیښي رامنځ ته کیږي. بعضي يې بیا وايي چي دلته زلزلې ستري ستري سمندري څپې رامنځ ته کوي. چي کښتی خپلي خواته په کشولو ډوبوي. او وايي چي هوايي جهازونه ده سمندري او مقناطیسي څپو له امله په سمندر کي راغورځي.

ددې واقعاتو سربیره بعضي ساینس پوهان وايي چي دلته کومه غټه کښتی نده غرقه سوې بلکي ده مقناطیسي څپو له امله وړې کښتی غرقي سوي دي او دا بحث له پېړیو راشروع دی. او ساینس پوهان په دې برخه کي جدي اختلاف هم سره لري. هلته ده کښتی کمپاسونه کار کول پريږدي درحال چي ده ورکي سویو کښتیو سالم پیداکېدنه هم تر اوسه کوم مستدل وضاحت نه لري.او ټول ساینس پوهان له دې عصري ټکنالوجی له لرلو باوجود ددې راز له کشفولو څخه قاصر دي.

اوس راځو ده سمندر وه یوې بلي سیمي ته چي ډیول سي یا شیطاني دریاب هم ورته ویل کیږي. کبلای خان ده مغولو خاندان یو له مهمو جنگي څپه سالارانو څخه وو. هغه په ۱۳ پیړی کي ده جاپان ده اشغال هڅه وکړل لاکن ده حملې پر وخت مکمل فوځ په اوبو کي ده نامعلومو دلایلو له مخي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرق سو. دا فوځ یې داسې کوچنی فوځ هم نه وو. دوی پوره ۴۰۰۰۰ تنه وه. دا همهغه ساحه ده چې ده بحر الکاهل ده جاپان له ټوکیو ښار څخه ۱۰۰ کیلومیټره لیرې ده مک جزیرې ته څېرمه ده. او ډیول سې یا ده شیطان دریاب بلل کیږي.

ده بحر اقیانوس ده برمودا مثلث او ده بحر الکاهل ده ډیول سې مثلث تر منځ واقعا یو نا قابله فهم تړاو موجود دی چې ښکه شیطاني به وي. دا چې ساینسي معلومات مستدل او مدلل نه دي او پرې اتقاء منتج نه ده همداراز پر یوه خوله نه دي راغلی دا موضوع له مذهبي نګاه څخه وڅېړو. ده حضرت تمیم الداري(رض) حدیث ددې دواړو سمندري ساحو په اړه موږ ته سالم درک راکولای او په بشپړ مو سوالونه راجواب کولای سي.

ددې روایت په استناد ویل کیږي چې حضرت محمد(ص) ټوله صاحبه راټول کړل. او وه یې فرمایل چې حضرت تمیم الداري(رض) ماته یوه داسې واقعه بیان کړه کومه چې ما تاسو ته ده دجال په اړوند بیانول. هغه ماته وویل چې هغه ده لخم او جزام ده قبیلو له ۳۰ نفرو سره یوځای ده سمندر په بحري کښتی کې روان سو. خو ددوی کښتی ده سمندري توفان هدف وګرځېدل او پوره ۱ میاشت دوري هوري ګرځېدل تردې چې هغوی وه یوې جذیرې ته ورسېدل او دا وخت ده لمر ده پرېوتلو وو. هغه پر یوه کوچنی کوښتی سپور سو او جذیرې ته داخل سو. هلته هغوی یو ځناور ولیدی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر جسم باندي يې ډير وريښتان درلودل. چې ده وريښتانو ده ډيروالي له امله يې جسامت ورک وو. حضرت تميم الداري(رض) ورته وويل چې خانه دي خرابه سه ته آخر څه شی يې، دې ځناور جواب ورکړ چې زه حصاصه يم، حضرت تميم الداري(رض) وويل چې حصاصه څه دی. دې ځناور جواب ورکړ چې اې خلګو په دې خونه کې موجود دې سړي خوا ته ورسی، هغه ستاسو ده خبرو په ډير تجسس منتظر دی. حضرت تميم الداري(رض) وډار سو چې هسې نه دا ځناور کوم شيطان وي کوم مشکل راپيښ نه کړي نو له همدې کبله هغوی په ډير تلوار وه خوني ته ورننوتل. چيرته چې هغه ده لوړ قد مضبوت کس وليدی. هغه له ځنګنونو څخه بيا تر بجلکو پوري تړلی وو. هغه ده اوسپنو په زولنو قيد وو چې په ظريعه يې لاسونه له غاړي سره تړل سوي وه.

حضرت تميم الداري(رض) ورڅخه وپوښتل چې ته څه شی يې. سړي جواب ورکړ چې ته به ژر پوه سې چې زه څوک يم. خو اول دا راته ووايه چې ته څوک يې. حضرت تميم الداري(رض) جواب ورکړ چې موږ عربان يو، او بيا موږ ده ټول سفر داستان ورواوروی. دې سړي بيا وپوښتل چې ماته ده بيسان ده نخليستان په اړه ووايا‌ست.

حضرت تميم الداري(رض) وه پوښتل چې په دې اړوند کومه پوښتنه کول غواړې، دې سړي وپوښتل چې ددې باغ وني ثمر کوي. حضرت تميم

(c) ketabton.com: The Digital Library



الداري(رض) جواب ورکړ چي هو کوي يې. دې سړي بيا پوښتنه وکړل چي ماته ده جهيل تبريه په اړوند ووايه چي ايا هلته اوبه موجودي دي ورته وويل سوه چي هو هلته اوبه سته.

بيا يې وپوښتل چي خلګ له دې اوبو څخه خپلي ځمکي خړوبوي او ماته ده حضرت محمد(ص) په اړوند هم ووايا ست. حضرت تميم الداري(رض) ورته وويل چي هغه له مکې څخه ووتی او اوس يثرت ته راغلی دی. بيا دې کس وه پوښتل چي رسول الله(ص) له عربانو سره جنګ وکړ او هلته يې له ده سره څه څه وکړل. حضرت تميم الداري(رض) ټوله کيسه ورته وکړه او ورته يې وويل چي حضرت محمد(ص) پر عربانو باندي غالب کړای سو.

بيا دې شخص ورته وويل چي اوس زه خپل ځان درښيم. چي زه دجال يم او ډير ژر به ده خروج اجازه راکړل سی. له دې واقعې جود بريښي چي جدال له پيړيو راهيسي پيداسوی دی. او يوازي ده خپلي ازادی په انتظار کي دی. او هغه په يوه غير اباده سيمه کي له خلګو ليري يواځي قيد دی. او هغه ده غير معمولي طاقتونو خاوند دی او غلامان يې ګړی په ګړی ده دنيا له حالاتو څخه خبروي.

حضور اکرم(ص) خپله عصا ۳ ځله پر ځمکه باندي ووهله دا طيبه ده، دا طيبه ده، دا طيبه ده. ما تاسو ته همدا ويل چي جدال نه ده شام په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمندر کي دی نه په یمن کي دی بلکي په مشرق کي دی. که له جزیرة العرب څخه ده مشرق پر طرف باندي وګورو نو یوازي ۲ داسي ځایونه سته چي ده مغرب اوسېدونکي یې هم شیطاني سمندر یا ډیول سي بولي.

لحاظه ده حدیث ده الفاظو مطابق جدال په مشرق کي دی. او ډیر علماء کرام ددې حدیث په رڼا کي دا فکر کوي چي هغه سمندري علاقې چیرته چي جدال زنداني دی هغه یا برمودا مثلث دی یا به ډیول سي وي.

او کومو سیمو ته چي برمودا او شیطاني سمندر ورنژدې دی هغو سیمو کي ده شیطان عبادت په عروج کي دی. جدالي فتنې له بل هر ځای څخه هلته ډیري دي. او له همهاغه ځایونو څخه وه نورو کونجونو ته فروغ کوي.

ده همدې سیمي خلګ اکثر ملحدان دي. او ده شیطان ده تهذیب ده تپلو په هدف نهایته ډیره خواري کاږي. حقیقت دا دی چي ده برمودا مثلث او شیطانی سمندر پر کنارو باندي شیطاني تهذیب رایج دی.

او همدا تهذیب ټوله نړی په غیږ کي نیول غواړي. نبی کریم(ص) په یوه بل مبارک حدیث شریف کي فرمایلي دي چي که ده دجال حظور زما په غیر موجودګی کي وو نو که له تاسو څخه کوم څوک هم ورسره مخ سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو وربانددي دي ده سورة الکهف ابتدايي آيتونه ووايي. ترڅو الله(ج) تاسو له دې ستري فتنې وژغوري.

ده دجال په لښکر کي به ۷۰۰۰۰ تنه شامل وي چي له فوق العده طاقتونو سره به ده حضرت عيسى(ع) او حضرت مهدي حفظه الله سره جګړه کوي.او دا به ده حق او باطل فيصله وي. ده يهوديانو په عقيده کله چي هغوی دريم ځلي کليسة الماني هغه وخت به دجال حظور وکړي. او ددغه مقصد ده پوره کولو لپاره به دوی مسجد اقصى ضرور شهيدوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۶: فلسطین**

فلسطین داسي وو چي ټوله فلسطین ده فلسطیانو په واک کي وو. خو اوس داسي دی چي ۱۰٪ یې ده فلسطیانو په واک کي دی او ۹۰٪ یې ده اسرائلو په واک کي. او دا بدلون په تلواری ندی رامنځ ته سوی. قیصه داسي ده چي په ۱۹۰۰ کلونو کي فلسطین ده عثماني خلافت برخه وه. خو په مذهبي لحاظ تقسیم سوی وو. داسي ځای چي مسلمانان، عیسایان او هیودان یو له بل سره اوسېدل.

خو وروسته بیا حالات بدل سوه. په اروپا کي ده سیوریستي خوځښت تأسیس سره سم چي هدف یې په فلسطین کي په فکري توگه ده یوه ازاد او مستقل یهودي هیواد جوړول وو. ده اروپایي یهودانو لومړی سفر ده مهاجرینو په نوم وخوځېدل. ده لومړی نړیوالي جگړې په اخیر کي عثماني خلافت سقوط سو. او فلسطین ده برتانوي څواک لاندي راغلی.

دا لا ۱۹۱۷ کال دی. برتانیا له یهودي سحیوني دولت څخه په فلسطین کي ملاتړ اعلان کی. ده یهودیانو شمار پورته کېدی. چي په نتیجه کي یې ده عربانو او یهودیانو ترمنځ خورا حساسیتونه راپارېدل. له امله یې برتانیا له سیمي پښې وکښې او ځای یې ده ملگرو ملتونو سازمان ونوموی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې سازمان بیا فیصله وکړل چې له فلسطین څخه ۲ دولتونه جوړ کړي. هیودي اسرائیل او عرب فلسطین. ده یوربښ نومي ښار چې ده مسلمانانو، یهودانو او عیسایانو لپاره مقدس دی. ده ملګرو ملتونو په واک کي دی. او بین المللي نقطه ده. یهودانو ده ملګرو ملتونو فیصله قبوله کړل خو ده اسرائیلي دولت استقلال یې اعلان کړ. خو ګاونډیو عربو هیوادونو ددغه غاسبانو پر ضد احتجاج وکړ چي په نتیجه کي ده عرب ضد اسرائیلو لومړی جګړه ترسره سول. اسرائیلو یاده جګړه وګټل او په ارادي توګه یې ده ملګرو ملتونو له نظارت لاندي دا ځمکه ونیول. دا ځمکه ۳ برخو ته تقسیم سول.

۱: اوردن لویدیځه غاړه او شرقي یوریشلم اشغال کړ.

۲: مصر غزه اشغال کړه.

۳: او ده اسرائیلو دولت ۷۸٪ فیصده تاریخي فلسطین ده غربي یوریشلم په شمول اشغال کړ.

۷ لکه فلسطینان یې په نتیجه کي مهاجر سول. دا ورځ ده اننقبا یا فاجعې په نوم یادیږي. په کال ۱۹۶۷ کي ده اسرائیلو او ګاونډیو عرب هیوادونو ترمنځ ۶ ورځنی جګړه وسول. ددې جګړې په پای کي نتیجه څه دا ډول سوه فلسطین اوس په مکمل ډول ده اسرائیلو په واک کي سو. ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سولي ده رسمي نه شتون له امله حالات ناسم لور ته روان وو. بیا اسرائیلیانو ده بدوباش لپاره په غزه او لویدیځه غاړه کي تیاري پیل کړه. چي له امله یې ده اسرائیلو ضد فلسطیني مقاومتونه وزیږیدل.

یو یې ده تحریر الفلسطین په نوم وو. ددوی هدف داوو چي ترڅو فلسطین له اسرائیلو په هر قیمت ازاد کړي. جګړه ده کلونو لپاره روانه وه. بالاخره تحریر الفلسطین له اسرائیلو سره ده هیواد دا تقسیم قبول کړ. خو مقاومت دلته هم ختم نه سو.

نور هیودان ده اسرائیلو له خوا اشغال سوي فلسطین ته راغلل. بین المللي ټولنو ددوی دغه کال غیر قانوني وبلی. ده فلسطینیانو ناامیدي هغوی ده یوه بل مقاومت پر لور رهي کړل. چي په نتیجه کي یې هماس وزیږیدی. یو سیاسي حرکت چي ده اسرائیلو پر ضد یې پرغزه ته ړنګه او په لویدیځه غاړه کي یې نظامي فعالیت ترسره کاوه. متحده ایالاتو، اسرائیلو او تحریر الفلسطین ډلي ده اصلو تړون ترسره کړ. چي لویدیځه غاړه یې پر ۳ برخو باندي وویشل سي. لومړی سیمه پوره ده فلسطین په واک کي. دوهمه سیمه ده فلسطین او اسرائیلو په واک کي. دریمه سیمه پوره ده اسرائیلو په واک کي. خو حل ستونزي زیږوي. ځکه ده اسرائیلو په واک کي سیمي اکثریت ده کرهنې لپاره اوبه، معدني مواد درلودل. خو فلسطین بیا ډیر کم لاسرسی ورته لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې توګه ده امن خبري ناکامې سولې. فلسطینیانو امید بایلی چې په نتیجه کې یې مظاهرې او فاجعې رامنځ ته سوې. بل خوا اسرائیلو ده سترو سترو دیوالونو په جوړولو پیل وکړ. او پوستې یې جوړي کړې. ترڅو فلسطیني تحریقونه کنټرول کړي. دا ۲۰۰۵ کال دی اسرائیل له غزې وځي خو په لویدیځه خوا کي بدوباش جاري ساتي. هماس په غزه کي واک ترلاسه کوي او له فلسطیني حکومت څخه جلا کیږي. ځکه هغوی ته ده سکلرو په سترګه ګوري. لویدیځه غاړه او غزه اوس ده جلا جلا حاکمانو په لاس کي دي. اسرائیلو غزه محاسره کړې ده او هر راز حرکت یې ورباندي بند کړی دی. ده ځمکي، هوا او سمندر له ټولو لارو. دا ۲۰۱۹ کال دی. دا ده فلسطین اوسنی وزیعت دی. هلته پر میز باندي ددې مصلې واضح حل موجود دی خو هیڅوک یې نه غواړي له هڅوځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۷: ده افغانستان لویه لار**

دا په افغانستان کي نهایته مهمه لویه لاره ده چي له کابل څخه تر کندهاره پوري پرته ده. په ۲۰۰۱ کي ده امریکایي ښکېلاب وروسته ده افغانستان بیا رغونه ده امریکا ده ستراتیژی مهمه برخه وه. پر دې لاره تر ۲ میلیونه ډیري پیسې مصرف سوې او ورڅخه ده دفاع په موخه سلګونه سرونه پرې سول.

ددې هر څه باوجود ده کابل او کندهار لویه لاره تراوسه لا هم ویجاړه ده. ده ۲۰۱۶ کال په راپور کي راغلي چي دا لویه لار تر تمیم تېره ده بلکي له سره بیرته رغول غواړي او کنه مرکزي دولت به سقوط وکړي. په دې ترڅو پوه سو چي دا ګرانه او مهمه لاره څه ډول له ګواښ سره مخ ده. باید دا جواب ولټوو چي له متحده ایالاتو څه ډول په افغانستان کي چیرته او څه ډول تېروتنه سوې ده.

ده سپټمبر له پیښي څخه وروسته متحده ایالاتو افغانستان اشغال کړ. له کومه ځایه چي تور وو یاد برید القاعده کړی وو چي طالبانو پناه ورکړې وه. چا چي ده افغانستان واک نه درلود. امریکا یې حکومت ونه ړاوه. له کابل څخه یې وایستل په دې توګه ده امریکا ستراتیژی له جګړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا رغوني، او دولت جوړوني ته بدلون وموند. خو افغانستان خورا یو سخت ځای دی ترڅو کنترول او ورغول سي.

غرنیز او یو کلیوال هیواد دی. نفوس یې پر ګډ شمیر قبیلو او ځایي قومونو باندي تقسیم دی. تر دې دمه په هیواد کي خورا کمي لویي لاري سیمي وې چي طالبانو رغولي وې. خو په حقیقت کي هیواد په اړوند موضوع کي له شدیدو ستونزو سره مخ وو. په دې توګه متحده ایالاتو پرېکړه وکړه چي ده افغانستان رینګ روډ ورغوي چي بعضي برخي یې ده شورویانو د حکومت له خوا وختي له رغېدلي وې.

خو جنګو بیا ویجاړي کړي وې. متحده ایالاتو له ډیرو هیداونو سره په ګډه ده ۱.۵ بیلیونه ډالرو په قیمت له کابل څخه ددې لویي لاري رغونه راپیل کړه. دا رینګ روډ چي ده افغانستان ۴ لوی او مهم ښارونه سره منښلوي او ۳۲۰۰ کیلومتره ده. په دې توګه د تجارت پرمختګ، وه نورو سیمو ته تلل اساني رامنځ ته کوله. په هیواد کي ده کابل اداري ته اضافه مشروعیت ورکړ.

متحده ایالاتو ته هم ده عسکرو او مهماتو ده انتقال په برخه کي اساني رامنځ ته کړه او ده طالبانو پر ضد معصره نظامي استفاده څني ترسره سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بوش: ده امریکا جمهور رئیس وایي

چیرته چي سړک ختمیږي طالبان شروع کیږي. په بل اصطلاح سړکونه مشروعیت ورکوي. مشروعیت هیلي زیږوي. او دا هر څه هغه څه دي چي ده تارکې مفکوره به ماته کړي.

خو متحده ایالاتو خپله دنده ترسره نه کړه. په ۲۰۰۳ کي امریکا عراق اشغال کړ. په دې توګه افغانستان لومړي توب له لاسه ورکړ. بودیجې، بیارغوني، امکانات، باتجربه جنرالان او ډپلوماټان عراق ته لاړل. دا لار ده بشپړي رغېدني خورا لیري پاته وه.

چي له ده ۱.۲ بیلیونه بودیجه هم پرې سوه. بل خوا پر عراق ده امریکا برید طالبانو ته په افغانستان کي ده بیا راستنېدو چانس ورکړ. او دا لار یې ونیول. که ده ۲۰۰۴ او تر ۲۰۰۹ پوري ده طالبانو فعالیت ته وکتل سي ډیري همدلته یې ده سړک پر شاوخوا مرکوز دي.

دوی دلته کمپونه نیول، سړک غاړو ته به یې مینونه ښخول، خلګ به یې یرغمل کول، امریکایي عسکر به یې وژل او قراردادیان به یې هم وژل. تر ۲۰۰۸ پوري طالبانو بیرته د افغانستان لویه سیمه نیولې وه. په اختصاصي ډول په جنوب او شرق کي افغانستان یو ځل بیا سور تنور ګرځېدلی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوباما: ده امریکا ولسمشر وایي**

افغانستان مو لا له لاسه نه دی وتلی. خو ده څو کلونو په اندازه باندي شاته تللی دی. هلته ده حکومت ده پرزېدو لپاره جدي خطره نسته. خو طالبانو په کافي اندازه سیمي نیولي دي. په لنډو ټکو باندي روان حالت پایدار نه دی.

په ۲۰۰۹ کي اوباما بیا جنګ ته ژمنتیا وښودل. هغه په زرهاوو عکسر افغانستان ته ولېږل. متحده ایالاتو او ناټو په جنوب کي پرمختګونه وکړل. خو په خورا سرعت باندي طالبان په اسانی ماته نه مني. هرڅومره ډیر عسکر چي راځي هغومره ده طالبانو په بریدونو کي اضافه والی راځي. په داسي نظامي حالت کي ده سړکونو بیا رغونه کابو ناممکنه سوه. ځکه سړکونه ده جګړو ډګرونه ګرځېدلي ول.

**یو تن وایي**

ده امنیتي ستونزو له امله زموږ په دې خطرناکه پروژه کي ۲۱ تنه وژل سوي، ۵۱ تنه زخمیان سوي دي او ۴ تنه یرغمل سوي دي.

په دې توګه د ساختماني شراکتونه مجبور سول چي شخصي امنیتي کسان وګوماري چي له امله یې بودیجو له آسمان سره خبري کولې. لکه دغه سړک چي له خوست څخه تر پکتیا پوري کابو ۵ میلیونه پر یوه مایل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصرف وکړ. چې اکثره برخه یې امنیت تشکیلول. خو ده ۱۸ میاشتو وروسته وخت ختم سو. اولسمشر اوباما ده ځواکونو ده راایستلو اعلان وکړ.

**اوباما: ده امریکا ولسمشر وایي**

ددې کمښت څخه وروسته به عسکر په سرعت امریکا ته بیرته راسي. افغان ځواکونه به ده جګړې رهبري پر خپله غاړه واخلي. زموږ ماموریت به له جنګ څخه عنقرې ته واوړي.

ده متحده ایالاتو ده ځواکونو له ستنېدو څخه وروسته ده بیا رغوني ټولي چاري او پروژې همداسي پاته سوې. په ۲۰۱۲ کي یو ایس آی ډي مؤسسې ده سړک جوړولو لپاره فنډونه پرې کړل. ولوکه باوجود متحده ایالاتو کابو ۳ بیلیونه ډالر پرې مصرف کړل. دا لویه لار هیڅکله پوره نه سول. ددې سړک بیا رغونه ده افغان دولته وه اوږو ته انتقال سوه. هغه حکومت چې په فساد کي غرک وو.

ماهران آتکل کوي چې ده بیلیونونو په اندازه فساد سوی دی. په ۲۰۱۵ کي په لویو ښارونو کي ده اشغال یوائې ۱۱۰۰۰ امریکایي عسکر پاته وه. طالبان بیا راستانه سوي وه. په ۲۰۱۷ کي طالبانو ده افغانستان تر نیمایي ډیره برخه کنترولاوه. و چې ددې لویي لاري اکثره برخي هم پکښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاملي وي. ده ۲۰۱۶ کال ده ځېړنو په حواله ۲۰٪ سړکونه ويجاړ سوي دي. او باقي ۸۰٪ ده ويجاړېدو پر حال دي. امريکا هيڅ هوډ نه لري چي ددريم ځل لپاره بيارغوني ته کار وکړي. په ۲۰۱۷ کي ټرمپ نور عسکر ولېږل خو دا يې جوت وويل چي (موږ بيا ځلي ملت جوړونکي نه يو، موږ دهشتگر وژنو).

ددې لويي لاري ويجاړېدنه نور ده متحده ايالاتو انديښنه نه وه. او دا دا ثابته وي چي ده افغانستان بيارغونه قطعا ده امريکا له اهدافو څخه نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸: په انټرنیټ کې ده پیسو ګټل

په انټرنیټ کي ده پیسو ده ګټلو په اړه به مو ډیر څه اوریدلي وي. ده بیلګي په توګه ځني وایي په یوتیوب کي خلګو په میلیونه ډالرګټلي دي. ځیني په فیسبوک کي په پیسو ګټلو اخته دي. ځیني پر ټکټاک خپلي قیمتي شپې په پناه کوي.دا هغه مشهوره ښایي ریښتني لاري دي چي ځیني خلګ یې ده پیسو ده ګټلو لپاره کاروي.

اما له بده مرغه ډېرى داسي څوک هم سته چي ده څو احتمالي پیسو ده ګټلو لپاره آن تر ځپلو عزتونو تیر سوي دي. چي ښایي ډیري بیلګي تاسو پخپله هم لیدلي وي. ځیني بیا نورى بابولالي ږغوي.

چي ګواکي په نورو لارو هم پیسې ګټل کیږي. لکه په ځینو بابیزو لوبو کي. لکه ده ورقو لوبې، ده پچه اچوني لوبې، خومار او داسي نور دي. ځینو بیا په انټرنیټ کي ده وټې کاروبار روان کړى وي. ددوى په وینا زرګونه ډالر او سره زر پکښي په دې موخه تاوبالا کوي چي ګواکي یوڅو خیشمړي په لاس راوړي. ځیني کاریالونه خو لا دا لاري چاري هم پکار اچوي چي که یو هوښیار انسان په خبر سي هم به ښایي ډیره پانګونه پکښي وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چیري خو له هغه حارثانو پر دنیا مین انسانان. ښایي تاسي یې هم ده ګټو په اړه ټیر څه اوریدلي وي. خو نن یې زه داسي راز درته وایم چي که تاسو په خبر سواست نو هیڅکله به بیا دغه هوایي کاروبارونو باندي باور ونه کړی.

څه وخت مخکي مي ده څو کاریالونو په اړه واوریدل، چي تر ټولو اسانه، چټک او بریالی تګلاري لري. چي هغه په دې ډول وې. تاسو کولای سی په ټکټاک کښ یو کاریال کي خپل حساب پرانیزی او ستاسي ده خوښي وړ اندازه پیسې پکښي واچوی. چي داپیسې به په ۱ میاشت کي ۲ برابره شي. یعني که تاسو دغه کاریال ته نن ۱۰۰۰ ډالره وරواچوی نو ۱ میاشت وروسته به ستاسو په حساب کي ۲۰۰۰ ډالره موجود وي.

پر دې سربیره که ستاسو نور ملګري هم راوبلل هم تاسو ده یوڅه اندازه پیسو ګټونکي یاست. او که چیري هغه کس تا رابللی وي او هغه وه بل کس ته بلنه ورکړي هم تاته یوڅه اندازه نوري پیسې درکول کیږي. بیا نو ده ټکټاک کښ ده کاریال له لوري تاسو ته یوه پرله پسې شمیره درکول کیږي. چي تاسو کولای سی ددغي شمیرې له لاري هم ده بانک څخه او هم له کریډټ کارډ له لاري خپلي پیسې وباسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ډول یو بل کاریال ده اډورډ په نامه هم وو چي تګلاره یې هم دا ډول وه. په دې کاریالونو کي هغه افغانانو او بې وزلو کسانو چي اندونیزیا ته مهاجر تللي ول او بې کاره ول، پانګ اچونه وکړل. او ده لازیاتي لاسته راوړني لپاره یې هڅه کول چي ترڅو خپل خپلوان یې په دغه کاروبار او ګټې وټې څخه برخمن کړي. خو خبر نه ول چي پنډې زردکي ده جوال په پای کي وي.

دا کاریالونه خپل فعالیتونه په هغه هیوادونو کي ترسره کوي چي شاته پاته دي. بې کاري او نالوستي او ناپوهي پکښي ډېره وي. ځکه داسي خلګ ده یوڅو پیسو ده لاسته راوړلو لپاره هرڅه کوي، او پوهیږي هم نه چي څه سم دي او څه ناسم دي. هغه بېوزله مهاجرینو خپل شته تول په دغه کاریالونو کي ولګول، ځکه په لومړیو څو میاشتو کي دوی ته ښکارېدل چي کار بلکل سم روان دی. او په میاشت کي دومره څه لاسته راوړي چي فکر نه کوم چي په بله لاره دي وکولای سي همدومره اسانه، همدومره ارزانه او هم بې تاوانه دا ډول ډیره ګټه په لاس راوړي.

ده څه وخت په تېرېدلو سره چي له کشرانو څخه نیولې بیا تر مشرانو پوري په دغه دنده باندي اخته سول او خپل تول شته یې ده ګټې په امید پکښي ولګول او آن ځینو یې له نورو څخه پور هم واخیستی او پخپلو حسابونو کي واچوی. ځینو خو یې ده ډیر حرس لپاره څو څو حسابونه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو څو کاریالونو کې جوړ کړل. چې بالاخره ددوی ټولې هیلې په اوبو لاهو سولې.

**هغه څنګه؟**

څکه چې په ۱ اونی کې ده ټولو کاریالونو او حسابونو کار پرېښودی. نه بیا ده چا حساب راخلاصېدی، او نه بیا ټکټاک کېش کار کوی او نه هم اړوړه. دوی ډېرې هڅې وکړلې چې خپلې لګول سوې پیسې ترلاسه کړي، ګټه يې په اور پسې خو ګټه يې نه کول. ځینو خو يې آن ده خپلو پیسو هیله لرل چې، خو اوبه تر وخت تیرې وې.

کله چې به دوی وغوښتل چې حکومت ته شکایت وکړي، حکومت به له دوی څخه شواهد غوښتل. ده بیلګې په توګه یو غوښتن لیک، یوه پاڼه، چې تاسې پیسې لګولې دي، چا ته دې ورکړي دي، ضمانت کمه دی خو دې هم ګټه نه کول. کله چې به بانک ته ورغلل نو هغو به غوښتل چې تاسو ته ده بیلګې په توګه ۲۰۰۰ ډالر درکړي دي. هغه بیرته راکړه. نو هغو به هم کاغذات ځني غوښتل.

خو له دوی سره هغه پرله پسې شمیره ول چې هیچا ته هم ده منلو وړ نه وه. دوی دا هم نسو کولای چې ده ټکټاک کېش فزیکي دفتر پیداکړي. نه يې ددوی له مشرانو څخه تر ګرېوان نیولی سوای. څکه دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لومړۍ سر کي دا فکر نه وو کړی چي که داسي پېښه وسول نو چا ته به ورځي او څوک به تر غاړه نیسي. ځکه دوی ده الله تعالی ددې کلام څخه ناخبره ول چي الله تعالی په سورة البقرة کي په ۸۲ آیاة شریف کي فرمایي (اې مؤمنانو، کله چي ده کومي ټاکلي نېټې لپاره تاسو په خپلو منځونو کي ده پور ده راکړي ورکړي معامله کوی نو هغه ولیکی ددواړو ترمنځ دی یو څوک چی هغه ته الله تعالی ده لیکلو اهلیت ورکړی وي په انصاف سره صند ولیکي هغه دي ده لیکلو څخه انکار نه کوي لیکنه او املاء دي هغه څوک وکړي چي حق وربانديي دی یعني پور اخیستونکی دی او هغه دي ده خپل رب الله تعالی څخه وویریږي چي څه معامله سوې وي په هغه کي دی کمي یا زیاتوالی نه کوي خو که پور اخیستونکی په خپله ناپوه یا کمزوری وي یا املاء نسي کولای نو ده هغه دوست دي په انصاف سره املاء وکړي بیا له خپلو نارینوو څخه ۲ پرې شاهدان ونیسی او که ۲ سړي نه وي نو بیا ۱ سړی او ۲ ښځي دي وي او که یې یوه هیره کړي نو هغه بله به یې ورپر زړه کړي دا شاهدان دی له داسي خلګو څخه وي چي شاهدي یې ستاسي په منځ کی قبلېدونکې وي شاهدانو ته چي کله ده شاهدي ویلو وویل سي نو انکار دي نه کوي که معامله وړه وي او که غټه ده هغې نېټه ټاکل او صند لیکل بې اهمیته مه ګڼی ده الله تعالی په وړاندي ستاسی دا چلند ښه ده انصاف کار دی په دې سره شاهدی تېرولو کي ښه اسانتیا راځي او په شکونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او شبهو کې ستاسي ده اخته کېدو امکان کمیږي هو که تاسي په خپلو منځونو کې لاس په لاس تجارتي راکړه ورکړه کوی نو ده هغه ده نه لیکلو هیڅ پر وا نسته خو ده سوداګری ده راکړي ورکړي په وخت کې شاهدان ونیسی لیکونکی او شاهد دې نه ځورول کیږي که داسي وکړی نو ګناه کوی ده الله تعالی له قهر څخه ووېرېږی الله تعالی تاسي ته ده عمل سمه لاره درښیي او الله تعالی پر هر څه پوه دی).

چې دا په ټول قرآن کریم کې ترټولو اوږد آیاة شریف دی. تاسي ولیدل چې الله تعالی ده کاروبار په اړه موږ او تاسو ته څومره په خلاصه ژبه باندې ویلي دي چې هیکله باید داسي کاروبار ونه کړی چې پایله یې مبهمه وي. هر څه باید په شروع کې په ډاګه او ښکاره وي. ددې ترڅنګ که چیري دوی حرس ته مخه کړي نو ده الله تعالی په دا خبره یې عمل کړی وای چې الله تعالی فرمایلي دي (کوم خلګ چې سود خوري ده هغو حال به ده هغه چا غوندی وي چې پیریانانو نیولی وي او پر دې حال ده هغوی ده اخته کېدو دلیل دادی چې وایي تجارت هم له سود غوندي شی دی په داسي حال کښې چې الله تعالی تجارت روا او سود ناروا کړی دی نو چا ته چې ده هغه ده رب له لوري دا نصیحت ورسېدی و په راتلونکي کې یې ده سود له خوړلو څخه ډډکه وکړل نو څه چې یې مخکي خوړلي دي هغه خو یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوړلي دي ده هغه معامله له خدای سره ده او څوک چي له دې حکم څخه وروسته هم همداسي کار کوي هغوی دوږخیان دي تل به پکښي اوسیږي ).

ددې هرڅه په پای کي باید وه یوه شي ته اشاره وکړم چي که چیري تاسو ته هیڅ کار نه در پیداکیږي او بې کاره گرځی نو تاسو هڅه وکړی چي زده کړه وکړی. لومړی قرآن کریم زده کړی چي هغه تاسو ته ده ژوند بریالی لاره درپه گوته کړي، او وروسته که چیري تاسو ته کار درپیداکیږي تاسو باید خامخا ده هغه کار تر پیلېدو مخکي په اسلامي لارښوونو کي ددغه کار په پایله پسي وگوری لکه ده پورته بیلگي په ډول په دغه کار کی ښکار معلومیږي چي دا سود دی، یوه ناروا سوداگري ده، او دوهم باید تل له دماغ څخه پوره کار واخلی. ځکه که فکر وسي هیڅ داسي بانک یا بل څوک تراوسه نه دی لیدل سوی چي په میاشت کي نه په کال یا په ۲ کي تاسو ته ۲ برابره سود درکړي.

او بل داچي تاسو هر چا ته هم که هغه په کاروبار کي وي او که په کلیوالي توگه وي. پیسې ورکوی ستاسو سره باید یو صند یا شاهدان یا ضمانت وي چي که چیري پوروړی کس پر پیسو پښیمانه کیږي نو ته به وکولای سې چي هغه گریوان ونیسې او محکمې ته یې راکش کړې، او که نه نو ده ورکولو په وخت کي باید دا فکر وکړې چي دا شتمنی زه بربادوم او که بیا په لاس راغله خو ښه تر ښه که نه راغلل نوغم یې نه کوم. درنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویونکو هیله ده دا پوهاوی تر خپلو مسلمانانو ورونو پوري وروره سوی، ترخو موږ او تاسي يې په ژوند کی ده ۱ مثبت بدلون سوي يو.او هیله ده تاسو هم پخپله هځه وکړی ترځو ستاسو په ټولنه کي غريب او بې سواده چاره اوسي او ستاسي په برکت ښاد واوسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۹: اوبه**

نه خوند، نه بوی او نه رنګ لري. دا اوبه دي چي ده ځمکي ۷۰٪ برخه يې پوښلې ده. آن زموږ ده وجود ۶۰٪ حصه له همدې اوبو څخه جوړه سوې ده. دا ده اوبو برکت دی چي دلته ژوند شونی دی. مګر ده لمريز نظام په نورو برخو کي مايع اوبه تردېره ناشونې وي چي پيدا دي سي.

خو زموږ سياره څنګه په دومره زياته اندازه اوبه لري او کومي راغلي دي. تاسي به خامخا پوهېږی چي اوبه له هر ماليکول ۲ هايدروجنه او ۱ اکسيجن څخه جوړ دی. کومي اوبه چي تاسي چيښئ يا ځان په پرېولی دا له نژدې ويالې نه دي راغلي. هر آټوم يې ده کائناتو له کونجونو څخه راغلی دی. هايدروجن په دوی کي تر ټولو زوړ عنصور دی چي ده کائناتو ده پيدايښت او بګبانګ څخه څو دقيقې څخه وروسته راپيداسوی دی.

ده اوبو دوهم عنصر اکسيجن بيا سلګونه ميليونونه کاله وروسته ده ستورو ده جوړښت په دوران کي جوړ سوی دی. ستوري او سيارې ده ميليونونو کلونو په ترخ کي ده کائناتي وريځو او غوبار څخه جوړ سوي دي. په دې کائناتي وريځو کي ده هايدروجن او اکسيجن آټومونه سره يوځای په ډېريدو سوي وه. په کائناتو کي تر ټولو ډير هم دا اکسيجن او هايدروجن خورا پريمانه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده میلیونونه کلونو په اوږدو کې دغه ۲ ده تعامل وړ آټومونه یو له بل سره وموښلېدل چې په نتیجه کې یې $H_2O$ یا اوبه جوړې کړې. ده اوبو دغه ۲ تازه مالیکولونه په کائناتي وریځو او غوبار سره ګډ ول چې زموږ ده لمر په ګډون ټول لمریز نظام ورڅخه جوړ سوی دی.

ده اوبو مالیکولونه ده وخت په اوږدو کې ده یخي په ټوټو باندي بدل سوي دي چې بیا نو ده یخي او غوبار ده وریځي دومره غلیظي سوې چې جاذبه یې پیداکړه. ده همدې جاذبې په مټ هر څه یو له بل سره موښلېدل. ده همدې بهیر په ترڅ کې زموږ لمریز نظام په وجود راغلی دی.

په نظري لحاظ ده محسابې له مخي کله چې لمریز نظام تازه جوړ سوی وو نو په دغه وخت کې کائناتي وریځي ده اوبو له دومره مالیکولونو څخه برخمن سول چې ده ځمکي ده اوسنی اوبو ۳ میلیونه برابره وې. خو دا جوړ سوي لمر دا ټول مالیکولونه بیرته بخار او سره وپاشله. ښایي ده اوبو مالیکولونه ده سیارې له جوړښت څخه وروسته رامنځ ته سوي وي. خو یوه پوښته لا تراوسه پوري نه ده جواب سوې. مځکې ته له کومه او دادومره اوبه له کومي راغلي دي.

که له یوې نظریې وځېړو کله چې مځکه تازه جوړه سوې وه له ځان سره یې ده اوبو مالیکونو درلودل خو هغه ده اټومسفیر ده نه شتون له

(c) ketabton.com: The Digital Library



امله سوځونکې تودوخي ده ځمکي اوبه بیرته فضا ته بخار کړي دي. مځکه هغه وخت تقریبا وچه کلکه سیاره وه. بیا چي سلګونه میلیونونه کلونه وروسته ده ځمکي سربیرنه سطحه بیرته سړه سوه ده ځمکي له هستې څخه ده اور غورځوونکي پر مټ ده غازاتو ده ایستلو بهیر پیل سو.

همدې غازاتو به ځمکه شاوخوا ده اټومسفیر پوښ وغوړوی. بیا نو اټومسفیر ده اوبو ده بخار مخه ونیوله. مګر اوبه بیرته ځمکي ته څنګه پیدا سوې. ساینس پوهان تر ډېره په دې باور دي چي ده ځمکي ډېری اوبه ده یخي او غوبار له لویو اسماني قوندو په مټ مځکې ته بیرته راغلي دي چي ده میلیونونو کلونو په اوږدو کي دا سیاره په بمبار سوې وه. هغه وخت ده لمریز نظام فضا ده کائناتي غوبار او یخي له قندو څخه ډکه وه. خو ساینس پوهانو ددې تیوري ده ننګولو لپاره کاربونیشیس میټورایټ آسماني قندې چي ده لمریز نظام ده جوړښت په ویلو کي جوړي سوي دي څېړلي دي.

دغو څېړنو ښودلې ده چي نه ده یخي او غوبارو دغه جوړي قندې اوبه لري ترڅنګ یې ده منرالونو کیمیاوي ترکیبات ده ځمکي ده ډبرو او ګارو سره هم سمون خوري. ده نظریاتو او ثبوتونو پر اساس موږ اوس یواځي همدومره پوهیږو. خو موږ تراوسه ۱۰۰ په ۱۰۰ کي نه پوهیږو چي دا دومره اوبه له ځمکي سره یوځای جوړي سوي دي او که نورو پیښو یا ستر ترکیب په نتیجه کي جوړي سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ده اوبو مالیکولونه په تېره بیا عناصر ده کائناتو په هره برخه کي وي. هغه ده غازاتو په شکل یا ده آسماني قندو او ډبرو کي وي. ده ځمکي اټومسفیر عجبه لوی نعمت دی. که نن له منځه ولاړ سي نو ټولي اوبه به بیرته فضا ته بخار سي. خو له نیکه مرغه ځمکه ده لمریز نظام په طلایي مدار کي قرار لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۰: که انسان ده ځمکي پر مخ ورک سي

### که انسان ده ځمکي پر مخ ورک سي څه به پیښ سي؟

که ده ځمکي پر مخ وګړي غیب سي نړی به په کامله معنا بدله سي. په څو ساعتونو کي به ده نړی ټوله مصنوعي برېښنا بنده سي. ده برق جوړولو هینداري به هم له کاره ولوېږي. یواځینی ده برق جوړولو فابریکې چي له به کار کوي ده اوبو به وي.

په ورځ او دوو کي به اوبه ځمکو او ښارونو ته راووځي. ځکه ده اوبو تېرولو پمپونه او نور داسي ځایونه به کار پرېږدي. لس ورځي وروسته به حیوانات له لوږي مړه سي. سپي او ځیروونکي ځناور به ده نورو حیواناتو ښکار پیل کړي. میاشت وروسته به په اټومي بټی کي یخوونکي اوبه بخار وکړي. چي ده سختو طبیعي ستونزو زېږنده به وي. داسي پیښي چي ده پوګوشیما هم مضبوټي وي سختي وي.

خو ده ځمکي کره به بیا ده شعاعي ککړتیا ځان ورغوي. کال وروسته به سېټلایټونه له خلاء څخه ځمکي ته راخطا سي. چي داسي ده ویشتونکو ستورو بڼه به خپله کړي. ۲۵ کاله وروسته به زرغونتیا مځکه ونیسي. خو بعضي ښارونه به په ریګو کي ورک سي. ۳۰۰ کاله وروسته به اوسپنیز عمارتونه، پلونه ټاورونه له زنګ څخه ده نړېدو پر حال وي. ۱۰۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاله وروسته به زمورږ ده وجود یوازینی ثبوت هغه څه وي چې مو له ډبرو تراشلي او جوړ کړي وي.

لکه ده مصر احرامونه، او ده چین دیوال. خو که ځمکه ژوند ورکوونکي پیښې ردولې لکه خپله خپرېدونکي او چاودېدونکي اټومي چاودني یا مرګوني ستوریزي حملې پر دې ده ځمکې پر کرې ۵۰۰ میلیونه کاله نور هم ژوند ممکن دی. دا ځمکه به ۵۰۰ میلیونه کاله نور هم داسې وي. ۶ بیلیونه کاله وروسته اټکل دی چې لمر به بیخي وپړسیږي. چې له امله به یې زمورږ کور سره تبی سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱: ده روباټ لیږل وه مریخ ته

هر فضايي ماموریت اسانه نه وي. په تېره بیا لیري سیارو ته ده روباټ لیږل. ده رسېدو مخکي هیڅکله ده تصمیم وړ نه وي. بریا او نابریا پکښي شوني وي. تر اوسه مو مریخ ته ده انسان یواځي ۴۰٪ ماموریتونه بریالي سوي دي. دوی روباټ په مریخ کي کښېنوی. دا په لاسته راوړلو کي یو لوی پرمختګ دی. دغه روباټ موټر او کوچنی چورلکه ده ۲۰۲۰ میلادي کال ده جولای پر ۳۰ په یوه فضايي بېړی کي مخ پر مخریخ وتوغول سو. چي له ۷ میاشتني سفر وروسته یې یادي سیارې ته ورسېدله.

نوی روبوټ دومره توانا وو چي ده ناسا ده نقشې مطابق یې په هغه ځای کي ناسته وکړه چي عیار سوی وو.ده فضايي بېړی مرستندویه برخي په خپله ده مریخ له نازک اټومسفیر څخه ۱۰ دقیقې مخکي هغه سپینه چي روباټ پکښي ځای پر ځای وو ده سیارې پر سطحه یې ور ایله کړ. ده توغولو تر څنګ یې سخته چاره هغه وخت وي کله چي روباټ ده مریخ وه سطحي ته نژدې وي. له سطحي ۷ دقیقې مخکي دننه کېدل خورا سختي حصاصي دقیقې وي. ځکه په همدې ۷ دقیقو کي ده روباټ سپینا ده مریخ ده نازک اټومسفیر له سطحي رسیږي. ده روباټ سپینا ده مریخ سطحي ته په ساعت کي شاوخوا ده ۲۰۰۰۰ کیلومتره په سرعت ورایله وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده مریخ بارک اټومسفیر او سپینې سرعت ترمنځ ده استحکاک له امله سپینا څه ناڅه کراره سوه. مگر دومره هم نه. کله چي سپینا مریخ ته ورسېدل ده ناستي ټولي چاري یې مخکي له مخکي عیار سوي مخ ته یوورلې. په دې وخت کي پراشوټ ده سپینې ده سرعت په کرارولو کي تر ټولو مهم رول لاره. دا خورا لوی او محکم پراشوټ دی چی ده ځمکي پرته وه بلې سیارې ته لیږدول کیږي.

په دې وخت کي نو ده تودوخي سپر پوښ له سپینې څخه جلاء او ده مریخ د سطحي دلیدلو دوربینونه خلاص سول. کله چي سویرس خپله دقیقه محاسبه وکړل نو ده ناسا کنټرولوونکو ده روبوټ پراشوټ وشکوی او له سطحي ۲۰ متره لوړ یې دستي ده مرستیالندویه برخي راکیټونه بل کړه. ده همدې ځواک پر مټ ده روباټ کښېنولو خوندي ځای وټاکل سو او روباټ ناسته وکړه. دا لومړی ځل وو چي ده فضایي ماموریت په ترسره کولو کی له اراضي نقشې څخه کار اخیستل کیږي.

په دغه وخت کي ده مریخ سطحه سکین سول ترڅو روبوټ په مناسب ځای کي ده ناستي تصمیم ونیسي. پرسویرنس ده همدې نوي ټکنالوجی په مرسته سره وکولای سول چي پر ستونزمنه ساحه باندي ناسته وکړي. روباټ چي بر سطحه باندي ولگېدی ده مرستندویه برخي څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسی له روباټ څخه ایله کړه او بیا وروسته يې په یوه خوندي ځای کې ځان وغورځوی.

نور چې دا روباټ هر څه ده خپلو کامرو پر مټ هر څه پر مریخ ويني دلته به يې خامخا زموږ سره هم شریکوي. ده پرسویرنس ناسته ده پخواني کیوراسیتي روبوټ په پرتله گرانه وه. دا نوی روبوټ تر پخواني غټ او متخلفو آلو لرونکي دی. ساین پوهانو ددې روبوټ ده نساتي لپاره یو ډیر پخوانی کنډو چې باور دی ۳،۵ بیلیونه کاله مخکی ده اوبو ډم وو ټکلی يې وو. ددې وچ کنډو په څنډو کي ښايي چي ده مایکرو ژوندیو موجوداتو پاته شوني پاته وي.

څکه به روبوټ هم دلته ددغو احتمالي پاته شونو په اړه څیړني کوي. ده ډبرو کنډونو او کړنگونو په منځ کي ناسته کول ریشتا هم روبوټ ته خطرناکه تماميږي. مگر مهمه دا ده چي ساينس پوهان غوښتل روبوټ لومړی په همدې ډبرو، کنډونو او کړنگونو کي څیړنه وکړي. ده نورو روبوټونو په پرتله دا لومړی روبوټ دی چي کیندونکې اله لري. ده همدې آلې په مرسته سره به ده مریخ خاورو او ډبرو څخه نمونې واخلي. دغه نمونې به تر یو وخته پوري هلته ده مریخ پر سطحه پوري په ځانگړو نلونو کي خوندي وساتل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په راتلونکو کې به ده ډیپوټکې په ماموریتونو په مټ مځکې ته ده لابراتواري څېړنو لپاره راوړل سي. ده مریخ راتلونکي انساني پرمختګونه او څېړني به ده ټکنالوجی له برکته وي. ددغي سیارې اټومسفیر ۹۶٪ ده کاربونډای اکسایډ غازاتو څخه تشکیل سوی دی. هلته ده انسان ژوند نه دی شونی. مګر ده همدې روبوټ په مرسته ساینس پوهان ده مریخ ده جغرافیایي تغیراتو او ده مایکرو ژوندي موجوداتو پاته شوني وڅېړي. ترڅو مریخ ته ده راتلونکي انساني مامؤ ریت په برخه کې وکارول سي.

پا ته سول چورلکه ده مریخ اټومسفیر نسبت وه ځمکي ته ډیر زیات بارک دی هلته الوتنه خورا سخته وي. خو انجونیټې چورلکه ددې لپاره ده چې وښیي پر مریخ هم الوتنه شونې ده. دغه چورلکه به له ۳ متره څخه بیا ۵ پوري الوتنه وکولای سي. او په ذما ده روبوټ فرعي مرستندویه وي. ډېرى سپوږمکی او فضایي بېړی په لمریزو هندارو چلیږي. خو پر سویرس او نورو فضایي بېړیو چی ده لمر له شعاع څخه لیري وي په پلوتونیم راډیواکټیو عناصرو چلیږي. په دې اړه راتلونکو برخو ته تمه وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۲: مصنوعي سپوږمی

موږ کولای سو چي په فضا کي ډېر ستر ستر شیان جوړ کړو مگر دومره هم نه. خو تر دې مهاله ده ځمکی کښتني مدار ته ۵۰۰۰ کوچنی او لویي سپوږمکی لېږلي دي. ځیني یې کار کوي او ځیني یې کار نه کوي. څنگه به وي چي موږ یوه روښانه سپوږمکی جوړه کړو چي ده ځمکي په کښتني مدار کي تل روښانه گرځي.

داسي یو شی چي ده ځمکي ډیر ښارونوته ده لمر رڼا ده شپې انعکاس کړي. ده یوعې مصنوعي سپوږمی په اړه وایمه. څومره ستره امکان لري چي موږ یې جوړه کړو. او یا ولي داسی یوه ستره فضایي پروژه چندانې ښه نه ده.په دغه فرضي صنایرو کي به ستاسو پوښتني در جواب کړم.

تر اوسه چي ده ځمکی وه کښتني مدار ته سپوږمکی لیږل سوي دي له هغوی څخه نړیوال فضایي مرکز تر ټولو لویه سپوږمکی ده. کوم چي ده فوټبال په اندازه ستره ده. ده همدې سپوږمکی برخي په جلا جلا توغولو سره فضا ته انتقال سوي دي. کوم چي اوس ده ځمکي تر سطحي ۴۰۰ کیلومتره لیري په مدار کي څرخي.

مگر څنگه به وکولای سو چي یوه مصنوعي سپوږمی له نړیوال فضایي مرکز څخه ۱۰ واره لویه ده فضا ته انتقال کړو. او هلته یې ده ځمکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مدار کې ځای پر ځای کړو. ده ځمکې ډېرې سپوږمکې چې په کبنتنې مدار کې گرځې ده نړیوال فضایي مرکز څخه یواځې لږ لوړې دي. ځینې یې بیا ده ځمکې ده استوایي کرښې څخه ۳۵۰۰۰ کیلومتره لیرې په ساکن مدار کې درول سوې دي.

مگر طبیعي سپوږمی زموږ څخه ۳۸۰۰۰۰ کیلومتره لیرې ده. دومره اړتیا نسته چې مصنوعي سپوږمی دې دومره لیرې ځای پر ځای سي. باید همدومره لیرې ځای پر ځای کړو. باید همدلته ده ځمکې او نړیوال فضایي مرکز سره یوځای ځای پرځای کړو. همدا به فکر کوم چې ښه ځای به وي.

خو دومره باید وي چې سرعت یې په ساعت کې ۲۷۴۰۰ کیلومتره وي. کنې نو پر ځمکه به راولویږي. ده مصنوعی سپوږمی سطحه به په خورا روښانه منعکسه موادو پوښلې وي. ترڅو له فضا څخه وه ځمکې ته رڼاوې راانعکاس کړي. که مو دا خیال په حقیقت باندې بدل سي نو له دې سره به څیراغونه مړه کړو او تل به ده مصنوعي رڼا څخه گټه واخلو. نو که له رڼا څخه خوب نه درځي باید ده ځان لپاره ده تورو پردو غم وخوری.

مگر بده دا ده چې حیوانات به له دې چارې څخه ناچاره وي. دغه نوې مصنوعي سپوږمی به ده هغه شپني موجوداتو ته سرخوږی جوړ کړي چې ښکار او د سپوږمی په رڼا پورې تل مربوط وي. په یاد ولرئ چې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپې پر مهال تل ډېره رڼا ده وجود لپاره چنداني په ګټه نه وي. ده بي تي ایس، ژور خفګان، ده زړه ناروغي، او چاغواله ورسره تړلي دي. او همدارنګه دا مصنوعي سپوږمی به ده آسمان طبیعي ننداره پیکه کړي.

نو دلته پر څمکه تلسکوپونه ونه سي کولای چي له ژوري فضا څخه انظورونه واخلي. ښه فکر وکړی ایا موږ دوهمي مصنوعي سپوږمی ته اړتیا لرو؟

تمه وکړی ده یو شمیر پر اساس چینایي انجیزان ده مصنوعي سپوږمی پر فلان کار کوي. پر داسي یوه مصنوعي سپوږمی چي تر نړیوال فضایي مرکز به ۱۰ ځلی نه بلکي ۸۰ ځلي به لوی وي. ده قوي منعسه موادو په لرلو سره دا ده طبیعي سپوږمی ۸ ځلي زیاته روښانه وي. ددا ټولو سره سره موږ تر اوسه ده چین ده مصنوعي سپوږمی رسمي پلان یا ده جوړښت لاره چاره نده ترلاسه کړې. مګر تلواري کېږی مه چي په آسمان کي مصنوعي سپوږمی وګوری.

موږ یوه ښکلې طبیعي سپوږمی لرو چي ښایي یو وخت یې استعمال او فضا ته ده تګ راتګ یو تمځای یې کړو. خو دا یوې بلي فرضي صنایع ته پرېږدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳: هیکل السلیماني او تابوت سکینه

ده انسانیت په تاریخ کې یوریشلم واحد داسې تاریخي ښار دی چې دنړۍ ده سترو او مبهمو تاریخي پریوانو یعني مسلمانانو، عیسایانو او یهودیانو ته خورا اهمیت لري. یوریشلم بیخي ډیر ده نظامي حملو لاندې راغلی دی. او په بشپړ ډول ویجاړ سوی دی. اوسېدونکي یهودیان یې هم دربدره سوي دي.

تر اوسه ده پخوانیو اثارو پلټوونکي دلته څېړنې کوي، ترڅو په مختلفو حملو کې ده ښار ضایع سوي عمارتونه او ده وختونو اثار ومومي.

### تابوت سکینه

ده بني اسرائیلو ده وخت حکمران په کافي اندازه سپین ږرۍ سوی وو. نو بني اسرائیلو له الله(ج) څخه ده دښمنانو پر خلاف یوه ده بادشاه دعاء وغوښتل. په دې ډول ده وخت حکمران ده الله(ج) ده حکم مطابق ۳۰ کلن تألوت ددوی بادشاه مقررول غوښتل خو بني اسرائیلو دا ټاکنه نه منل. بني اسرائیلو شرط کښېښود چې ترڅو تأبوت سکینه نه وي ورته سپارل سوې هغوی ده تألوت اطاعت نه کوي.

**بالاخره دا تابوت سکینه څه وو؟ او بني اسرائیلو دومره اهمیت ورکوی؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې خبره پوهېدلو لپاره مجبور یو په تاریخ کې شاته ولاړ سو. په حقیقت کې دا د لرګیو جوړ صندوق وو، چې پر حضرت آدم(ع) باندې نازل سوی وو. ټول ژوند ورسره وو او ده میراث په توګه یې اولادونو ته پاته کېدی. تر دې چې حضرت یعقوب(ع) ته ورسېدی چا ته چې اسرائیل هم ویل کیږي. ځکه خو یعقوب(ع) اولاد ته اسرائیل ویل کیږي.

په هم دې توګه تابوت سکینه له یعقوب(ع) څخه اسرائیلو ته پاته وو. همدا سلسلو چې دا تابوت سکینه موسی(ع) ته چی ده الله(ج) جلیل القدر پیغمبر وو ورته ورسېد. ده قصص الانبیاء په حواله په دې تابوت کې ده توراة اصلي نسخه ده ډبرې ۲ تختې چې کوه سینا کې حضرت موسی(ع) ته عطا سوې وې د حضرت موسی(ع) او حضرت هارون(ع) عصا مبارکه من و صلوی چې په یوه لوښي کې محفوظ ول په دې تابوت کې ایښوول سوي وه.

دا تابوت ده الله(ج) له لوري بني اسرائیلو ته رحمت او برکت څخه ډکه تحفه وه. دوی ته به چې کله هم کوم مشکل مخکېدی او یا به په کوم جنګ کې ده شکست خطره وه نو چې به اسرائیلو دا تابوت مخ ته کښېښود او ده الله(ج) څخه به یې چې هره دعاء غوښتل الله(ج) به ورته قبلول. له همدې امله بني اسرائیلو ته دا تابوت تابوت سکینه ثابت سو. لاکن کله چې بني اسرائیل په ګناهونو باندې اخته سول سرکښه سول او ظالمان سول الله(ج)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وربانديي عذاب نازل کړ. او ده امالي کو قوم لښکر جراد برید وربانديي وکړ. بني اسرائیل یې تباه او برباد کړل.

او ټول کلي یې وروه سوځل. همداراز تابوت سکینه هم له ځان سره یوور. او په غلاظت کې یې وغورځوی. ددې بې ادبی له امله الله(ج) پر امالیکوو باندي هم خپل عذاب نازل کړ. راز راز ناروغی وربانديي مسلطي سوې او ده سترګو په رپ کې ده امالیکوو ۵ واړه ښارونه ویران او کنډواله سول.

نو ځکه دوی پوه سول چې دا هرڅه چې کیږي ده الله(ج) عذاب دی. چې ددې صندوق ده بې ادبی په صورت کې وربانديي نازل سوي وي. دوی سم دستي تابوت سکینه بیرته پیداکړ او ده بني اسرائیلو طرف ته یې ولیږی.

الله(ج) ۴ فریشتې ورولیږلې صندوق یې له بني اسرائیلو حکمران ته ورڅخه راواخیست او په دې توګه حکمران یاد صندوق طالوت ته وسپاره.چې په نتیجه کې یې اسرائیلو ده طالوت بادشاه پر ځان باندي ومانه.

حضرت داؤد(ع) دا طالوت په لښکر کې په کم عمری کې شمولیت وکړ. او په پیل کې یې ده دښمت سرلښکر جالوت اسرائیلیانو ته ده مقابلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلنه ورکړه. لکن په ټولو اسرائیلیانو کي له جالوت سره ده مقابله کولو همت نه وو ځکه جالوت یو پنډ او سور تکړه کس وو او په جنگره مشهور وو.

بالاخره حضرت داؤد(ع) ده جالوت سره مقابلې ته ورووت. مقابله شروع سول چي په پایله کي یې جالوت قتل کړ. دې پیښي حضرت داؤد(ع) ده بني اسرائیلو ده سترگو تور کړ. او سخت پر گران سو. او حضرت طالوت(ع) خپل لور حضرت داؤد(ع) ته ورپه نکاح کړه. وخت تېرېدی تر دې چي حضرت داؤد(ع) ده بني اسرائیلو بادشاه سو او نبوت هم ورعطا سو. حضرت داؤد(ع) هلته ده تابوت سکینه د حفاظت لپاره ده یو تعمیر جوړ کړ.

حضرت داؤد(ع) پر اسرائیلو باندي ۴۰ کاله حکومت وکړ. لاکن ده حضرت داؤد(ع) په ژوند کي دا تعمیر مکمل نه سو خو ده هغه علیهم السلام زوی حضرت سلیمان(ع) دا تعمیر مکمل کړ. نو له دې امله یې دې تعمیر ته هیکل السلیماني یا کینگ سلیمان ټیمپل هم ورته ویل کیږي. سلیمان(ع) هم ده الله(ج) پیغمبر دی. او ده الله(ج) په حکم یې پیریان تابع وو. همداراز ده حیواناتو په ژبه الله تعالی پوهه هم ورکړې وه. او پر دې علاوه الله(ج) داسي سلطنت ورکړی وو چي له دې وړاندي نه چا ته عطا سوی وو او نه به چا ته په آینده کي ورکړل سي. داسي سلطنت چي سلیمان(ع) خپله له الله(ج) ځخه په دعاء غوښتی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده هيکل السليمان تعمير ۷ کاله وخت اخيستی دی. او دا راز ۴۱۰ کاله ولاړ وو. ده حضرت سليمان(ع) له وفات وروسته ده بني اسرائيلو خپل منځی جنګونه شروع سول. چي په نتيجه کي ۲ رياستونه په شمال کي سلطنتي اسرائيل او په جنوب کي سلطنتي يهود رامنځته سوه. دوی خپل ترمنځ سختي جګړې وکړې. تر دې چي حاشوري فاتحې او ده اسرائيلو بادشاهي او سلطنت په بشپړ ډول ختم کړ. او يواځي سلطنتي يهود پوري محدود سول.

خو ده بابيل بادشاه بخت نصر يهود هم تباه او برباد کړل. ترڅنګ يې هيکل السليماني هم ويجاړ کړ او تابوت سکينه په داسي ډول غائب سو چي تر ننه پوري يې هيچا ته معلومات نه کيږي

په داسي چال کي چي يهوديان هم ده بخت نصر ده حملې له امله دربدره سول ددې واقعې ۷۰ کاله وروسته سائرس کبير يا ذوالقرنين چا ته چي سائرس دي ګريټ هم ورته ويل کيږي ده هغه يو فوځ په يوريشلم حمله وکړل او له جنګ پرته يې له اشغال څخه خلاص کړل. په همدې توګه يهوديان بيا په يوريشلم کی آزاد سول، او ده هيکل السليماني ترميم يې بيا پيل کړ. ځکه خو يهوديان ذوالقرنين خپله مسيحه هم بولي. په دې دوران کي هيکل السليماني يو ځل بيا جوړ او تعمير سو. لاکن دا تعمير هم فقط ۴۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاله قایم ولاړ وو. په داسی حال کي چي تابوت سکینه په بشپړ ډول ورک وو او هیچا ته یې معلومات نه وو.

وختونه تېرېدل ده روم امپراطوری له لوري فلسطین بیا اشغال سو. ده اشغال په جریان کي یهودیانو ده رومیانو پرخلاف بغاوت هڅه وکړل خو په مقابل کي رومي حکمران ټایټس حمله پر وکړه او یوریشلم یې بیا تباه او کندواله کړ او هیکل السلیماني هم په بشپړ ډول بیاځلي تباه سو.

ده ټایټس په دې حمله کي کابو ۱،۵ لک یهودیان هم ووژل سول. او په زرگونه غلامان سول او ده ځیروونکو ځناورو په وړاندي وغورځول سول. ددې ستري حملې له امله ده یهودیانو هیڅوک پاته نه سول، آن چي دا وایي چي حمله څه ډول وسول، او تابوت سکینه څه سو. خو اوس سوال دادی چي تابوت سکینه څه سو.

پر دې موضوع ده نړی ده مختلفو برخو څخه مختلفي دعوې مخته راځي. ده مثال په ډول ده یهودیانو ده یوې ډلي دعوه ده چي تابوت سکینه په گوردن جبلین ایبو کومه سیمه کي موجود دی. او بعضي خلگ بیا وایي چي تابوت سکینه ده توپیه په معبت کي موجود دی. او بعضي بیا وایي چي تابوت سکینه ده برتانیې ده ملکي ده تخت لاندي دی چیرته چي ده ملکي تخت پوښی کیږي. لنډه دا چي نړی یې په اړه مختلیفي دعوې وړاندي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاکن ماهرین او ده اثارو پلټوونکي ده سر په بیعه پلټنه کوي خو په حقیقت کي یوازي الله(ج) ورباندي خبر دی او باور وکړی ترڅو الله(ج) خپله ونه غواړي تابوت سکینه هیڅوک او هیڅ وخت نسي پیداکولای.

ده یهودیانو ستر کوښښ دادی چي هیکل السلیماني بیا ځلي جوړ کړي او بیت المقدس په بشپړ ډول ونړوي. دوی په تعبوت سکینه پسي هم ګرځي او کوښښ کوي ترڅو یې پیداکړي. ترڅو یو ځل بیا یهودي سلطنت جوړ کړي. ددې شیطاني سلطنت ده احیاء لپاره یهودیانو ده هر ممکن کوښښ کړی دی. او لا بوخت دي زمینه سازي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۴: ایلومیناتي تنظیم

ده خفیه ټولنو له اصطلاحاتو څخه به خبر یاست او دا خبره نوره پټه نده پاته چي یوڅو شیطاني ډلي سته چي پټ فعالیت کوي او تر دې وخت یې بشپړشتون او فعالیت څخه پرده نده پورته سوې. یو له دغو خفیه تنظیمونو څخه ده ایلومیناتي نومي خورا مهم او پخوانی تنظیم دی.

ایلومیناتي ده فریمنسن خنفیه تنظیم څخه زېږېدلې یوه پټه ټولنه ده. خو حقیقت دا دی چي دا تنظیم هغه وخت لا جوړ سوی وو کله چي شیطان له جنت او آسمانونو څخه وشړل سو او ځمکي ته راغلی. ځکه خو ددې تنظیم ټول نظریات شیطاني دي. ایلومیناتي رڼا یا ده پوهني رڼا ته ویل کیږي.

ایلومیناتیان وایي چي دوی ده داسي علم په نور منور دي چي نور هیڅوک دا علم نه لري. او دعوه کوي چي ده ټول عالم بهترین دي. پوښتنه دا ده چي کوم علم؟

ددې خبري دقیق جواب لا له چا سره نسته. ځکه دوی خپل ټول رازونه پټ ساتي. خو په دې اړوند یوه نظریه دا ده چي دا علم ده کباله نومي تور جادو دی. کباله جادو بیا ده بیبیلون ښار یعني عراق ده پخواني تهذیب علم دی چي ۳۰۰۰ کاله پخوا لا ختم سوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو تر نن ورځې پورې په نني عراق کې ددې تهذیب اثار موجود دي. ده کباله جادو په اړوند ویل کیږي چې په دې جادو هر ناممکن کار ممکن کېدای سي. پر همدې اساس بعضې خلګ ددوی ددې دعوې وجه دا کباله جادو ګڼي والله اعلم.

ددې تنظیم غړیتوب خوفناک او وېرووونکي شرایط لري. دا چې ددې تنظیم غړی به ده رازونو ده ساتلو حلف اخلي. ده شیطان خدایي به مني او عبادت به یې کوي. په شیطان باندې به خپل روح خرڅوي. او پر خپل روح باندې ده بشپړې سلطې اجازه ورکوي او ده ژوند په ټولو چارو کې به ده شیطان هدایات اخلي. ددې تنظیم غړي ده شیطان لپاره حیوانات حتی انسانان ده قرباني په نوم ذبحه کوي ترڅو ده شیطان باور ترلاسه کړي او قوت ترلاسه کړي.

ایلومیناتیان هر وخت پر خپلو تسبیحاتو ده شیطان ده نوم ویرت کوي. او له شیطان څخه غیبي مرسته هم غواړي. ایلومیناتیان ده نړی ترټولو مالداره او بیخي ډیري پیسې لري. ده ایلومیناتیانو ۱۳ نسلونه دي. او دا ۱۳ نسلونه ده ټولو نړی بانکونه، مطبوعات او ده نړی بشپړ صحیح او تعلیمي برخې کنټرولوي. ده ایلومیناتیانو په دې ۱۳ نسلونو کې یو خاندان ده ډیویډ راک فیلر دی او بل خاندان یې ده راک چایلډ نومیږي. دا دواړه خاندانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده نړۍ ده اقتصاد او ده امریکا ده فیډرل ریسر بانک څښتنان دي. له دې بانک څخه په قرض اخیستلو اخیستلو امریکا ددوی غلامه گرځیدلې ده.

روک فیلر امریکا کنترولوي خو راک چایلډ بیا اروپا کنترولوي. ډیویډ روک فایلر ده بین الاقوامي مختلفو ادارو بنسټ گر هم دی. او هم دی ده نړۍ مستقبل ته دسیسې جوړوي. ده ښځو حقوق، ده بشر حقوق، باز سازي، صبر، برداشت، امن، انساني قوت، انسانیت له مذهب څخه پورته دی، ساینسي ترقي، انساني ارتقاد، تهذیب، ثقافت، مل المتحده، وغیره وغیره.

دا اصطلاحات ددوی تر ټولو خطرناکي او تسخیروونکي اصلحې دي. دوی خپل مذهبي کتاب هم لري چي مقدس یې گڼي. او ددې تنظیم غړي وایي چي په مقدسو کتابونو کي چي کوم خلگ شیطانان نومول سوي دي اصلا همدا خلگ ده نهایت ډیر احترام لایق دي او ده ستر علم خاوندان دي او پر ټوله نړۍ دوی ده امر حق لري، ځکه خو دا خلگ هر وخت په ټوله نړۍ کي ده نیو ورلډ آرډر نافذولو یا نړیوال کلیوالتوب رامنځ ته کولو لپاره هڅي کوي. او دوی وایي چي آدم(ع) او حوا انا ده غنمو په خوړلو ډیر ښه کار وکړ.

ددې تنظیم مشهور معبود او معتبر شیطان یې لوسیفر نومیږي. او په اغلب گومان دا به ابلیس وي. رومیان یې بیا اډوسي بولي. ددوی په فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده دریاب ترټولو زورور خدای دی معاذ الله. او داسي حدیث هم سته چي شیطان خپل تخت پر سمندر هواروي. بل شیطان یې بیا بفومیټ نومیږي. چي شکل یې ده بزې په څیر دی. ده بفومیټ خوفناک شکلونه سته. دوی بتان جوړوي او په نوم یې عبادتګاوي هم جوړي سوي دي چی شیطاني کلیساوي بلل کیږي.

ددې تنظیم له یاوه تر ۳۷ پوري درجات او رتبې دي. دوی په ټوله دنیا کي خواره واره دي. ددوی مرکزونه ولوکه اسرائیل او امریکا دي خو دوی په ټوله نړی کي خپل مقاصد او اهدافو ته کار کوي. دوی هر هغه طریقه په کار اچوي چي ده خلګو په زړونو کي انانیت یا ځان خوښونه خوښوي. خلګ په پیسو او شهرت پسې کړي غافل یې کړي او په سیورو کي یې دوی خپل هدف ته ځانونه رسوي. دوی په خاص ډول ځوانان په نښه کوي.

**ده ایلومیناتي خفیه تنظیم اهداف او مقاصد:**

ددوی هدف په ټوله نړی کي ده باقي مذاهبو خصوصا ده اسلام ختمول او ده خپل دغه پلیط شیطاني مذهب تپل دي. دوی ده خدای او ده مذهب تصور ده انسانانو خودساخته تنظیمات بولي، او وایي چي مذهب

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان له مادي ترقی څخه رامنعه کړی دی. او پر همدې یوه مقصد ددې تنظیم پوره عمارت ولاړ دی. او ده همدې پر اساس په دنیا کې ریجوسریلیبلیریزم، سکلیریزم یعني الهاد او لادنیت مکروب ته فروغ ورکوي. باید پام مو وي چې ده سکلیریزم لیبلیریزم شیطاني او دجالي فتنه افغانستان ته هم رارسېدلې ده.

او په خورا سرعت یې زموږ افغانان پر سر اخیستي دي. او بر وړاندي یې خبردار واوسی. امید دی موږ خپل مسؤلیت اداء کړی وي. همداراز متوجه سو چې دوی خپلو اهدافو ته څه ډول مصنوعي شعارونه جوړ کړي دي. لکه ده بچیانو نه زېږول، همداراز ده قومیت او سرحداتو ختمول هم ددوی له مقاصدو څخه دي. او هڅه کوي چې پر نړی یو مرکزي حکومت قایم کړي. ترڅو شیطاني اقدار ده همدې حکومت په توسط پلي کړي.

دوی همداراز بوخت دي چې نور منشیات عام کړي. فحشاء، عریاني او عیاشي ده ترقی په نوم ترویج کړي. او ده نړی پر ټولو وسایلو باندي قابس سي. او خطرناکه خبره دا ده چې ایلومیناتیان ده خپلو مقاصدو بشپړحاصلولو ته زیات نژدې سوي دي.

**ایلومیناتیان څه ډول فعالیت کوي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس سوال دادی چې دوی بالاخره دا دسیسې څه ډول پلې کوي او طریقه کار یې څه دی. دوی خپلې دسیسې په ۲ طریقو باندې پلې کوي. لومړی داچې دوی ده نړی ده مختلفو خفیه تنظیمونو غړي په پیسو باندې واخلي او دا خلگ ده خپلو مقاصدو لپاره استعمالوي. ده مثال په ډول ده فریمنسن په اړه تاسې بهتر خبر یاست. ده فریمنسن غړي خو په ظاهره توگه فریمنسنران دي خو کار ده ایلومیناتیانو لپاره کوي. او دویمه طریقه یې ده مواعهداتو په توسط سره ترسره کوي. دا مواعهدات ده هغو خلگو سره کوي چې په ژوند کې شهرت او بریالیتوب واک یا پیسه غواړي. دوی ده هغوی فرمایش ورپوره کوي او بیا ده هغوی واک اوعودې ده خپلو مقاصدو ده پوره کولو لپاره استعمالوي.

ویل گیږي چی ده نړیوال بانک او آی ایم ایف مشران ده ایلومیناتیانو له خوا مقرر کیږي. داسې افوهات هم سته چې ده امریکا نورو مهمو او زبرځواکونو ډیری هیوادونو اولسمشران ده ایلومیناتې تنظیمونو غړي وو.

ریگن، مشر بوش او کشر بوش، اوباما او ټرمپ او ددوی علاوه ډیری اولسمشرانو په اړه ویل کیږي چې دوی ده یاد تنظیم غړي دي او ده هغوی لپاره کار کوي. پر دې سربیره ایلومیناتیان ده ناکامو فیلمي اداکارو، ډمانو او ژورنالیستانو سره هم مواعهدات کوي. فرمایشات یې ورپوره کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په بدل کي يې خپل کارونه ورباندي کوي. ده لیډي ګاګا، بریټنیسفیر، میډونا، جستنببر او ګین اوېس په اړه ویل کیږي چي دوی ایلومیناتیان دي.

او ددوی په البمونو کي ده ایلومیناتي تنظیم ده نښو جوړوني دا خبره ښه ثابته کړې ده. درنو ویونکو دا اوس چي په نړی کي هر طرف بد حال دی، او هر طرف جنګونه دي، ده وینو ویالې رواني دي، په نړی کي نشه عامه سوې ده، ده لادنیت او الحاد وبا هر طرف ته خپره سوې ده په دې هر څه کی ده همدې خلګو لاس دی. الله(ج) دي موږ ده دجال او ده شیطان ددغه ستري فتنې څخه هم وساتي. اللهم آمین.

**د ایلومیناتیانو نښي یا علامې**

ده ایلومیناتیانو نښي او علامې ده نړیوالو تلویزیونونو، خپرونو، سیاسي، نظامي او کلتوري غونډو کي لیدل کیږي. په ټولنیزو مطبوعاتو کي هم لیدل کیږي. ده ایلومیناتیانو او فریمنسن علامې یوبل ته ډیري ورته دي. ایلومیناتیان ډیر ده آل سینګ آی یعني هرڅه لیدونکي سترګي نښه ډیره کاروي. ځکه دوی وایي چي دوی ده آل سینګ ای په څېر دي. او له نظره یې هیڅ شی پټ نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا ده دجال سترگه چې دوی یې خپله مسیحه بولي او دوی ده یوې سترګي په پټولو سره دا په ډاګه کوي چې په ریښتني ډول سره ایلومیناتیان دي. دا ده دوی مشهوره علامه ده او ددوی لپاره ډیره استعمالیږي.

بله نښه یې ده بم نومي مرغه ده. ده مغربي تهذیب له مخي بم ده عقلمندی نښه ده. له دې علاوه بفومیټ، پېلبو (بریښنا) او ۳ ګوني شپږ چې ده شیطان چاپ هم بلل کیږي دا ټول ددوی نښې او علامې دي چې مفاهیم افاده کوي او مطلبونه لري.تاسي کولای سی چې په دې ډول یې په اسانی تشخیص کړی او ځانونه ورڅخه وساتی. په لنډ ډول ویلای سو چې ایلومیناتي هغه تنظیم دی چې ده دین پر ضد باندی فعالیت کوي. او هدف یې ده ټولو مذاهبو ختمول دي. او ددې مقصد ده حصول لپاره دسیسې په کار اچوي. چې یوه یې معاهده ده. دا ده عامو خلګو لپاره ده جلب او جذب طریقه ده.

دوی وه هغو ته پیسې، شهرت او ده بریالیتوب چانسونه وربرابروي او په مقابل کي یې ده مذهب ضد افعال پرې ترسره کوي. ده ایلومیناتیانو تر ټولو ډیره خطره وه اسلام او مسلمانانو ته ده. له دې امله چې مسلمانان ده نورو دینونو ده پیروانو په پرتله خپل دین ته ډیر ژمن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده اسلام معاشرتي او سیاسي نظام هم ده ایلومیناتیانو لپاره ستر سرخوږی دی. له همدې امله ایلومیناتیانو په مسلمانانو کي له ډېریو خلګو سره مواعهدات کړي دي چي موږ او تاسي یې اثرات هم وینو. ده اسلامي ملکونو په مطبوعاتو کي ده سکلیریزم، فحشایي او عیاشی نشر یې واضح دلایل دي. اوس موږ مجبور یو. دا یو ډېر اشد ضرورت دی چي ده ایلومیناتیانو او فریمنسن ده خفیه تنظیمونو اهداف درک کړو.

او ده ایلومیناتي تنظیم له غلامانو پرده پورته کړو. مدا زموږ مسئولیت دی. راځی خبل اولس ددوی پر خلاف هوښیار کړو او ددوی له فتنو څخه یې وساتو. زموږ اولس ستاسو همکاری ته ضرورت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵: سپینه ماڼۍ او جنایتونه یې

## فرنک ډوناګیو وایي

سپیني ماڼۍ ته یو نوی حکومت ننوت. تګنتنامو بې زندان به ډیر ژر وتړل سي. خو ده جنګي جنایتونو څېړل ورسره بند نه سي. ګنتنامو له دغه کیسو څخه پیل دی او نه به یې پای وي. ده بوش اداره ده نړیوال قانون په ماتولو کي ترګیټ ماوت، تر ابوغریب، ده سي آی اې ده تورو زندانونو وړاندي په دښته لیلیه کي رسوا سول. په نومبر میاشت کي ده امریکایي بوډاګیانو پر مټ تر ۲۰۰۰ ډیر بندیان مړه سول او ده افغانستان ده لیلیې په دښته کي په غټه هدیره کي ښخ سول. دغو افغاني ځواکونو ده امریکایانو سره یوځای عملیات کول. نیویارک ټایمز مجلې په ډاګه کړې چي ده بوش ادارې دغه جنګي جرم په اړه ده ۳ پلټونو مخه نیولې ده، چي دغه حقایق ۸ کاله وروسته له دغي پیښي هغه وخت رابرڅیره سول چي ده بشري حقونو ده غړو له لوري یې پټې پلټني ترسره سوې. یوه پخواني ده ایف بي آی ایجنټ او نوري سرچینې اعتراف کوي چي کله په ۲۰۰۲ کال دغه خبرونه ورکول کېدل نو پخواني ده بوش ده ادارې غړو ده ایف بي آی ده دفاعي ریاست په مرسته ځیني شواهد له منځه یووړل. دغه قیصه ده ۲۰۰۱ کال په نومبر میاشت کي ده افغانستان په شمال کي هغه وخت شروع سوه چي په زرګونه طالبان، بحرني جنګیالي، افغاني او امریکایي ګډو ځواکونو او عبدالرشید

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوستم ته چي په شمال کي یو بدنامه او وحشي ملګری وو تسلیم سول. ده بندیانو سره ژمنه سوې وه چي دوی ته تاوان ونه رسول سي.

**نتنیل رایمونډ وایي**

دوی هغه ټول بندیان په کنټېنرانو کي واچول او په یوه کاروان کي یې ده دښت پر خوا روان کړل. ده امریکا له حکومت څخه چي پي ایچ آر کوم معلومات ور رسېدلي وه ده هغو له مخي تر ۲۰۰۰ پوري وګړي په هغه کاروان کي مړه سول، دوی یې په دښت لیلیه کي ښخ کړل چي هلته اوس ده افغانستان ده شبرغان سره نژدې یوه لویه هدیره ده.

**سوسانه سیرکین وایي**

کله چي موږ ده افغانستان په شمال کي په شبرغان کي په بندي خانه کي پلټني کولې پي ایچ آر یوه لویه هدیره وموندل. زموږ ډلي هلته یو ډیر بد حال ولیدی. هلته په یوه تنګ ځای کي ۳۰۰۰ بندیان وو. سمه خورکه یې نه ول. بندیان ده ناروغیو له کبله ده کمزورۍ او لوږي له کبله مړه کېدل. هلته زموږ ډلي له یوې غټي هدیرې په اړه واورېدل. او هلته یې ځیني شواهد هم وموندل. نو ده یو این او نړیواله هدلي طب لاندي ده هغه هدیرې ده ځینو برخو څخه ځیني اړیني کتني وکړلې. ځیني جسدونه مو وازمایل او ومو موندله چي دغه جسدونه شکنجه سوي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لومړیو کې په پټه او ورسته په ښکاره سره پې ایچ آر غوښتنه وکړل چې افغان او امریکایي چارواکي دي دغه لویې وژني وپلټي. او عایلي شاهدان او شواهد دي وساتل سي. مګر افغان عایلي شاهدان وګواښل سول او ووژل سول یا ګرسره ژوندي ورک سول.

**نتنیل رایمونډ وایي**

پیتاګون ویلي وه چې ماځي یوڅو بندیان ده هغه وړلو پر مهال ده خپلو ناروغیو او زخمونو په سبب ووژل سول او پیتاګون دا هم ویلي چې ده ځانګړي ځواکونو څخه یې ده راتلو پر وخت پوښتني ګروېږني وکړې. نو نورو پلټونو ته اړتیا نسته.

یواځی دا نه چې پلټني نه کېدلې. هغه کال یې جنرال دوستم ده حمید کرزي په حکومت کي ده دفاع ویز ده مرستیال په توګه داخل کړ. او اوس په ډاګه سول چې جنرال دوستم ده سي آی اې مزدور وو. ده دوستم له ۲ ملاتړکوونکو څخه ده دفاع وزارت سرمنشي رمسفیلډ میټ او مرستیال سرمنشي ولف پوفویرس وو. ده نیویارک ټایمز په حواله چې چارواکو ولف پوفویرس ته ویلي وه چې دوستم به ښایي جنګي جرم کړی وي. خو ولف پوفویرس وویل چې دوی به په دې اړه کوم ګام وانه خلي.

**سوسانه سیرکین وایي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ده امریکا او افغانستان دولت فالیسي وه. هغه جنګي جنایت کاران چي په افغانستان کي يې زياتي وژني کړي وې ده افغانستان په حکومت کي ورګډ کړي.

**فرنک ډوناګيو وايي**

هغه خلګ چي په دښت ليليه کي ژوندي پاته سوي وه هغه ده ګونتنامو بې زندان ته يووړل سول، چيرته چي ډلټسبريټ ده ځانګړي اېجنټ او اې پي آی په توګه کار کوي.

**نتنيل رايمونډ وايي**

ده نيويارک ټايمز مجلې چي هغه ځانګړې اېجنټ سپړې سټيم په ګونتنامو بې کي ده ۱۰ بنديانو سره مرکې وکړې. ده ايف بي آی ايجنټس دغه معلومات په واشينګټن کي ددوی وه قومندانی ته تايد کړل. خو دته وويل سول چي پلټه ونه کړي.

ده ۲۰۰۲ کال په اګسټ مياشت کي نيوزويک مجلې چي ده معلوماتو ده خپرولو په يوه پټه قيصه کي دغه ټول وژني په اړوند تورونه او معلومات خپاره کړل. ددغه معلوماتو خپرول افغان او امريکايي حکومتونه دې ته اړ کړل چي په دې اړه لويي پلټني وکړي. خو کله چي حکمتي برخي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هڅه وکړل چې دغه پلټنې شروع کړي ده بوش سپیني ماڼۍ بیرته بندي کړې.

**سوسانه سیرکین وایي**

نو په راتلونکي څو کلونو کې پی ایچ آر ده دښت لیلې په هدیره کې ده یوې پلټنې ده شوه کېدلو لپاره تم وو. په دغه وخت کې موږ ده افغانستان ده ازادو بشري حقونو له ادارو سره کار وکړی، چې افغانان پولیس او عادي طب والا هم وو. چې دوی وکولای سي په افغانستان کې ددغه هدیرو په اړه نخشې او معلومات راټول کړي. زموږ لویه بېره داوه چې ښایي یوڅوک به راولاړ سي او ده دښت لیلې هدیرې ټول شواهد به خراپ کړي. او داغه ډول موږ ده افغان حکومت او امریکا څخه هم ده دښت لیلې په اړه معلومات راټولول.

دا چې سپیني ماڼۍ هیڅ یوه پلټنه ده دښت لیلې په اړه نه پرېښودل نو پي ایچ آر یوه لار لرل. هغه دا چې ده امریکا څخه هغه ټول اسناد وغواړي چې هغه یې ده دښت لیلې په اړه له امریکا سره پراته دي. خو ده بوش ادارې ددوی غوښتنه رد کړه. تر ۱ کال زنډولو وروسته پي ایچ آر یو قانوني گام پورته کړ چې کومت لاري ته راولي.

**نتنیل رایمونډ وایي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ وکارول. موږ وګټل او بالاخره موږ هغه اسناد ترلاسه کړل چې باور کېدی امریکا په دښت لیلیه کې ۲۰۰۰ بندیان ووژل.

چې دا څنګه دا اسنادو ته لاسرسی وسو ده پي ایچ آر عادي طب وموندل چې ده دښت لیلې په هدیره کې ده یو چا پر مټ ټول ثبوتونه له منځه وړل سوي دي. ده مکلاچې ورځپاڼې ده خبر له مخې افغان حکومت چارواکې او ده قانون پلې کوونکې ده غچ څخه وېره لرل. او جنرال دوستم په غیر قانوني ډول خپل خلګ ورلېږلي وه. هغه دده پاته شوني یې له منځه وړي وې.

**سوسانه سیرکین وایي**

داسي ښکاري چې ددغې هدیرې ډېری شواهد په لوی لاس باندي له منځه وړل سوي دي. تر ټولو معلوماتو تر راوتلو وروسته نو بیا دا څنګه کېدلای سي. ده نیوزیویک تر خبر وروسته ده پي ایچ آر پلټنې وروسته تر دې هم وروسته چې یو ان یې ده ساتنه وکړه. تر دې هم وروسته چې هم امریکایي او هم افغان حکومت یې په اړه ده پلټنو غوښتنه وکړه.

**نتنیل رایمونډ وایي**

ده نړیوالو غازیاتو په آن چا چې ده دښت لیلیې دښته تر نظر تېره کړې وه دا ده جنیوا ده کمیسیون څخه یوه ستره سرغړونه ده. او دا یو جنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنایت دی. ده نړیوال قانون سره سم ده جنګي جنایت پټول خپله یو جنګي جنایت دی.

له افغانستان څخه بیا تر ګونتنامو بې پوري ده ایف بي آی څخه بیا تر سپیني ماڼی پوري ده بوش اداري دغه پیښه پټه کړه.

**فرنک ډوناګیو وایي**

ده امریکا قانون پلي کوونکي ده بوش ده اداري له لوري راګرځول سوي وو. پي ایچ آر چي ده نړی تر ټولو تکړه پلټوونکي خبریالان دي. دوی هڅه وکړل چي ریښتني څه ښکاره کړي. بیله دغو خبریالانو څخه ده بشري حقونو ډاکټرانو به هیڅ کله دا قیصه نه وای ویلې. او اوس نو دغه په مسؤلو چاروا کو پوري اړه لري چي پسي وه یې غزوي کوم چی موږ او نورو شروع کړې ده او دا اوس په تاسي پوري اړه لري چي ده بشری حقونو والا ډاکټرانو او نورو حقیقي پالانو سره ودرېږی ترڅو عدالت پلی سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۶: ای پټ ګوټ ۲ کارتون

نن ده آی پټ ګوټ ۲ دداسي کارتون په اړه بحث کوو چي ده ټولي نړی محقیقینو، ذیرکو او متجوه وګړو پام خپل ځان ته جلب کړی دی. خلګ بوخت دي څېړی يې او پکښي خفيه تنظيمونه ځيني راباسي. ولوکه ددې کارټون په اړه خلګ مختلف اراوي لري. دا کارټون آی پټ ګوټ ۲ نوميږي چي ده ماشومانو ده پټ ګوټ نومي کتاب څخه يې نوم اخيستل سوی دی. هغه کتاب چي بوش ده ۱۲ سپټمبرده پيښي په ورځ په مکتب کي په لاس کي نيولی وو.

په دې کارتون کي يهودي پټو ورانکارو، تنظيمونو، فريمنسنز، ايلوميناتيانو خپل ناوړه شيطاني دسيسې ده مختلفو علامو او سمبولونو په ذريعه ښودلي دي. دغو شيطاني تنظيمونو او کوچنی کارټون کي ده نيو ورلډ ارډر مکمله خاکه آن ده دجال تر ظهور پوري خپل ځان او طرحه سوی پلان ښودلی دی. ده کارټون ده لنډو کارټونو ليکوونکي هدايت کار او نشروونکي کاناډايي لوويس په تاريخ ۲۶ ده جون ۲۰۱۲ کي نشر ته سفارلی وو.  بايد پام مو وي چي مسلمانان ده مستقل او واعدې لپاره ده قرآن او حديثو څخه رهنمايي اخلي. خو په دغه کارټون کي چي څه په مخه راځي هوبهو که نه وي ډير څه يې په احاديثو کي موندلی سی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هڅي خو په دې ویډیو کي خو بیخي ډیر پیغامونه دي چي ټول یې راسپړل ډیره ناممکنه ده خو موږ ده یوڅو څېړنکو له لوري متفق پیغامونه راخیستي دي. ترڅو پوه سو چي ده دجا وه ظهور ته څه ډول تیاری کیږي. چا چي دا کارتون جوړ کړی دی هغه په یوه مرکه کي ویلي دي چي نه پوهېدی چي څه جوړوي، بس عادتا اخته وو چي دا کارتون یې جوړ کړ. خو درواغ وایي. دومره پر عجبو او غریبو مفاهمو مشتمل کلیپ پر طبیعت باندي نه جوړیږي.

حقیقت خو دادی چي له خفیه تنظیمونو سره له صلاح او مشهورې او ده هغوی ده هدایت وروسته یې نشر کړی دی. او نهایت سخت پیغامونه یې پکښي ځای پر ځای کړي دي، چي هر انسان لپاره پرې پوهېدل مشکله ده.

**د آی پټ ګوټ ۲ کارټون شننه**

ددې کارټون په پیل کي کي یوه بیزه چي دا انسان په معنا ده او ده هر لوري قیده ښکاري پر سر یې ۳ ګوني ۶ یعني مارک اوف ده بیسټ چي ده شیطان چاپ هم ورته ویل کیږي جوړ سوی دی. ده بیزې پر تندي دا چاپ دې خبري ته اشاره کوي چي ده انسان جذبه، احساسات او خیالات ده آر ایف آیډي چیف په وسیله ده دجال له لوري کنترول کیږي. او که ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته زیر سو نو واضحه ښکاري چي بیزه نشه ده دا معنا ورکوي چي انسانیت له حقیقت څخه غافل دی. او لادي لیدل کیږي چي په توپنچه مصلح کس سپی تناب کړی دی. چي ښی چي انسانان ده دجالي تنظیمونو له لوري تناب سوي دي. لوړ بیا لایټونه ۳ لوړ او ۳ کښته چي ده فریمنسن تنظیم ده ۳۳ رتبو مطلب افاده کوي په معنا دي.

دا راز په شروع کي ۹ داني عددونه او رومي ۲ یعني ۱۱ دا ده ۱۱ سپټمبر پیښي ته اشاره ده. همداراز ددې بیزې شاته نړیوال تجارتي مرکز یا ورلډ ټرېډ سنټر وینو چي لوګي ځیني پورته کیږي. برسېره که ددې ویډیو پر نوم نور هم غور وکړو نو ویلای سو چي ددې ویډیو په نوم کي هم یو خفیه پیغام ورکول سوی دی. آی پټ ګوټ ۲ مطلب آی ایم پټ ګوټ ۲ دی یعني زه هم یوه پالتو یا ساتل سوې بیزه یم. له دې څخه ممکن هدف داوي چي ګویا ټول انسانیت ده سونیانو پالتو غلام دی. باید یادونه وکړو چي ده یهودیانو مذهبي کتابونه هغوی ده انسانیت سرداران بولي.

ځکه خو یهود دا بایللي سرداری ده بیرته احیا او عرادې لپاره خپل شیطاني چلونه او فریبونه په کار اچوي. او دوی په دې عقیده دي چي ده دجال له راګرځېدو څخه وروسته به پر ټوله نړی ددوی حاکمیت وي. په ویډیو کي وړاندي ۲ شیطاني لاسونه ښکاري. دا لاسونه ده هغه دجالي خاندانونو په معنا دي چي نن سبا ده ټولي نړی معاشیت او ټول وسایل په

(c) ketabton.com: The Digital Library



واک کې لري. ده ویډیو په دغه برخه کې پر ۱ لاس باندې وینه او پر بل لاس ده ډالرو نښه ده. له دې څخه یې هدف دادی چې په زور او زرو باندې ټوله نړی کنټرولوي.

دوی ده خپل کار خلګ په پیسو اخلي او که څوک انکار وکړي وژني یې. او دداسې ډېرو خلګو ده مرګ مثالونه موجود دي چې تر شا یې ده همدې دجالي تنظیمونو لاسونه دي. ویډیو وړاندې ځي. په دې برخه کې وینو چې دا وحشي لاسونه چې پر یوه ده ډالرو نښه او بل یې په وینو سور دی ده امریکا پخوانی ولسمشر بوش نسوي. په ویډیو کې بوش ده ګوډاګي یا نانځکی په حیث ښودل سوی دی چې ده لوړو لاسونو په اشارو ګډا کوي. او دا ټوله صحنه یې په هغه صنف کې جوړه کړې ده چې بوش ده ۱۱ سپټمبر ده پیښې په ورځ سهار وررغلی وو.

بل خوا ده بوش پر سر یوه سپینه خولی ښکاري چې ورباندې ده انګریزي حروفو ډې لیکې ده. دلته ده حرف ډې څخه ډنس دی. دا خولی به په مکتبونو کې ده بداخلاقه او بدرویه هلکانو ورپرسر کېدل. او په کوم صنف کې چې بوش ناست دی ده هغه صنف فرش ده تورو او سپینو تختو څخه جوړ دی. چې دا جوته وي چې هغه په یوه سخت جنجال کې راګیر دی او همداراز ده تور او سپین رنګ فرش ده ماسونیت خوا ته هم اشاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده بوش وه بغل ته بیا داؤدي ستوری یا ستار اوف دیویډ دی. چې په دې توګه ددې هرڅه تر شا ده یهودیانو شمولیت او لاس تثبیتوي. پر همدا داؤدي ستوري لوړ ده متحده ایالاتو نقشه زړیږي. په نقشه کې دغه ټول هغه ځایونه په نښه سوي دي چې چیرته چې سحیوني تنظیمونو خپلې دسیې پلې کړي دي او کامیابه کړي یې دي. لومړی میخ چې ده نیویارک پر موقعیت ټک وهل سوی دی. ده ۱۱ سپټمبر پیښې ته اشاره ده.

دوهم مېخ په کلوهاما کې ده کلوهاما چاودنو ته اشاره ده. دریم مېخ بیا په نیو اورلنډ کې ده طوفان پر مهال ده لین چاودېدلو ته اشاره ده. څلورم میخ ده مکسیکو پر خلیج ټک وهل سوی دی ده تیلو ده تویېدلو پیښې ته اشاره ده. او ددې نقشې څخه لوړ یو عکس ده بم په نوم ده یوه مرغه رسم دی. بم مرغه ده یوه شیطاني تنظیم بوهیمیم نشان دی. او فریمیسنړی تنظیم کې بیا ددې مرغه دا نښه ده عقلمندی په علامه باندې پیژندل کیږي.

همداراز په ویډیو کې ښکاري چې ده ساعت ثانیه ګر دقیقه ګر او ساعتګر ټولې ستنې پر ۱۲ باندې ولاړې دي. چې ده ۲۰۱۲ ډیسمبر ته اشاره ده. ځکه دوی په دې باور وو چې په یاد تاریخ به ده دنیا مقناطیسي قطبونه بدلیږي چې په نتیجه کې به یې بیا ده یخې دور راځي. یو بله تیوري ممکن دا هم وي چې دغو دجالي قوتونو ممکن خپلو یو لړ ترحه ثوو دسیسو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



له یاد تاریخ څخه دا عمل شروع کړی وي. له توري تختې لاندي لومړی شی بیا نیوټن بریډ قانونه ته اشاره ده چي وایي هر عمل مثبت یا منفي عکس العمل لري. دا لومړني سمبولونه دا مطلب افاده کوي چي صحیح او غلط سره برابر دي او ده یوه قوت ۲ نومونه دي ځکه ده سونیانو په عقیده چي له ښو بغیر بد نامکمل دي او له بدو بغیر ښه نامکمل دي. ځکه خو ده ښو او بدو وروسته چي هرڅه دي سم دي.

پر دا بل بغل بیا ده پرې سوي زړه عکس دی. چي زما په باور به یې مطلب دا وي چي به نړی کي ده درواغو او بریب ده رواج له امله انسانیت ده مایوسی او دربدریو سره مخامخ وي.هغه مایوسي چي شیطان غوندي زبردست پوهان یې ده الله(ج) ده رحمت څخه وترټل او مایوسه یې کړل. بیا وروسته په منځ چي ده ښو او لاسونو لرنکي چي افې مار دی ریپټل ډریگن ورته ویل کیږي. دا نښه ده شیطان استازیتوب کوي. او ددې علامې څنگ ته ده انساني دماغ عکس رسم سوی دی. په داسي حال چي دماغ ده ټکنالوجی ده نښي په علامې په مابینځ کي په دوو برخو باندي تقسیم سوی دی. دا پیغام ورکوي چي گواکي ډیر ژر به شیطاني ساینس پوهان ده انسانانو پر دماغ واک خپل کړي. او یا یې ممکن ددې دواړو عکسونو ده حضرت آدم(ع) او حوا آنا قیصې ته اشاره وي، چي څه ډول شیطان څنگه تیر ویستل او له جنت څخه یې بهر وویستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې پر تخته دا ایوولیوشن نظریې خوا ته اشاره ده. او ترڅنګ یې یو کس پدار سوی دی. چي دا افاده کوي چي پر انسانانو ده انساني ارتقاء نظریه او درواغ په پیمانه ډول تپل سوي دي. او دا چي ده ایوولیوشن پر تخته غیر مکمل لیکل سوی دی دې طرف ته اشاره ده چي دا نظریه خپله نیمګړې ده او درواغ ده. په ویدیو کي وړاندي ښودل کیږي چي یو کور اور اخیستی دی او ورسره یو جغت ماهی ورسره رسم سوی دی، دا په دنیا کي ده رامنځته کېدلو لپاره ده طرحه سویو تباهیو طرف ته اشاره ده. پر تخت لوړ ده انسان تناسولي آله ښودل کیږي چي ده فحشایی ده عامولو او ده نارینه بغیر ده ماشوم ده زیږولو خوا ته اشاره ده. ده انسان پر سره انساني ارتقاء ښودل سوې ده. ده انسان شاته ده لمر ده وړانګو رسم دې طرف ته اشاره کوي چي انسان خپله خدای جوړېدلای سي.

په ویډیو کي وړاندي بوش خپلو ګوتو او لاسونو ده شیطان ښکرونه جوړوي. او وروسته بوش په اوباما تبدیل سي چي په مصنوعي ډول خاندي. له دې څخه یې هدف دادی چي ټوله امریکایي ولسمشران ده سونیانو له لوري ټاکل کیږي. دوی ګډاګیان دي او دوی یې نسوي. په داسي حال کي چي ده تبدیلی فقط مخ بدل سي کالي او بوټونه یې هماغسي وي. چي دا معنا ورکوي ده دواړو ترمنځ هیڅ فرق نسته. یا دا چي دا تبدیلي فقط ده څهرو ده. ده طرحو او ده طریقه کار نه ده او خاندي ځکه چي دده ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کردار لیکوال ورته ویلي دي چي وخاندي. ده ویډیو په راتلونکې صحنه کي ۱ انجلی ښکاري چي ده ژوند په طلایي ربعه کي ناسته ده. دا انجلی ده حقیقت یا ریښتیاو معنا ورکوي.

هغه حقیقت چي سونیان یې ده ختمولو پوره پوره هڅه کوي. ددې انجلی شاوخوا بې هوشه ماشومان موجود دي. او دا هغه خلګ دي چي یو وخت ده سونیانو په کنټرول کي دي. ده کارټون په راتلونکې صحنه کي چي له دغه انجلی څخه سیب پر ځمکه لویږي او ده اوباما له پښو سره منښلي او ده پخواني مصري ده الاټرا علامه جوړیږي چي دا هم ده روحاني تبدیلی نښه ده. ده کارتون په دې صحنه کي لیدل کیږي چي ده اوباما ده پښو څخه لاندي یوه سکه ده، چي ده برتانوي تاج رسم سوی دی. ددې خبري تائیو کوي چي ده نړی ټول معاشیت همدغه سونیان کنټرولوي.

یا دا چی ټول ګوډاګي ولسمشران ده دوی له لوري سپونسر کیږي. په راتلونکی صحنه کي لیدل کیږي چي سیب پر ۲ برخو باندي ویشل کیږي او له منځه څخه یې ۱ ګل جوړیږي. ده ګل په لیدلو سره اوباما پریشانه سي او آن له بیري خوله سي. ځکه دا ګل ده علم او حقیقت ده خپرېدلو علامه ده. ده کارتون په بله صحنه کي ده امریکایي بیرغ غورځېدل ده امریکا ده سوپر طاقت ختمېدلو خوا ته اشاره ده. ګوا کي امریکا چي ده تروروستانو له خوا څخه تباه سوې ده. دلته ښکاري چي دا ۲ بلډنګونه قصطا تخریبیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې وروسته په ویډیو کې ده دجال ده ظهور جریان ښودل کیږي. په دې صحنه کې دجال راروان دی او په آسمان کی سپوږمی چپه ښکاري. په آسمان کې چپه سپوږمی ده اسلام ده بدنامولو ده علامې په توگه په ویډیو کې ښودل کیږي او نن سبا لیدل کیږي چې سونیانو ده اسلام بدنامولو لپاره خورا ډیري دسیسې په کار اچولي دي.

چې له جملې څخه یې معصر او مشهوره اغا ده خبروژ فتنه ده. داعشان چې ځانونه مسلمانان بولي خو اسلام بدناموي او داعشان مسلسل هڅه کوي چې اسلام یو وحشي او وېروونکی دین معرفي کړي. په ویډیو کې وړاندې یو سمندر تېل ښکاري چې ټول ده متحده ایالاتو پر لور روان دی. چیرته چې ده ازادی مجسمه ده یهودیانو ده ستوري په منځ کې په دې تیلو کې ولاړه ده. په ناگهان ډول آسمان تور گرځي او ده آزادی مجسمه ده ټوټه ټوټه کېدو سره مخ سي. له دې ټول جویان څخه یې هدف دا دی چې وښي چې اسراییل او امریکا ده تروریزم پر خلاف ده جگړې په بهانه ټول مسلمان هیوادونه ددې لپاره اشغال کړل چې تېل ورڅخه غلا کړي.

خو یوه تیوري دا هم ده چې نست پورتنی ته معقوله ده. هغه دا چې پر مجسمه رایله ده آسمان څخه رایله رڼا ده شپږ ستورو په ډول ده چې دا مطلب ورکوي چې پر امریکا ده اسرائیلو احسان دی. دا اسرائیل دي چې امریکا یې ده نړی لومړنی قوت جوړه کړې ده. خو کله چې دا رڼا ده ستوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډول ورکه سي نو هدف دا دی چي اسراپیل به ډېر ژر ده امریکا له سر څخه لاس پورته کړي چي په نتیجه کي به یې امریکا ماته سي. وروسته په بله صحنه کي یو مسلمان ماشوم ته ده لمانځه ده قیام په دود لاسونه نیولي دي. او په هګی کي ده جوړېدو په حال کي دی. خو دجال په یوه تلویزیون کي دننه چي بې شکه پرې دا تثبیتیږي چي مطبوعات ده دجال مهم سنګر دی انتظار کوي.

ترڅو وزیري او ده مطبوعاتو په توسط یې ذهن یرغمل کړي او له درواغو او کذبه څخه یې ورڼک کړي. اوس نو ده دجال ده ظهور جریان ښکاره کیږي. پر کومه کښتی چي دجال ظهور کوي پر هغه باندي ده پخواني شیطاني معبود انوبیس نښه ده. چا ته به چي ده مرګ دای هم ویل کیدی. په دې ویډیو کي دجال حضرت عیسی(ع) ته ده عیسایانو له لوري منسوب سوي شکل باندي ظهور کوي چي سترګي یې پټي دي. دا معنا ورکوي چي دجال به په صالح نوم باندي راځي او خلګ به ګمراه کوي. ده آی پټ ګوټ ۲ نومي دې کارټون کي بالاخره موږ توانیږو چي ده دجال اصلي څهره په وګورو او واضح ښکاري چي بډیره او وریځي یې له پیسو څخه جوړي دي او سترګه یې چوپه ده او په تلویزیون کي ښکاري.

له دې وروسته ده مطبوعاتو او میډیا مایند پروګرام یا دماغ وینځني ده پروګرامونو خوا ته اشاره ده، او لیدل کیږي چي ده بې وسه ماشوم دماغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکل خالي دی خو دجال کوښښ کوي چي ده مطبوعاتو په توسط دي يې نور هم وزپي و تسخير يې کړي او مسلسل يې دماغ له درواغو ور ډک کړي. په راتولې صحنه کي ۳ جنګي الوتکي په هوا کي دي چي ده معصوني مثلث نښي په شکل جوړي سوي دي. پر یوه مسجد باندي حمله کوي. دا مطلب افاده کوي چي اسلام به بالاخره په ښکاره باندي په نښه سي. ددې خوفناک کارټون په بله حصه کي یوه معصومه بورا چي ده دجال پر وجود رڼا ځان ته تشویق کړې ده خو کله چي همدې روښنايي ته ورنژدې سي دجال يې ژوندی وسوځوي. دا مطلب ورکوي چي کوم ساده خلګ چي ده دجال ظاهري ښکلا ته په کتو ور مایل سوي دي هغوی به وسوځي او هیره به سي.

وړاندي لیدل کیږي چي یوه مسلمانه سخته مایوسه مېرمن چي قتل سوی بچی يې په غيږ کي دی نسته ده. دا مطلب ورکوي چي بې ګناه مسلمانان به په ټوله نړی کي قتل عام سي. ده مسلمانانو نسلونه به قتل عام سي. او سخت ډير ظلمونه به ورباندي وسي. ددې مېرمن شاته سره پټه دا معنا چي دا په نهایت غم کي ده. او په لاس کي يې عطر دي چي ده نوموړي پر جنازې باندي يې ده شيندلو لپاره راخيستي دي. ځکه مسلمانان خپلي جنازې خشبويه کوي. او شاته بيا ده آټم بم چاودنه او ښکاري چي دا معنا ورکوي چي په منځني ختيځ کي به بيخي ډيره تباهي رامنځ ته سي او يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خزدکه چي ده ماشوم پرمخ راګرځي فرعوني خزدکه نوميږي دا په مصر کي ده لمر ده خدای کابري نښه وه، چي ده قيامت خداى هم بلل کېده.

دا معنا ورکوي چي دا ماشوم به بيا ده لمر ده خدای يعني دجال له لوري راڅوندی کيږي. ده کارټون په راتلونکې برخه کي افريقايي ماشومه ښودل کيږي چي دماغ يې وينزل سوی دی. ده يوه ماشيني انسان په څېر برخورد کوي. او يو کس ورته ده تحفې په ډول توپک ورکوي چي دې طرف ته يې اشاره ده چي افريقا کي ممکن به کورني جګړې شروع سي او يا به مذهبي جګړې شروع سي چي ده يهوديانو لاس به پکښي وي. په بله صحنه کي يو مزدور کار چي ستېک يې په لاس کي دی او ده کمونيزم نښه ده په يوه ظهري نهر کي غرقيږي. دا معنا ورکوي چي ده جنوبي امريکا کاريګر به ده کمونيزم نظريې پر بنسټ وزپل سي.

ده ويډيو په راتلونکې برخه کي ده ينګ ياګ نومي. دا پخوانی چينايي نښه ده او ددې نښي هم معنا دا ده چي ښه او بد ده يوه قوت ۲ نومونه دي. يعني ښه او بد يو شی دي. او تر څنګ يې يوه انجلی ښکاري چي ده امن توغ رپوي او پر کالو يې ده پړانګ نښه ده. ممکن دا انجلی په چين هيواد کي ده کومي پيښي طرف ته اشاره وي. ددې انجلی پرمخ يوه نښه جوړه سوې ده. دې نښي ته نوکليرريډېشن وارنينګ ساين ويل کيږي. او پر دې علامه باندي ده غلط علامه ده. ښکاري لکه دا انجلی چي ده اټومي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلحو پر خلاف کمپاین کوي او دا مطلب ورکوي چې په نړۍ کې اټومي جګړې سوي دي.

لاکن بیا دغي انجلی ته یو بد شکله سړی چې مرګ دی ورمخامخ کیږي په داسي حال کي چې پر شا یې ده میلې ده دود په توګه روښان اندازونه او غورځي راغورځي. ده هغه له خوا دغي معصومي انجلی ته ویل کیږي چې ته دا نه سې راګرځولای. دا هرڅه ده یوه پلان له لوري ترسره کیږي. او دا چې اوس نو ده مرګ مېله شروع سوې ده ددې په اوریدلو سره دا انجلی معیوصه کیږي او حوصله بایلي. دا مطلب ورکوي چې ده سولي او امن داعیان او فعالان ته به خبرداری ورکول کیږي او تهدیدیږي به.

بیا دجال ښودل کیږي چې پر تندي یې ده احرام مصرف او ده هرڅه لیدونکې سترګه په واضح ډول په نظر راځي او روان وي. او سر یې په سیم خاردار تړلی وي. او پر همداسي فرعوني او دجالي علامو باندي راتاو سوی وي. همداراز یې ده پښو لاندي اور وي او زړه یې هم اور اخیستی وي. دا معنا ورکوي چې دجال نو نور انتظار نسي کولای له پښو لاندي یې اور دی او زړه یې غواړي ظهور وکړي. په کارتون کي یو ځل بیا ده مطلبوعاتو تبلیغاتي تعروضونو یا فکري جګړې چې برېڼ واش یا دما وینځنه هم ورته ویل کیږي ددې په اړه یوه وېروونکې صحنه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ده خالي ذهن او ژبون هلگ هڅه کوي چي پر خپلو پښو ودريږي خو دجال مسلسل او ناآرامه هڅه کوي چي دماغ يې بيا کنترول کړي او پر خپلو پښو درېدو ته يې نه پريږدي. بيا ليدل کيږي چي دجال ده ۷ ډايمنشن څخه ۳ ډايمنشن ته سفر وکړي چي له نوموړي خپل پټ ځای څخه ده ظهور جريان ښيي. دا ده يهوديانو عقيده ده. زموږ لپاره خو هغه يو کاذب دجال دی. ويډيو وړاندي ځي ده هندوانو کالي ديوي ښودل کيږي چاته چي سروه ناش يا محوه کولو ديوي ويل کيږي. ده نساء پر حال چي دوی يې ټانډو بولي ښودل کيږي ممکن ده هندوانو په روانو جريانونو کي چي ده وحشيتوب پر طرف اشاره وي، ممکن هندوان ده مسلمانانو قتل عام ته زور ورکړي چي دې طرف ته هم اشاره ده چي هندوان ممکن ده دجال په امر پر مسلمانانو باندي راز راز ظلمونو شروع کړي. ده کارټون په راتلونکې صحنه کي ده دجال ظهور جريان بيا ښکاره کيږي ددې ځل ده دجال په کښتی کي ماهيان پناه اخلي ده ماهي نښه ده صليب څخه وړاندي ده عيسويانو نښه وه.

ددې برخي ممکن دا مراد وي چي ده دجال ده فتنې لومړنی هدف به عيسايان وي. او دی غواړي چي وښيي چي خلگ ده دجالپه دروغجن روحانيت کي ورداخليږي. وروسته ده تلويزيون دجال خورا سخت وارخطا ښکاري ځکه دی اوس په دې باندي پوه سوی وو چي هغه ماشوم اوس په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ريشتيا او درواغو باندي پوهيږي، نو دجال يې له تسخير څخه مايوس کيږي او تښتي چي يو بل خالي ذهنه ماشوم وموميي او ده هغه پر ذهن باندي کار وکړي. خو دا ماشوم په خپل ژوند کي په لومړي ځل په خپلو پښو باندي دريږي. اوس نو دی ښه پوهيږي چي دجال يو درواغجن او فريب کار دی. مطلب داچي دا ماشوم نو نور ازار دی. وروسته ليدل کيږي چي مرگ اوس هم په نړی کي اتڼ کوي او ميله يې روانه ده او دا هغه مسلمان هلک دی چي بالاخره له مرگ څخه راگرځېدلی دی. په بله صحنه کي دجال ليدل کيږي چي راوځي او سترگي خلاصوي او ليدل کيږي چي سيم خاردار ليري کيږي او شاته کليسا هم ورانيږي.

معنا دا چي ده دجال په ظهور کي به عيسويت ټول ختم سي او عيسويان به ده دجال عبادت شروع کړي. په دې صحنه کي بيا له لمر څخه شغلې ده ځمکي پر لور راغورځي چي يوه يې ده احرام مصر پر سر منبلې او ټوله رانړيږي. معنا دا چي په نړی کي به مذاهب په بشپړ ډول ختم سي ځکه له مصر سره ده مذاهبو ده پيل بيخي ډير تړاوونه سته.

دا معنا ورکوي چي دجال به ده انسانيت ده مطلقي بندگی له بنده ازاد او وه خپل ځان ته به يې پر سجده کولو مجبور کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷: آی پټ ګوټ ۳**

دا کارټون ده مسلمانانو له خوا ده دجال ده پیروانو او غلامانو ده آی پټ ګوټ ۲ کارټون په جواب کي جوړ او نشر سوی دی. ده دجالیانو له خوا خورا ډیر کلونه وړاندي یو داسي کارټون نشر سوی وو چي پکښي ده دجال ده راتګ وړاندي په نړی کي پېښېدونکي او مهمي او څرګندي پیښي آن څو کاله مخکي وړاندي له پېښېدو پکښي انځور سوي وې. همداراز یې په نړی کي ده خورا سترو او غټو پیښو په اړوند کینایوي وضاحتونه وړاندي کړي وه. دا کارټون خورا عامق وو پر ژورو کنایاتو او مبهمو اشارو مشتمل وو. چي په نړی کي یې ده محقیقینو او څارونکو خورا جدی پام ځان ته جلب کړی وو.

خو په دې اخیر کي یو ترک مسلمان ده هغه کارټون په جواب کي هڅه کړې چي ده شنني په منظور دوی ستاسو حظور ته وړاندي کړو. ده فیلم په پیل کي ۲ تنه پر یوه داسي بام له یو بل سره ده جګړې تمسیل کوي چي ده چین ده عمارتونو او ساختماني چارو دودونو ته ورته دی. له دې ممصلینو یو تن یې ده ډونلډ ټرمپ او بل تن یې ده امریکا وسني اولسمشر بایډن په څېر دی. ددې صحنې په کښلو شاید ددوی مطلب دا وي چي ددې جګړې اصلي لامل چین دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او شاید دې لور ته یې هم اشاره وي چي چین به ده نړی ستر قوت وي خو امریکا به خپل ترمنځ مناقشو او جنجالونو کي بوخت وي. وروسته آسمان سور رنګ خپل کړي ګواکي په آسمان کي چاودنه رامنځ ته سوه چي په امریکا کي ده ممکنه سختو پیلیدو لور ته اشاره ده او اوسنی واقعیت دادی چي امریکا په کامل ډول ده پاشل کېدو په درشل کي ده. ده سپین پوستو او تور پوستو او مهاجرو وګړو ترمنځ شدید اختلافات راپنځېدلي دي او دې اور ته چین، روس او نور ده امریکا ضد هیوادونه پکي وهي.

او همدا ډول وړاندویني په ورته نورو کارټونونو کي تر سترګو سوي دي چي هلته خپله دجالي پیروانو جوړ کړي دي او نشر کړي یې دي. بل خوا په همدې صحنه کي ده یوه مثلث عمارت یوه سترګه ښرګندیږي چي شاوخوا ښارنه کوي لکه دا ټول حالات چي ښاري او ګوري یې. په دې توګه ده کارټون لیکوال غواړي دا تأثور ورکړي چي ده دجال پر ټولي نړی نظر دی او ښارنه کوي او دا هرڅه ده دجال خپل پلان دی او په همدې صحنه کي ده مثلث له عمارت څخه ناګهانه یو وایرس راښرګند سي چي ترې هدف یې دادی چي دا وایرس دجالي فتنه ده.

بل خوا دا وایروس ده چین ده اولسمشر شکل لري چي دا مطلب ورکوي چي دا وایرس ده چین له ادرسه خپور سوی دی او دا مطلب هم ورکوي چي دجال به له چین سره په ګډه ده نړی ده غریبولو لپاره لاس په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار سي ترڅو ده ګربندیز لوکډاون په نوم په نړی کي تجارت او راکړي ورکړي سلسله متوقه کړي ترڅو خلګ غریبان سي او دجال ته له ورتلو پرته بله چاره پاته نه وي.

او وړاندي وینو چي دجال پر خپل تخت باندي ناست دی چي شاته یې ده آی اوف هونر ده عزت ده سترګي شکل رسم دی. دا نښه ده دجالي پیروانو یوه خورا پخوانی نښه ده آن دا نښه ده فرعونیانو پر وخت افاده کېدل. بعضي یې بیا آی اوف هوریس یعني ده هوریس خدای سترګه هم بولي چي فرعونیانو به ده لمر خدای ګاڼه. یا دې لور ته یې اشاره ده چي دجال به فرعوني سیاست تعقیب کړي او په نړی کی به فرعوني سیاست رنګونه بې شکه لیدل کیږي.

علاوه له دې یې پر تخت یو مار تاو راتاو لیدل کیږي چي په عام ډول ده شیطان نښه ګڼل کیږي چي دې لور ته اشاره ده چي شیطان ده دجال ملګری دی او لاري چاري ورته ښیي او دا تخت یې هم ده شیطان په مټ جوړ سوی دی. همدا راز ده تخت ترشا ده مثلث غوندي علامه ښکاري چي رڼا تري راوتلې ده. دا مثلث غوندي علامې ده دجال او دجالیت نښې دي. دوی تل ده انسان ده وجود ده اثبات په خاطر له دې نښي څخه استفاده کوي او په همدې صحنه کي لیدل کیږي چي دجال خپل پر وړاندي یو حاضرباش او متوجه فوځ لري چي ده کارټون جوړونکي دې لور ته اشاره ده چي دجال

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره تیاري کړې ده فقط خپل وخت ته منتظر دی او وګړي یې خدمت ته اماده دي.

په راتلونکې صحنه کي خورا یو وحشي، وېرونکی او خطرناکه صحنه راښکاره کیږي. په دې صحنه کي لیدل کیږي چي سپوږمی ترنزي نیولې ده. چي دا معنا ورکوي چي انسانان په ګوناهونو کي مبتلا دي. همداراز لیدل کیږي چي له آسمان څخه پر ځمکه سیارې او ډبري راغورځي چي له آسمان څخه ده عذابونو، ناروغیو، افاتو ده نزول په معنا ده. یعني دا دا معنا چی په راتلونکي وختونو کي به پر دنیا سخت عذابونه پر مختلفو بنیو نازل سي. په صحنه کي وړاندي لیدل کیږي چي طیارې ده ایفل ټاور سره ومښلي او لوړه حصه یې پر ځمکه باندي چون کي ایفل ټاور ده مسلمانانو له هیوادونو ده غلاوو اوسپنو څخه تیار سوی دی او دا ټاور په فرانس کي دی چي ده مسلمانانو سره ده سختي دښمنی سابقه لري. همداراز یې بیخي ډیر واري ده صلیبي جګړو رهبري هم کړې ده او ده سترو فتنو مرکز هم پاته سوی دی، اوس هم په شام، عراق، افغانستان کي په صلیبي جګړو کي مرکزي کردار ترسره کوي او ده صلیبیت له توغه لاندي ده مسلمانانو جبر او ظلم کوي.

دا اسرائیلو ستر حامي دی او تر ټولو لویه دښمني یې له حضرت محمد(ص) سره ده چي هر وخت یې ده هغه (ص) په ګوستاخی خړوبه کوی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ځل په مختلفو بڼو ده نبي کریم(ص) په شان کي ګستاخي کوي. نو په دې توګه په کارټون کي پر ایفل ټاور ده برید ده انځورولو څخه يې ممکن هدف ده فرانس ده شان و شوکت او پخواني برم دبدبې ختمېدل او سقوط وي.

چون کي دا صحنه ده سپټمبر ده ۱۱ بریدونو لور ته هم اشاره ده چي ده صلیبیانو ده نړی مسلمانانو وینه تویولو ته ده جواز دلیدل ونیوی او ده مسلمانانو قتل عام يې پیل کړ. دلته شاید دا معنا ورکوي چي ددې ایفل ټاور په نړولو سره دوی بیا دداسي یوڅه اراده لري. په همدې صحنه کي لیدل کیږي چي یو پنچک ماسک اغوستی دی او ده ماسک اغوستني باوجود راغوځارسي او لکه مړ چي سي. چي ترې دا مفمیږي چي دا کس ده کرونا وایروس له امله مړ سو او دا چي ده کرونا وایروس خورا ناورین رامنځته کړي.

بل خوا ددې کس شاته یو قبرستان په نظر راځي چي شاید په نړی کي ده ناتاره مرګونو لور ته اشاره وي. یا ممکن ده ایلومیناتیانو او عمومي شعار ډیپ پاپولیشن ته اشاره وي. فریمنسن او ایلومیناتیان لنډ دا چي ټول شیطاني و سحیوني طاقتونو په دې تکل دي چي په نړی کي ده انسانانو شمیر راکم کړي. او محدود يې کړي. ځکه دوی له انسانیت څخه شدیده کرکه لري. ده کارټون په وروستی صحنه کي لیدل کیږي چي یوه پیچکاری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښرګنده سي چي کرونا وهلي انسان ته لګول کیږي دا یو واکسین دی. پر دې پیچکارۍ ده شیطان نشه ۳ ګوني ۶ لیکل سوي دي چي دې لور ته اشاره ده چي ده کرونا ضد واکسین ده شیطاني قوتونو له خوا رامنځته سوی دی او سوال خالي نه دی.

او لکه خبر چي یاست دا واکسین ده بیلګیټس ده کمپنی له خوا رامنځ ته سوی دی. پر چاچي مقیقین ده دجال ده پیروان او غلامتوب تور پوري کوي. او حقیقت دادی چي ددې بیلګیټس اکثره کارونه دجالي دي. نوموړی ده نړی ۴ او یو وخت ده نړی ۱ غني شخص دی. پر دې واکسین باندي ده نړی شدید اعترازات موجود دي. علمي قدرونه هم پرې اندیښنې شدیدي کړي دي. په بعضي هیوادونو کی چي یې پر وګړو استعمال کړي دي منفي اثرات هم ښرګند سوي دي. چي ترې به مطبوعاتو کي خورا زیات راپورونه او تحلیلونه موندل کیږي. اوس حکمتونه ده کرونا ضد واکسین جبري ګرځوي او له تحلیلونو او تجزیې ساینس پوهانو مخه هم نیولې ده. ویل کیږی چي دقیق معلومات دادي چي له مبهمو او نامعلومو مادو څخه جوړ سوی دی. وړاندي یو نښېدونکی ده حقیقي انسان او ماشیني انسان په څېر جوړ دی او یو عجیب روبوټ په نظر راځي.

چي ده دجال ده غلامانو یو تسخروونکي فتنې ته اشاره ده. چي ګوا انسانان به ده دجال اطاعت ته دا ډول اماده کوي لکه اوس چي یو ماشین،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمپیوټر ده انسان ده امر مطابق کار کوي او دې لور ته یې اشاره ده چې په راتلونکي کې به دجال انسانان یوډول نه یوډول ده کمپیوټر سره مثلي کړي او کنټرول به یې په لاس کي واخلي. کله چې وغواړي وژلای به یې سي ځای به یې معلوموي. ارادې او جذبات به یې خاري او که وغواړي لکه روبوټ ترې استفاده به کوي. او دا دابنیي چې انسانان به ده نړی له درک څخه عاجز وي، غافل به وي او په فحشاو په کولو سره ده وخت په ضایع کوي. له دې صحنې څخه یو بل اخذ هم ممکن دی هغه دا چې که دقت وسي را روبوټ ده روسیې ولسمشر پوتین ته ډیر ورته دی دا چې نسا کوي یعني ده نړی پر روان جریان خوشحال دی ده سمولو او وچکیلېدو هڅه نه کوي. کله یو روبوټ یو بې جذباته ماشین. په داسی حال کی چې نړی په بد حالت کي ده. خو ده دجالانو ده ارادو اوسنیو فعالیتونو ته په کتو او ده احادیثو له رویه ده آخري زمانې فتنو ته په کتو لومړنی تحلیل دیر معقول او پر ځای بریښي والله اعلم.

په راتلونکې صحنه کي یو ښایسته مرغه ښکاري چې یو ماشوم یې په مشوکه کی نیولی دی او ده ځمکي پر لور راروان دی وروسته ښکاري چې دا ماشوم غټ دی ځوان دی ده نوموړي په امامت کي وړه خو پرهیزگاره ډله راټولوي او بیا وروسته ښکاري چې دجال خورا ناارامه بریښي. ناګهانه له خپل احرام او اوسېدنځای څخه بهر راوځي ترڅو ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام مهدی اخیر زمان پر ضد جګړه وکړي. ده کارټون په وروستنی حصه کي لیدل کیږي چي ۴ روښاوي چي ده مسجد ایا صفیه له سحن څخه تابوت سکینه راوباسي. تابوت سکینه یو خورا معتبر صندوق دی. یهودیان یې له پیړیو پیړیو راهیسي پلټه کي دي. ده روایاتو له مخي په دې تعبوت کی مختلف تبرکات موجود دي. ددې کارټون په راتلونکې حصه کي ښکاري چي امام مهدي اخیرزمان ته دا تابوت په لاس ورغلی او ده توراة اصلي نسخه چي په دې تابوت کي پرته ده هم په لاس ورغلې ده. او ده مطبوعاتو پر مخ بحث ورڅخه کوي او شاته یې پر پروجکټر باندي لیکلي دي چي دا اصلي توراة دی او دادي دلته یې لیکلي دي چي محمد(ص) رسول دی او دا چي ایاتونه یې بلکل ده قرآن کریم ده آیتونو په ډول او ترتیب دي.

وړاندي په دې کارټون کي ښکاري چي مهدي اخیر زمان ده غشي په ذریعه شاهین ښکار وکړي. دا عقاب په غشي لګېدلو له امله لاندي پر ځمکه ده یوه نایټ کلب پر مخ په یوه موجودي تختې راوه غورځي چي پرې دیموکراسي لیکل سوې وي. خو ده شاهین له رالویدو وروسته ده ډیموکراسي لفظ په دیموفریډیم باندي بدل سي. شاهین ده امریکا ملي مرغه دی له دې صحنې هدف دادی چي ده امریکا اهمیت او دبدبه به دیره ژر ختمه سي او به فحشاو کي به راګیره وي او همداراز به ده ډیموکراسی راج هم ختم سي. وروسته په اسمان کي وړاندي ستوري او سپوږمی ښکاره سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي ده اسلامي نظام نماینده ګي کوي او ښیي چي په نړی کي امن دی، سکون دی او عدالت قایم دی.

وروسته ده قرآن کریم ده آل عمران څو آیتونه راڅرګند سي چي پکښي دا قیصه بیان سوې ده کله چي موسی(ع) کوه تور ته تللی وو او وروسته ده خلګو په منځ کي دا خبره عامه سول چي موسی(ع) نور نه راځي نو دوی بیا یو غوایی جوړ کړ او عبادت یې پیل کړ. ددې ویډیو په راتلونکې صحنه کي همدا غوایی ښکاري چي شته یې نړیوال بانک لیکلی وي او جالبه داده چي همدا غوایی په امریکا کي ده چارجینګ بیل په نوم مشهور دی. او چیرته چي دا غوایی موجود دی دا علاقه ده پیسو او مال مرکز ګڼل کیږي چي وال سټریټ نومیږي او دا هغه ځای دی چي ترې په نړی کي ده هر ډول دجالي کارونو لپاره بودیجه تصویب کیږي او ورکول کیږي.

وړاندي په دې کارټون کي ښکاري چي مهدي اخیر زمان ددغه غوایي سر په خپله توره پرې کړي او په همدې صحنه کي ډالر چي ده ټولي نړی ده پیسو ارزښت ورپوري تړلی دی پر ځمکه باندي راتوییږي. لیدل کیږي چي یو افریقایي ماشوم یې له پښو لاندي کوي چي دا معنا ورکوي چي هیڅ ارزښت نه لري آن یو ماشوم یې هم نه راخلي. مګر ترټولو ډیر غربت په افریقا کي موندل کیږي. خو بیا هم دې افریقایي ماشوم ته دا ډالر هیڅ ارزښت نه لري چي ترې دې لور ته اشاره ده چي په راتلونکي وختونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي به ده امریکا اقتصاد شدیده ضربه وخوري، مات به سي او ډالر به ده مسلمانانو په لاس ختم سي.

وړاندي په دې کارټون کي ده مسجد اقصی پر ځای هیکل السلیماني جوړ سوی وي چي دا معنا ورکوي چي یهودیان به مسجد اقصی ونړوي او پر خای به یې هیکل السلیماني جوړ کړي. خو ده مسلمانانو له مقاومت بیا هم نسي خلاصېدلای. او وړاندي په دې کي لیدل کیږي چي ده بیرغ یو لور ده اسرائیلو وي او بل لور یې ده مسلمانانو وي. چي دا معنا ورکوي چي مقاومت به بیا هم موجود وي. یو بل تحلیل دا هم ممکن صادق وي چي ده اسرائیلو سره ده مسجد اقصی په نړولو کي منافق مسلمانان هم ملګري دي. ده همدې صحنې په اخیر کي امام مهدي اخیرزمان ښکاري چي پر یوه تیز رفتار څه باندي په تېز رفتار راوځي چي پرې ده ترکیې بیرغ هم نصب سوی دی. او ددې الوتکي نوم هود هود ایښودل سوی دی. هود هود ده بهادری، عقلمندی او ده وفاداری ده نښې په معنا ده. هود هود ده سلیمان(ع) جاسوس هم وو چي یادونه یې په قرآن کریم کي هم سوې ده. شاید دا تیز رفتاره شی چي مهدي اخیر زمان ورباندي سپور دی ده مسلمانانو ده استخباراتي برلاسی او پرمختګ لور ته اشاره وي. او ده ترکیې دا اوسنی بیرغ ده خلافت په بیرغ باندي بدل سي. چي ممکن دې لور ته یې اشاره وي چي په اخیر وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي به مجاهدین قصتنیه بیا ځلي فتحه کړي او ده خلافت اعلان به وکړي او دا چي ده یوریشلم دا پاکه او مقدسه ځمکه له یهودیانو پاکه او ازاده سي.

وړاندي په یوه صحنه کي لیدل کیږي چي ده امام مهدي کردار ده دجال سترګه په توره راباسي چي دې لور ته یې اشاره ده چي بالاخره دجال ختم سو، فتنې یې ختمي سوې او ده نړی بهبود، ترقي او انسانیت وژغورل سو. وروسته لیدل کیږي چي یوه ډله سپین مرغان پر بیت الله طواف کوي چي ده اسلامي شریعت ده نفاذ مطلب ځیني اخیستل کیږي. دا کارټون ده تورکیې یو ځوان جوړ کړی او نشر کړی یې دی. چي له امله یې ګڼ شمیر یهودیانو شدید غبرګونونه وښودل او دا یې یو تروریستي وېروونکی کار وګاڼه. خو مسلمانانو پیغام ورکړ چي دا امت نه دجال ته نه یې بنده ګانو ته او نه یې شیطانانو ته ده تسلیمېدلو لپاره پیداسوی. دا امت ده الله(ج) بنده ګان دي ده محمد(ص) پیروان دي او ده خپلي عقیدې او ایمان ترټولو کلک مدافعین او ساتونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۸: ځارسترګه / شپنیز دوربینونه**

ده شپې پر مهال لید او ځار کول ده ښکاریانو، ساتونکو، چوکیدارانو او پلټونکو لپاره یوه ستونزمنه چاره وي، که څه هم ده ۱۴ سپوږمی وي. نو ده هر ډول چل لاري ټکنالوجي څخه ډیره مننه چې موږ ته یې له ۱۹۳۰ څخه راپدې خوا ده شپې پر مهال ده لیدلو واک رابخښلی دی. دا چل لاري یا ټکنالوجي څو ډوله دي چې هر یو یې پر خپل خپل ځای باندي کار کوي.

ددغه څو ډوله شپنیو ځارسترګو ترمنځ توپیر څه دی. ده ویتنام ده جګړې پر مهال شپنی ځارسترګي راڅرګندي سوې. او ده هغه څخه راوروسته ډیر ژر په نړی کي ډیري مشهوره سولې. دا ځارسترګي ده شاوخوا رڼا څخه کار اخلي چې انظور یې ده لیدلو وړ سي. په دغه ځارسترګو کي ده رڼا ډیرونکي پیپونه دي چې ده انسان ده سترګو په پرتله رڼا ۱۰۰۰ واره ډیروي. خو اولیک یا جین ۱ شپنی ځارسترګي یوڅو کمزوریاني لري چې انظور یې خپ وي او سم ده پیژندلو وړ هم نه وي.

او ده لیدلو لپاره ډیره ځلا غواړي. بیا په دویم ملیک یا جین ۲ ځارسترګو کي یوڅه بدلون ځکه راغلی چې په پیپو کي ده لا زیاتي رڼا راکشولو آلې ولګېدلې چې تر اولیک ځارسترګو یې لږ انظور ښه وو خو لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم یوڅه ستونزه يې لرله. طبیعي خبره ده چې ده شپنی لید چل لارو کې دریم ملیک یا جین ۳ ځارسترګي هم راووتلې. دریم ملیک ځارسترګي هم ده دویم ملیک ځارسترګو په ډول لاري کاروي خو ددوی انظور خورا ده لوړ کیفیت وي.

دا چې ده دریم ملیک ځارسترګو ده رڼا پایپ رڼا ۱۰۰۰۰ واره ډېروي نو دده انځور تر ټولو روڼ او ده پېژندلو وړ دی چې په داغه خاطر اوس ده امریکا فوځیان دا دریم ملیک ځارسترګي کاروي. که چیري تاسو ده اولیک دوهم ملیک او دریم ملیک ځارسترګي کاروی نو بیا ډیر پام پر دې وکړی چې دا ده رڼا پیپونه يې ده ورځې وه رڼا ته راوه نه باسی چې ده لمر رڼا يې ډیر ژر سوځي او له کار څخه يې غورځوي.

تر دې وروسته بیا بریښنایي ځارسترګي راووتلې چې دا ځارسترګي ده ولیک یا جینریشن په ډول نه دي چې ده لمر رڼا تاوان وررسوي ځکه دوی په خپل ځان کي ده رڼا زیاتوونکي پیپونه نه لري نو بریښنایي ځارسترګي هم ده ورځي کارېدلای سي او هم ده شپې. ده بریښنایي ځارسترګو په کارولو سره تاسو کولای سی چي ده ښکار صحنې هم عکاسي کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیري بریښنایي ځارسترګي ده نژدې کولو او نوم ټکي ده بدلولو وړتیا هم لري. تر دې وروسته بیا ده ګرمی او حرارت چل لاره په کار واچول سوه. چي دا ځارسترګي بیا ده شاوخوا رڼا څخه یا له مصنوعي رڼا څخه ده اخیستلي پر ځای ده ګرمی څخه ده انظور په جوړولو کي کار اخلي. هرڅومره چي یو شی ګرم وي هغومره روښانه ښکاري. ده انسان او یا ده یو حیوان ده بدن ګرمي دومره بسنه ورته کوي چي په یوه میدان کي وپیژندل سي.

په دوی کي ده زوروزو کیمرو یا انځورګرو څخه کار اخیستل سوی دی. چي خورا تکړه، غټوونکې الینځونه هم لري. چي له ځارسترګي سره په ګډه کار کولای سي چي ډیر راڼه انځورونه هم له ځان سره خوندي کړي. څه ډول چي ښیښه نه سي کولای ډیره تودوخه ولیږدوي نو غټوونکي ده ښیښې پر ځای ده بل داسي یو شي څخه جوړ سوي دي چي په بشپړ ډول ګرمي تر خپله ځایه پوري رسوي.

یو بل څه چي جرمنیم نومیږي چي دا پر ځمکه باندي یوڅه پیداکیدونکی شی دی. نو هرڅومره چي یې دا غټوونکی غټیږي نو انځور یې په همهغه کچه روڼوالی پیداکوي. داچي دا جرمنیم لږ پیداکیږي نو ده ګرمی په ځارسترګو کي دغه غټوونکی تر ټولو ارزښتمن شیان دي. بل یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ښکاره کوونکی دی چي هغه څه چي دی یې ویني تاسو ته یې ورښکاره کوي.

دغه ټوله څه چي په ګډه کار کوي نو دوی وه یوه سافټویر ته هم اړتیا لري. ده بیلګي په ډول زموږ او ستاسي ځیرکي غوږیو سافټویرونه چي ځیني انډرایډ دي ځیني اپیل دي او ځیني نور. نو دغه ډول دوی هم خپل چلوونکي سافټویرونه لري چي ټوله څارسترګي ورباندي روښانه ګیږي او تاسي ته هم انځورونه په څو څو ډوله باندي ښیي. ځیني یې له لیري هم کارېدلای سي.

یعني ده وای فای او بلوتوت له لاري او دغه ډول څارسترګي په وریځ، خوپ، دوړو او باران کي هم پوره کار کوي. چي دا څارسترګي هم ده ښکار لپاره دي او هم ده جنګ لپاره. دغه ډول څارسترګي ده ۱۰۰۰۰ ډالر څخه نیولې بیا تر ۳۰۰۰ ډالره پوري ارزښت لري. ده ګرمی څارسترګي ده بریښنایي څارسترګو په ډول هم ده شپې کارول کیږي او هم ده ورځي.

او کولای سي چي شیان نژدې او لیري کړي او هم کولای سي ددغه څارسترګو په مټ انځوریزه یا ویډیو وکړی. داڅارسترګي کولای سي ۵۴۰۰۰ فټه شاوخوا سیمه کي شی په نښه کړي او کولای سي ده ښورېدونکو شیانو ګرمي هم په ګوته کړي. دا څارسترګي ده ژوندیو موجوداتو ده نښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو په موخه کې دیرې چټکې دي. که څه هم په ځنګله کې وي. دلته تاسو کولای سی چې ده ټولو ده کار ډولونه په ژوندی بڼه وګوری. ولیکو والا تاسو ته په زرغون رنګ کې ښکاري او بریښنایي په تور او سپین رنګ باندې ښکاري.

ده ولیکو والا چې ده ولیک یا جنریشن او هرڅومره لوړ ځي هغومره یې ده انځور ښه والی ډیریږي. لکه ده څلورملیک یا پنځم ملیک دا. ده ګرمی والا ده انځور په جوړولو کې له ګرمی څخه کار اخلي چې سپین یې ګرمي او توره یې یخني ښکاري. دوی ده تور او سپین په کارولو سره خورا په زړه پوري انځور جوړوي چې ده شپې له پلوه اړین شیان خورا په اسانی سره په نښه کولای سي. ده یادونې وړ ده چې په عام ډول په افغانستان کې ده دغه څارسترګو یا دربینانو کاروونکې وه شپنیو څارسترګو ته ده سپوږمی دوربین وایي او ده ګرمی څارسترګو ته بیا ده تروزمی یا تاریکې دوربین وایي.

او په یاد ولری چې ده سپوږمی څارسترګي ده پېژندلو لپاره دي او ده تروزمی څارسترګي ده په نښه کولو لپاره دي. که تاسو فکر کړی وي ډیرې داسې څآرګري یا ده څار کیمرې وي چې ده شپې هم کار کوي هغه ده خلګو ده پېژندلو لپاره کارول کیږي او فوځي څارسترګي ډېری ده ګرمی والا وي. چې دغه ډول څارسترګي کولای سي ده یوه نري دیوال وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاته هم يوڅوک په نښه کړي. ځکه دوی يواځي له گرمی څخه کار اخلي له رڼا څخه نه.

که ده شپې له خوا تاسو کار کوی نو دغه ځارسترگي ده ليد لپاره خورا يو په زړه پوري څه دي ځکه نو تاسو ده شپنيو ځارسترگو په ډولونو باندي ځانونه پوه کړی او په دې باندي ځان پوه کړی چي تاسو څه ډول انځوريزي ته اړتيا لری. ځيني بل ډول څرسترگي هم سته چي هغه ترټولو ارزانه دي. چي په فوځي موټرانو کي ده بټيو پر ځای کارول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۹: ټانګ**

**ټانګ څنګه کار کوي؟**

په ځانګړي ډول پر امریکایي ایم ۱ ایبرم، اې ۲ باندي. پر ځنځیر یې پر خولی یې پر څوکی یې په شاکي یې پر ماشین یې چي ټوله ټانګ چلوي.

ایم ۱ ایبرم په ۱۹۸۰ کي راڅرګند سو. دا ټانګ ده ډبلو ابېرنز جونیر چي ده هغه وخت جنرال وو ده هغه ده احترام لپاره دده په نامه ونومول سو چي دی ده ویتنام په جنګ کي قوماندان وو. دی یې ددې لپاره رامنځته کړ چي ویشتل یې سخت دي. ځکه ده دښمن ګولی یې پر کړو بغلونو ښوییږي. چي تر سام لاندي نه سې دننه ډیر خوندي دی.

ده جنګ په وخت کي چلوونکي ډیر وخت پکښي تېروي او هغه هم په بېخوبی. ټانګ ډیر ډولونه لري. اول ایم ۱ بیا ایم ۱ اې ۱ او بیا ایم ۱ اې ۲ جوړ سو. ډیر ډول ډول ټانګونه سته خو په هغو کي چرت مه وهی. دوی په دباندي کي ډیر سره ورته دي خو په دننه کي یې ډیر شیان پرمختللي دي. لکه بغل یې، بریښنایي یې، توپ یې. هر نوی ډول یې ده تخنیکي ډیربښت په پام ډیر درند او کرار دی. په ایم ۱ اې ۲ کي هر هغه څه سته چي په هغه دوه ټانګونو کي سته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایم ۱ اې ۲: ۸ فوټه لوړ دی. ۳۲ فوټه اوږد دی. او ۱۲ فوټه پراخ دی. که پرتله سي تر ۱ سړي جگ دی. دا ده گوره زوی ۶۸ ټنه دی چې ده ۳۵ موټرو سره برابر دی. ده دا دومره تلې سره کولای سي پر ساعت په ۴۲ کیلومتره کي تگ وکړي. تر ۵۰۰ گیلنه پوري تیل ځایوي. که بیا پرتله سي ډیر چلېدونکي تر ۱۶ گېلنه پوري ځایوي. دا ځکه په ۱ گیلن ۰.۶ میله تگ کوي او چلیږي. خو چلېدونکي ۲۵ میله په ۱ گیلن ځي. لگښت یې ډیر خو دورند او ډیر زورور دی.

## ځیني اړیني برخي یې:

ځنځیر یې په هر اړخ کي ۷ اربې. اصلي بدن یې چې ډول ورته وایي. خولی یې چې ځرخي او مرمی او نور پکښې دي. ماشین یې په شا کي دی. په ټانگ کي ۴ نفره وي. ۳ یې په خولی کي او بل په مخ کي. ځنځیر چې چنجی هم ورته وایي دا ده فولادو څخه جوړ دی. چې ربړ یې بدلیږي هم. ده ټانگ په هر اړخ کي ۷ اربې وي. یوه دانه په مخ کي لوړه ده. زور وهونکې یې په شا کي ده. دا گراری لري او یواځې دا په ماشین ځرخي. او نوري ټولې دا یواځې ځرخوي. نوري ایله ځرخي چې مخ ته ولاړ سي. اربې یې په لاستکو پوري زړېدلې غوندي دي. دا ځکه چې ټانگ پر لوکي بوکي ځایو باندي یو لاس تگ وکولای سي. ډېری خندوونه ټانگ ته په تگ کي کومه ستونزه نه پیداکوي. دا نور ټانگونه هم داغسې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ۴ اربو والا چلېدونکي له مځکي سره لږ اړیکه لري. نو ځکه ژر بندېدای سي. او اړ دي چي پر هواره باندي تګ وکړي. خو په بل اړخ کي بیا ټانګ خورا ډیره مځکه تر پښو لاندي کړې وي چي زور یې پر راسي. نو ډېر وخت خنډونه ستونزه نه وي. ټانګ وخت ناوخته غونډیو ته ختلای سي. ډېری وخت په دننه کي سړی ډیر نه سره غورځوي. ټآنګ ده ځنځیر په کاټېدو سره کاټیږي. ده بیلګي په توګه چي راسته ګرځوې راسته ځنځیر یې تر چپه چابک سي. له بده مرغه دغه ځنځیر ډیر وخت ژر ژر ماتیږي خو په ټانګ کي ښه خبره دا ده چي په ټانګ کي زیاتي پرزې او سامان تیار وي بیرته یې جوړ کړې پرمخ ځي.

بل یې بیا ماشین دی. چي په بېخ کي پروت وي. او ده سمېدو لپاره ځیني راختلای هم سي. دا یو اې جي تي ۱۵۰۰ ماشین دی چي په ډول ډول تیلو سره چلیږي. خو ډېر وخت ده جټ الوتکو په تېل چلیږي. ستاسو په موټر کي ماشین سیستم ماشین دی. دا ماشین کښته پورته کیږي چي شیان وڅرخوي. خو په ټانګ کي توربین ماشین پروت دی. دا بیا داسي کار کوي لکه ده الوتکي ماشین. خو دا په برغ تر هغه ټېر ټیټ دی. ددې لپاره چي نژدې سي او خلګ پوه نسي چي ټانګ راغلی.

ماشین خورا ګرمیږي نو دلته یې یخوونکي آلې یخوي. دا ای جي تي ۱۵۰۰ ماشین ده ټانګ تر شا وځي خو هو ډیر مه ورنژدې کېږه توروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. ده ټانګ په شا کي یوه غوړی ده. ددغه ځای څخه ده دننه سرتیرو سره خبري کیږي. او بیا یې ده بغلو شیانو ته اړخ لمون وایي چي اربې او ځنځیر وساتي. دا وه اربو ته ده ښه لاسرسي لپاره خلاصېدلای هم سي. په مخ کي یې بتی دي او لاندي یې ۴ ده کش چنګکان دي. په یاد ولره چي دوی نور شیان هم لري. ښایي نور بیا بل ډول ښکاري.

لوړ ځای ته یې خولی وایي. چي په ۹ ثانیو کي ټوله ګرځېدلای سي. او له خولی سره اصلي توپ منښتی دی. چي خوله یې ۱۲۰ ملي متره ده. معنا ددې ګولی ۱۲۰ ملي متره دي. چي په ۱۲۰ ملي متره سوري کوي توغول کیږي. دا ګولی ده ۳۵۰۰ کیلومتره په ساعت کي تګ کوي. ۲ میله لیري شی ویشتلای سي. خولی توپ همیشه سیده ساتي که څه هم ټانګ هر رقم روان وي. ده ټک په وخت کي نه دریږي. ټانګ چي دی سره څرخېدلای هم سي چي نښان برابر کړي. په بغل کي یې یو کوچنی میل هم سته. او پر سر یې ډیری وخت توپک هم کار کوي. او پر اړخ یې ده دود غورځوونکی هم سته. دا په جنګ کي ده نه لیدل کېدلو لپاره استعمالیږي.

په ټانګ کي دننه ځای نسته. نو چلوونکی مرمی په خولی کي په صندقونو کي ځای پر ځای کوي. پر سر یې دوې ور دي. یو ده قومندان ور دی بل ده ډلکوونکي ور دی. په خولی کي یې له ۴ څخه ۳ نفره دي. دوی ښه سره هوسا دي. ویشتونکی یې په راسته خوا کي دی. قومندان یې سیده

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر شا ناست وي او ډکوونکی یې ده توپ په چپه اړ کي وي. کله چي خولی څرخي دوی ۳ سره ورسره څرخي. لاندي یې یوه سوده ده. دا داسي کار سوی دی کله چي یو څوک پر دوی باندي کیمیاوي څه کار کړي نو دوی ته تاوان نه رسیږي. قوموندان کولای سي چي ده ور په سر کي ۳۶۰ درجې لید کولای سي. ده توپ چي لپاره ده خولی په شا کي گولی په ډیره کچه ځای پر ځای سوي دي. ډکوونکی کولای سي چي راوایې خلي او توپ ته یې ورواچوي. دا باید په جنگ کي ژر ژر وسي. که چیري یوه مرمی پټاو سي نو سر یې کمزوره جوړ سوی دی. او ددې پر ځای چي دننه ورسي لوړ ځي او سرتیري نه خوږوي. چلوونکی یې په مخ کي کښیني. دلته یو ور دی چي چلوونکی پر روخیږي. دلته دومره ځای نسته نو چلوونکی پر چوکی باندي پرېوځي.ټانگ رېز نه لري. دوه لاسي ډلونه یې ده گرځېدو لپاره دي. په پېرسکوپ کي چلوونکی کولای سي چي ۱۲۰ درجې لید وکړي. ډیر وخت چلوونکی ده مخ پر ور خیږي. خو که اړتیا سوه چلوونکی خولی ته خیږي بیا په سوده کي کوچنی ور دی چي چوکی ته ورخلاص دی. یواځي امریکا دا ډول ټانگونه نه کاروي. دا په نورو هیوادونو لکه استرالیا، مصر، کویټ، صعودي عربستان هم خرڅ سوي دي. ایم ۱ اې ۲ ابېرم ټانگ ده ۳۰ کلونو را په دې خوا کاریږي. کله کله به بدلیږي. خو ده امریکا ده جنگونو اصلي ټانگ هم دادی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۰: پاني پت

هغه وخت چي په هندوستان باندي ده مغلو واک وو. هندوستان په وړو وړو سلطنتونو باندي تقسیم سوی وو. مشران به يې راجه گان يا نوابان نومېدل. چي ده قانون له مخي به يې هر کال جزيه ورکول. هندوستان ده سکانو او جتانو سره اعراف ده بغاوت پیل وکړ.

مسلمانان په خپل منځي اختلاف اخته وه ده مرهټیانو مخه هیچا هم نسوای نیولای. بلکي بلعکس به يې مرسته هم ورسره کوله تر څو خپل حریف مسلمان ورباندي راوه پرځوي. مرهټیانو به چي کله ده مسلمانانو پر واکمنیو یرغل وکړ نو به يې قتل عام پیل کړ. مېرمني، بوډاگان او کوچنیان به يې په ډېر ظلم او وحشت شهیدانول. مسلمانان به يې کفري اعمالو او اقوالو ته مجبورول او بوتانو ته به يې پرېِ سجدې کولې.

ده مسجدونو او مقدسو ځایونو گښتاخي به يې کوله. نړل او ده مسلمانانو کورونه به يې چورول. ده مرهټیانو جگړې هیڅ اصول نه درلودل. اکثریت يې غله او ځنگلي وحشیان وو. کله چي ده مرهټیانو له ظلمونو او بغاوتونو او په مسلسل ډول ده مسلمانانو ده ځمکو له غسبولو اوسېدونکي تنگ سول او ده ځان له دفاع څخه هم قاصر وه نو ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندوستان یو منلی او نهایت ستر حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي په افغانستان کي احمدشاه بابا ته ده ماوادسیما خطونه ولیږل.

چي پکښي یې په هندوستان کي ده مسلمانانو حال لیکلی وو. دهلوي رحمه الله په خط کي لیکلي وه چي مرهټیانو ده مسلمانانو پر سټ تبر اېښی دی او اخته دي له مسلمانانو سیمي نیسي. لښکر یې ده لاهور او ملتار او پېښور پوري رسیږي. همداراز یې ده مسلمانانو ده غلامی، ده ژوند، خاطرات او ده قرآن صورة ، وجایب، فرایض او اجرونه یې هم ورپیاد کړل.

نو همهغه وو چي ابدالي خپل فوځ ته امر وکړ چي تیار دي سي. یو ستر لښکر ده هندوستان ده مستدعفو مسلمانانو ده دفاع، ده خپلو مظلومو خویندو، میندو، ورونو او ده ځان ده عزت ده ژغورولو او ده مسلمانانو ده غصب سویو ځمکو ده بیرته اخیستلو لپاره او ده یوې باغي، یاغي او ده یوې ظالمي ډلي ده ځپلو په جهادي انګیزه سمبال په خورا لوړ مرال سره سفر راپیل کړ. کله چي مرهټیانو ده ستر مشر ابدالي په مشری ده افغانانو له دې لښکر او ده هغوی ده مضبوت عظم څخه خبر سول نو دوی هم ده خپلي بقاء لپاره اخیري ځل سره رایوځای سول.

مرهټیان، سیکان او جتان ده ابدالي لښکر پر خلاف اعتلاف سره وکړ او هوډ یې وکړ چي ده ابدالي ده لرښکر مقابله به کوي. کله چي ابدالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده پاني پت ميدان ته راورسېد ده مرهټيانو لښکر هم پوره اماده وو. ده يمنا سيند ده افغانستان غاړي ته ده ابدالي لښکر ۱ مياشت ميشت وو او بلي غاړي ته ده مرهټيانو لښکر ميشت وو. دا جګړه دريمه جګړه وه. چي ابدالي ده خپلو مستدعفو مسلمانانو څخه ده دفاع او ده يوه ظالم قوت ده زپلو په هدف ترسره کړه. دا جګړه ده ابدالي او مرهټيانو ترمنځ په ۱۷۶۱ ميلادي کال کي ده جنوروي ده مياشتي په ۱۴ باندي په پانی پت کي وسوه.

په دې اعتلاف کي روهيله پښتانه، او ددوی مشران نواب نجيب الدولة، حفيظ الملمک او حفيظ رحمت خان ده احمد شاه بابا په پلوی ده خپلو ۴۰۰۰۰ جنګياليو سره ده هغه ملاتړ کاوه. په دغه جګړه کي ده مرهټيو جنګي قومندانان سداشيو، راوباو، ملاباو هولکر، رګوناتراو او بالاجي باجيراو وه. له دوی سره په زرهاوو جتان او سيکان هم ول.

په داسي حال کي چي ده مرهټيانو توپچي يو تن بې ضميره ده خپلو زرهاوو ملګرو سره يوځای رهبري کوله. دواړه طرفونه ده افرادو او اصلحو په برخه کي تقريبا سره برابر ول. ده تکبير په ستره بدرګه جنګ پيل سو. تن په تن جګړه وه. ده ابدالي ده لښکر استشهادي مجاهدينو په خورا ميړانه انغماسي بريدونه ترسره کړل. ده مرهټيانو سفونه يې سره سيري کړل او ده لښکر له زړونو ووتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرهټیانو ۳۰۰ مست فیلان ده جګړې میدان ته راوستلي وه خو مسلمانو غشیو ویشتونکو هغوی ګمراه کړل. سر یې واخیست او پر خپل فوځ ورمست سول. سفونه سفونه هندان یې له پښو لاندي سول او ووژل سول. وینې وبهېدلې، سرونه له تنو جلاکېدل، ده تکبیر هیبتي چغو ده دښمنانو روحونه یې وزېل ده افغاني لښکر په لاس ۵۰۰۰۰ مرهټیانو جسونه ده پاني پت پر میدان باندي پراته وه. بالاخره له دې نهایت خوني او زبردستي جګړې وروسته هندوانو ماته وخوړله. مجاهدینو ته ده هندوانو ټوله توپخانه، ۵۰۰ فیلان، ۵۰۰ اسان او ۲۰۰۰۰۰ غوایان ده غنیمت په توګه په لاس ورغلل. هن062Fوانو داسي ماته وخوړله چي بیا پکښي ده پورته کېدو توان او طاقت نه وو. کله چي ده مسلمانانو برم او عزت اعاده سو. ځمکي ده نهایتو سفاکو، غلو او مشریکینو له وژل کېدو وروسته تصفیه سوې ابدالي بیرته کندهار ته راغلی. خو جګړه ختمه نه سوه. جګړه داده تر ننه پوري روانه ده.

له موږ ممکن هیره وي خو هندوان خپل شکست هیڅکله هم نه هېروي. نه تنها ده پاني پت جګړې بلکي ټولي هغه جګړې چي دوی پکښي له ذلت سره مخامخ سوي دي دوی دا ټولي جګړې او ذلتونه نه هیروي. دوی ته په مراث کي ده خپلو ذلیلو سویو پلرونو څخه افغانانو ته نفرت او ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتقام جذبه پاته ده چي دوی ارام ته نه پرېږدي. هو دوی بدله اخلي او موږ هم باید بعیدار وه اوسو، باید ومنو چي هغوی پیل کړی دی.

هندوانو خپل انتقام ده تاریخ په تحریف پیل کړی دی. دغه یتیمان خپلو شرموونکو ماتو ته توجهات کوي. او خپلو غلو او وحشي هندوانو ته ده انتقام انگیزه ورکوي. او رامست کوي یې چي گوا پر افغانانو ده بریا چانس لري. همداراز تش فکره، تنگ نفسه، په خپل تاریخ ناخبره افغانانو ته پر یاد جهادي او فلاحي اعمالو ته ده پښېماني احساس ورکوي او ده مقاومت له جذبې څخه یې اچوي او ۱۰۰ نور اهداف لري چي خونړي نتایج ورسره تړلي دي. هندوانو ده تاریخ ده تحریف هڅه پیل کړې ده.

ده بالیووډ ده دجالي انډستړی په توسط یې لومړی په پدماوت فیلم کي ده عظیم سپه سالار علاو الدین خلجي ده شخصیت او کارنامو ده تحریف هڅه وکړه. بیا یې ده کیساري نومي مصنوعي فیلم په توسط تاریخي تحریف وړاندي کړ. او اوس یې ده پاني پت په فیلم کي ده احمد شاه بابا ده سپېڅلي شخص او ده نومړي سپېڅلي مشر ده تاریخ ده تحریف هڅه کړې ده. ولوکه دا فیلم مو لا تر اوسه پوري نه دی کتلی خو هندوان وه دغه جنگ ته ده ستر فریب نوم ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالا کي ده پاني پت جگړه خالص ده الله(ج) نصرت وو. او ده ابدالي رحمة الله ه جگړې مقدس اهداف وو. پاني پت معجزه ده. پاني پت مطالعه کړی. پاني پت ده پت جگړه وه چي ده مسلمانانو ده نصرت لپاره تررسه سوه. ده افغانستان ده پراخولو په هدف نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۱: هغه ځایونه چي په ساینسي لحاظ ناممکن دي خو په دې نړۍ کي موجود دي

لکه څنګه چي ټول پوهیږو ده نړۍ عجایب فقط ۷ دي. خو له دې سره سره هم په نړۍ کي ډېرى داسي په زړه پوري ځایونه سته چي ډېر عجیبه ښکاري او فکر کیږي چي ده ځمکي نه بلکي ده بلي سیارې دى. څېړونکي ددغه ځایونو ده جوړېدو ده پېژندني په برخه کي له مشکلاتو سره مخ دي.

۱: جوشېدونکي اوبه ــ امازون

په لومړیو کي فقط دومره پوهېدو چي په امازون سیمه کي یو افسانه وي سیند دى. ده وخت په تېرېدو سره دا سیند کشف او په جوشېدونکي سیند باندي ونومول سو. ددې سیند ده حرارت درجه په ۱۰۰ کي ۹۳ ته رسیږي چي په دې سره هر ژوندى موجود وه دې سیند ته ورکښته کیږي وژل کیږي. خو هغه خلګ چي په دغه سیمه کي ژوند کوي په دې باور دي چي دا یو ډېر عظیم سیند دى او ډېر قوت لري. په داسي حال کي چي ځیني علماء داغسي ځاى له موجودیت څخه انکار کړى دى او دا یې ناممکنه بللې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندریس روز ده جیولوجي په برخه کي عالم دی چي ده ځمکي ده حرارت په برخه کي یې دوکتوره اخیستې ده. نوموړي دغه سیمي ته سفر وکړ او په خپله یې ددې سیند له موجودیت اقرار وکړ.

۲: ده موفیل غار ــ رومانیا

ده لومړي ځل لپاره ده موفیل غار په ۱۹۸۶ کي کشف سو. او اوس دغه سوري ته داخیلېدل منعه دي. ده ځانګړي اجازې پرته وه دغه ځای ته ننوتل منعه دي. په دې ځای کي عجیبه او نا اشنا حیوانات پکښې ژوند کوي په یوه بنده سیمه کي ده زرګونو کلونو راهیسي محاسره دی. په دې ځای کي په ۱۰۰٪ کي ۱۰٪ اکسیجن اټکل سوی دی. او هغه هوا چي موږ یې تنفس کوو ده اکسیجن اندازه یې په ۱۰۰٪ کي ۲۰٪ ده. څېړنو ثابته کړې ده چي په دې سوري کي ۴۸ ډوله ژوندي موجودات ژوند کوي. چي ۳۳ ډوله یې داسي ژوندي موجودات دي چي په بل ځای کي نه پیداکیږي. همدارنګه ثابته سوې ده چي زیاتره دا ژوندي موجودات سترګي نه لري. هو لکه څرنګه چي دغه ځای تیاره دی نو داسي هوا لري چي په وسیله یې دغه ژوندي موجودات ځان ته لاره پیداکوي.

۳: دنید سیند ــ انګلستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په انګلستان کې یو عجیب او غریب سیند موقعیت لري چې ده نید سیند په نوم یادیږي. هلته ده اوبو یوه عجیبه سرچینه ده چې شکل یې یوې لویې جمجمې ته ورته ده. هر هغه شی چې ورسره لمس سي ژوندی موجود وي او که نور اجسام وي او یا که مړه موجودات وي ده یو څه وخت وروسته یې په جامد جسم باندې بدلوي. نو ځکه خلګ له دې ځایه څخه خپل ځانونه لیرې ساتي او نه ورنژدې کیږي.

۴: د کاراشای بحیره ــ روسیه

دغه ځای ده نړۍ تر ټولو ککړ ځای بلل سوی دی. په شرقي اسیا کې ده اورال غرونه په جنوبي برخه کې موقعیت لري. هوا یې دومره ککړه ده چې که چیرې ده یوه ساعت لپاره یې هوا تنفس کړای سي نو ده وژل کېدو امکان سته. ده وژنکو وړانګو یوه برخه په هوا کې ککړه ده. دغه ککړتیا ده شوروي اتحاد له لورې رامنځ ته سوې ده. ویل کیږي چې ده شوروي اتحاد له لورې دلته ده آټومي بټیو یو پټ مرکز فعاله سوی وو. همدارنګه ده اټومي بټیو پاته شوني او کیمیاوي مواد په دې بحیره کې اچول کېدل چې په دې سره په بحیره کې ده خطر کچې خپرېدونکي وړاندې خپرې سوې دي. چې ده خطر کچه یې دومره لوړه ده چې ده ۱ ساعت لپاره ددې بحیرې تر څنګ پاته کېدل امکان نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵: زرغونه بحیره ـــ اتریش

ده اتریش په تریګوس ښار کې یو په زړه پورې او په ورته وخت کې یو عجیبه بحیره ده. ځکه چې ده کال په اوږدو کې ده غیر معمولي پیښو شاهد وي. له امله یې ددې بحیرې ژوروالی تر ۱۰ متره پورې رسیږي او په ژمي کې دغه ژوروالی ۲ متره ته رسیږي. په ژمي کې ده اوبو له کمښت سره دغه بحیره په یو پارک او شین باغ باندې بدلیږي چې خلګ او سیلانیان ورته ده تفریح لپاره راځي. ددې راز دادی چې ددې بحیرې شاوخوا په واورینو غرونه راګرځېدلې دي. چې په ژمي کې واورې وي او ده بحیرې ژوروالی تر ۲ متره پورې وي. په اوړي کې بیا ورو ورو دا واورې اوبه کیږي او دغه بحیره ټول پارک له اوبو څخه ډکوي چې ژوروالہ یې تر ۱۲ متره پورې رسیږي. په دې وخت کې زیاتره سیلانیان ورځي او ددغه ښکلي ځای څخه لیدنه کوي. ده اوبو لاندې شنې ونې پټې ښکارې نو ځکه له سر څخه دغه بحیره شنه او زرغونه ښکاري او په همدې نوم سره هم نومول سوې ده. هغه چوکی چې خلګ به پرې کښېناستل او هغه لارې چې سیلانیان به پرې تلل او راتلل اوس ده اوبو لاندې یو عجیب منظر جوړوي چې سیلانیان ورته راجزبیږي.

۶: ده کاسورزو دوه ونې ـــ ایټالیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ایټالیا کي دوه وني یوه عجیبه پیښه ده چي ده کاسورزو ده ونو په نامه باندي یادیږي. لاندي ونه ده توت ده چي په دې ونه کي دننه ده الوبالو ونه ولاړه ده. ده الوبالو ونه ده توت ده وني په ساقه کی وده کوي او عجیبه لا داده چي دواړي وني له یو بل څخه غذایي مواد نه اخلي. په سیمه کي خلګ په دې باندي نه پوهیږي چي دغه پیښه څنګه رامنځته سوې ده. خو په دې باور دي چي کوم الوتونکي ده الوبالو تخم یا دانه ده توت ده وني پر سر پرېښي ده. ده دوه ونو لویېدل که څه هم ډیر کم ترسره کیږي خو طبیعي پیښه ده. خو عجیبه خبره یې داده چي ده الوبالو ونه په خپل طبیعي حجم سره لویه سوې ده او عادي ډول سره دغه سي دوه یوځای سوي وني ټیټ قد او حجم لري چي په دې پیښه کي دغه سي نه دي سوي.

۷: د ګاواایجن اورغورځونکی غر ـ اندونیزیا

ده حرارت ده لوړي درجې ده ټاکلو په وخت کي به تاسي ده سره اور او یا ده سپین اور په اړه باندي اورېدلي وي. په اندونیزیا کي ده یوه اورغورځونکی غر په اور کي په تدریجي ډول سره ده رنګونو بدلون راځي. چي ده رنګونو دا بدلون آسماني رنګ ته رسیږي. ده شپې له لوري ده اور دا ډېري آسماني رنګ ته اوړي. ددې لامل دادی چي ده خالصو سلفرو زیاته اندازه سلفر لري. دغه کیمیاوي ماده ده سوزېدو بر مهال اور ته آسماني رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوي. ددې غرونو په لمنو کې ده حرارت درجه ۱۳۹ آټکل سوې ده. چې په سم او ظهري موادو راچاپیره سوې دي.

۸: دلینسویس مارنیانسیس ملي پارک ــ برازیل

دغه پارک او باغ چې ۱۱۵۰ کیلومتره مربع مساحت لري هر کال ورته ده نړی څخه ده ۶۰۰۰۰ زیات سیلانیان ورځي. ده هلال په شکل په سپین رنګه ډنډونو باندي ددغه باغ او یا ملي پارک ښکلا نوره هم زیاته کړې ده. په لومړي نظر کي ده صحرا په څیر ښکاري خو په حقیقت کي صحرا نه ده. ده شګو ډیری په اصل کي لویي ډبري دي چې ده شګو لاندي یې یو لویه غونډی تشکیله کړې ده. که ددغه غونډیو لوړوالی تر ۴۰ مترو پوري رسیږي. حوزونه یې خوږې اوبه لري او ده کال په پیل کي په منظمه توګه ده باران تابع دي. ځیني وختونه دا ډنډونه له یو او بل سره مښلي چې ده حوزونو شکلونه جوړوي. سیلانیان کولای سي چې ده لامبو وهلو په ځانګړو وسائلو سره ده اوبو لاندي ده ماهیانو ننداره وکړي.

۹: ده وینو ابشار ــ انترکتیکا

ده وینو دا ابشار په ۱۹۱۱ میلادي کال کي ده جیولوجي یو عالم توماس بیریفس له لوري کشف سو. دغه افشار ده تایلور منجمد سیند چې ده انترکتیکا په شرقي برخه کي موقعیت لري واقع دی. په لومړی کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



 څېړونکو ددې ابشار ده سور رنگ لامل سره الیاق ښودل. خو وروستیو ښودونکو دا فرضیه رد کړه او دا یې ثابته کړه چې دې ابشار ته ده ویني رنگ ده اوسپني اوکسایډ ورکوي چې په دغه سیمه کي ډیر زیات پیداکیږي. ددې اوبو سرچینه ده بحر په نسبت ۳ چنده زیاته مالگه لري چې له همدې امله امکان نه لري چې دغه اوبه دې منجمیدي سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۲: ۲۰ عجیب معلومات**

- تاسو به فکر کوی چې پیسې له کاغذ څخه جوړیږي مگر داسې نه ده. پیسې له مالوچو څخه جوړیږي.
- په چین کې د هغه کسانو شمېر چې په انگلیسي ژبه خبرې کوي، له هغو کسانو څخه زیات دي چې د امریکا په متحده ایالتونو کې اوسیږي.
- د بورا پتنگ د ذائقې حس د هغې په دواړو پښو کې دی.
- حلزون کولای سي چې تر ۳ کلونو لپاره بیده سي.
- د بتکې غږ یوازینی اواز دی چې انعکاس نه کوي او تر اوسه هیڅوک نه پوهیږي چې ولې؟
- امکان لري چې غوا یې پلگۍ یا زینې ته وخیژي خو نا ممکنه ده چې ترې کښته سي.
- لویې بېړۍ او کښتی له گرمو اوبو په یخو اوبو کې تیز حرکت کوي.
- که چیرې فیل په داسې حال کې مړ شي چې ولاړوي نو له مرگ څخه وروسته مخکې له دې چې پر ځمکه وغورځیږي د څو ساعتونو لپاره په خپل ځای همداسې ولاړ پاته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د زمري ږغ امکان لري چي تر ۸ کیلومتره مسافې پوري واورېدل سي.
- په فرعوني مصر کي یوه اونی له لسو ورځو جوړېدله.
- په مېږیانو کي یوه ډله چي د ویني تویونکو مېږیانو په نامه یادیږي، ځکه دغه میږیان د خپلو شاوخوا میږیانو په کورونو حملې کوي او ده هغوی ملکې وژني، خوراکي مواد او ذخیره یې لوټوي. وروسته بیا پاتي میږیان له ځانه سوه وړي او مجبوره کوي یې تر څو له دوی سره د غلامانو په څیر کار وکړي.
- په ۱۸۹۴ میلادي کال کي د امریکې په متحده ایالتونو کي فقط ۴ موټره ول.
- هر کال په ټوله نړی کي له ۲۵۰۰ زیات چپلاسي کسان د ترافیکي پیښو له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي.
- شاهین کولای سي چي د ۱۰۰ کلونو لپاره ژوند وکړي، عجیبه خو داده چي مړه کیږي نه بلکي د مرض له امله خپل ځان وژني.
- آس کولای سي چي له خوراک پرته له ۲۰ ورځو څخه زیات ژوندی پاته سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د نباتاتو ځیني ډولونه وژونکي زهر شیندي ترڅو د شاوخوا نباتاتو څخه ځان خلاص کړي. ددې لپاره چې ټول غذایي مواد او اوبه خپل ځان ته راکش کړي او خپل احتیاجات پوره کړي.
- که چیري لړم د اورپه منځ کي راګیر شي نو خپل ځان چیچي او مړ کیږي.
- پوهانو ته څرګنده شوې ده چې میږیان کله په سهار کي له خوبه راکښیني نو د انسانانو غوندي خوله خلاصوي او خپله ستوماني وباسي.
- که د مار سر قطع کړل سي نو تر ۳۰ دقیقو کولای سي چي انسان وچیچي.
- هر کله چي فیل خپه سي نو ژاړي، او که چیري یې په غوږ کي مېږی ننوزي نو مړ کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۳: امازون ځنګل**

امازون ده نړی په کچه یو بې ساری لوی ځنګل دی چي بیلابیل ډول ژوندي موجودات پکښي ژوند کوي. ده نړی دغه لوی ځنګل په ۹ امریکایي هیوادونو کي (برازیل، کلمبیا، پیرو، بولیویا، ونزویلا، سورینام، امریکایي فرانسه او اسلوادور) کي پروت دی. امازون باراني ځنګل ده ځمکي پر مخ یو ښکلي ځای دی چي ده نړی زیات شمیر خلګ یې ده سیاحت یا څېړنو په موخه ده لیدلو هیله لري.

خو په دې ځنګل کي دومره خطرناک ژوندي موجودات هم سته چي کولای سي تاسو له منځه یوسي. ده امازون ځنګل ده نړی په ۹ هیوادونو کي غځېدلی دی چي ترټولو یې ډیر په برازیل هیواد کي راځي. ده امازون ځنګل سیمه ۵۵۰۰۰۰۰ کیلومتره مربع پراخوالی لري. په داسي حال کي چي ده افغانستان ټوله سیمه ۶۵۲۰۰۰ کیلومتره مربع ده. امازون یوه یوناني کلمه ده چي معنا یې نومیالی ښځه ده. ده ځمکي ۲۰٪ اکسیجن ده امازون له ځنګل، وني او بوټي تولیدوي. ده نړی ۴۰٪ ځاروي، مرغان او حشرات ده امازون په ځنګل کي موندل کیږي. دلته له ۴۰۰ څخه ډیر ځنګلي قبایل میشت دي چي نفوس یې ۴۵۰۰۰۰۰ زیات او کم اټکل سوی دی. دغه خلګ ده ۲۱ پېړی په دې پرمختللي دور کي هم په همغه ځنګلي سټایلونو کي ژوند تېروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ځنګل ځیني سیمي دومره ګڼې دي چي لمر ورته نسي رسېدلای. او په ورځ کي هم ده شپې غوندي تیاره شتون لري. امازون ځنګل کي داسي حشرات هم شتون لري چي په وار چیچلو سره یو انسان په څو ثانیو کي له منځه وړلای سي. ده امازون سیند ده اوبو له لحاضه په نړی کي تر ټولو لوی سیند دی چي ۷۰۰۰ کیلومتره اوږدوالی لري. ده امازون په سیند کي ۳۰۰۰۰ ډوله کبان ژوند کوي. ده امازون سیند په شاوخوا ۶۰٪ حیوانات اوس هم بې نومه پاته دي. دلته دومره لوی او قوي غڼې دي چي مرغی او ورته الوتونکي هم نیسي او وژني یې.

دلته شاوخوا ۳۰۰۰۰ ډوله میوې موندل کیږي. بیولوژستانو تر دې دمه یواځي ددې ځنګل ۱۰٪ برخي ته رسېدلي دي. که تاسو ده امازون په ځنګل کي کښته سی او که سخت باران شروع سي نو ده لوړو او ګڼو ونو له امله تقریبا ۱۲ دقیقو پوري ده باران اوبه تاسو ته نسي رسېدلای.

**د امازون ۱۰ ډارونکي ژوندي موجودات**

- زرغون اناکونډا: دا خطرناک حیوان تر ۹ مترو پوري اوږدوالی لري. وزن یې ۲۳۰ کیلوګرامه دی. اناکوندا ده نړی تر ټولو ستر مار دی چي ده امازون په ځنګلونو کي ژوند کوي. دامار تر بل هر مار زیات سرعت لري او په اوبو کي هم اسانی سره حرکت کوي. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مار یواځې هغه وخت پر انسانانو باندي حمله کوي کله چي زیات وېرږي سي. که تاسو په امازون کې له دې مار سره مخ سی خو ښه به وي چي ځیني وتښتېږی.

- پېرانا: زیاتره انسانان په دې نظر دي چي پېرانا یو تعجبي کعب دی مګر داسي نه ده. دا زیاتره وخت ده اوبو په منځ کي ښکار کوي. خو کله چي له ډیري لوږي سره مخ سي نو بیا پر نژدې انسانانو باندي حمله کوي. او که تاسو بې باکي وکړی او نژدې ورسی نو هرومرو به مو تر خپلو قوي غاښونو تېر کړي. پېرانا نسي کولای چي مکمل انسان وخوري خو دومره کولای سي چي ده بدن یوه برخه ستاسو څخه بیله کړي.
- غوماشه: دا ده نورو حیواناتو په منځ کي تر ټولو کوچني وژونکي موجودات دي. دوی یو انسان نه خوري خو په چیچلو سره به مو په داسي ناروغی اخته کړي لکه ملاریا چي بیله واکسین څخه به مو ووژني.
- برازیلیِ غنی: برازیلیِ غنی ۸ ډولونه لري چي دا ټول یې یوازي په امازون ځنګل کي موندل سوي دي. غنی په نوره نړی کي هم بیلابیل خطرناک او ډاروونکي ډولونه لري چي ده قوي ظهرو په لرلو سره کولای سي چي انسان ده مرګ تر پولي پوري ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- امازونی زر پښې: امازونی زرپښې تر ۳۰ سانتي مترو پوري اوږدوالی لري او په شکلي لحاظ ډاروونکی دی. دا موجود مږکان، کوچنی سمسارې، مرغان او حشرات خوري. که څه هم ده انسان ده خوړلو توان نه لري خو دومره هرومرو کولای سي چي انسان وچیچي. ده زرپښې چیچل ده تبي، لړزې او سخت درد لامل کیږي.
- مږی: تاسو به حتما میږیان لیدلي وي. خو که تاسو فکر کوی چي مږیان بې ضرره ژوندي موجودات دي نو هرومرو ده امازون ده خطرناکو میږیانو څخه ناخبر یاست. ځکه په امازون کي ظهري میږیان هم سته. ده هغوی چیچل نه یواځي داچي سخت درد لري بلکي کولای سي ده بدن ځیني برخي مو هم ده لنډ وخت لپاره در فلج کړي.
- تور کېمن: تورکېمن ده ځمکي پر سر تر ټوله لویه او ډاروونکې تلسا ده. دا موجودات ده کبانو ده خوړلو ته لومړیتوب ورکوي. که چیري له ډیري لوږي سره مخ سي نو بیا ده لویو حیواناتو غارونو ته ځي او خوري یې.
- د مرگ حشرات: دا حشره په طبیعت کي په زیاته اندازه موندل کیږي چي کولای سي ده خپلي خولې په وسیله ظهر وشیندي. که

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه هم ددې حشرې ظهر ده انسان ده مرګ لامل نه کیږي خو سخت یې ناروغه کوي.

- برقي مارماهی: برقي مارماهی ده ځمکي پر سر تر ټولو جالت ژوندی موجود دی چې کولای سي په زیاته اندازه برق تولید کړي. دا حیوان ددې وړتیا لري چې ډیره قوي انرژي تولید کړي چې ددې انرژی په مټ لومړی انسان او یا بل حیوان فلج کوي او بیا یې خوري.
- زهر لرونکې چونګښه: زهر لرونکې چونګښه ډیر ښایسته شکل په بیلابیلو رنګونو کي پیداکیږي. شکلا بې خطره معلومیږي خو دغه چونګښه ده خپلو پوستکي په وسیله داسي خطرناک مواد تولیدوي چې په یو ځل لاس وروړلو سره کولای سي چې تاسو په بیلابیلو خطرناکو مرضیو باندي اخته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۳: موږ له ځمکي او ده ځمکي له مدار څخه دباندي وه فضایي آلو ته څنگه اطلاعات لیږو؟

که تاسي غواړی چي ده ځمکي جغرافیه یي تمځای یا جیوزستیشنري مدار ته چي له ځمکي څخه ۳۶۰۰۰ کیلومتره مربع لوړدی سفینه ولیږی، سفینه اول په راډیویي څپو کي ایار سي. راډیویي څپي یو ډول مقناطیسي شعاوي دي چي په ثایه کي ده ۳ سوه زره کیلومتره په سرعت حرکت لري، یعني ده نور په سرعت. کله چي فضایي پوښکی له سگنل سره ایاره سي دلته ده ځمکي انتنونه دغه سیگنلونه وه سپوږمکی ته لیږي.

دلته ځمکي انتنونه خورا اساس وي. ده سپوږمکی څخه وه ځمکي ته ده اطلاعاتو لیږونکی او اخیستونکی دوه ترونونه لري.

په ۱۹۶۲ میلادي کال کي ناسا ده ټولو ماموریتونو لپاره نوی سیستم طرحه کی. دا په دې خاطر وو چي اپولو فضایي ماموریتونو له ځمکي څخه لیري ځي بلکي په دې خاطر چي ناسا په سفینه کي ده لیږونکو ستورو سره اړیکه ولري او تر څنگ یې ده اپولو ماموریت نشرات په تلویزیونونو کي ژوندي ترسره کړي. دوی ددې لپاره ده یونیفایډ باټ سیستم په لاره واچوی. تر څو هر ډول مخابراتي کنترول رغیږي او تلویزیوني جلا جلا فریکونسي په یوه ترکیب کي ده یوه انتن له لاري ولیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناسا پر ځمکه ده سینګ لایټ نیوونکو کاسو پر مټ وکولای سول چې په همدې سیستم له لارې ده فضایي بېړی سره اړیکه وسي. ده همدې سیستم په مرسته کنترولوونکو مامؤرینو به په فضایي بېړی کې ده ناستو ستورمزلو سره دوامداره اړیکه وه. مګر کله چې فضایي بېړی له ځمکې څخه ده سپوږمی شاته نعامه سوه هغه ګړی یې بیا ده ۴۰ دقیقو لپاره ده ستورمزلو سره ټولې اړیکې وشکېدلې. پر دغه مهال ستورمزلو ده فضایي بېړی ده تیزواله ماشینونه ولګول ترڅو بیرته ده سپوږمی هغه مخ ته رانښکاره سي چې له ځمکې څخه ښکاري.

مامؤریت کنترولوونکي پوهېدله چې په ۴۰ دقیقې وروسته اپولو ۸ فضایي بېړی اړیکه ترلاسه کړي. یقیني چې

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**